د افغانستان ملي تحریک
2013 ۱۳۹۲
AFGHAN NATIONAL MOVEMENT

# د (منوهر سنګ بتره) فرهنګي څېره



Ketabton.com

مینا مسعوده نیکیار

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل پوهنتون
ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پښتو څانګه

# د منوهر سنګه بتره فرهنګي څېره

(د ماسترۍ تیزس)

لیکواله:
مینا مسعوده «نېکیار»

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د منوهرسنګه بتره فرهنګي څېړه

لیکـــوال: مینامسعوده«نېکیار»

خپروندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۷۳)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک

**سرلیک** **مخونه**


پیلیزه.......... ا
لنډیز.......... ج
سریزه.......... ۱
دموضوع موخه یاهدف دموضوع.......... ۲
شالید.......... ۴
دڅېړنې میتود.......... ۵
۱- په معاصرهند کې پښتو
په علمي موسسو کې.......... ۹
په مطبوعاتو کې.......... ۱۰
۱-۲-۱ نن پرون.......... ۱۱
۱-۲-۲ ژوند.......... ۱۲
۱-۲-۳ دنیا.......... ۱۳
۱-۲-۴ هندلید.......... ۱۴
۱-۳ په داستاني آثارو کې دپښتو.......... ۱۴
۱-۳-۱مرزا صاحبان.......... ۱۵
۱-۳-۲هیررانجها.......... ۱۵
۱-۳-۳ابدي دوستان.......... ۱۲
۱-۳-۴راجه هریش چندر.......... ۱۲
۱-۳-۵دپاندوشهزاده ګان.......... ۱۲
۱-۳-۶پدمنی.......... ۱۲
۱-۳-۷طلس‌می ښار.......... ۱۲
۱-۳-۸اووه خویندي.......... ۱۲
۱-۳-۹ څلورزرین اقوال.......... ۱۲
۱-۳-۱۰کنچن مالا.......... ۱۷
۱-۳-۱۱دیوي پوتلي.......... ۱۷
۱-۳-۱۲دهوالا مارو.......... ۱۷
۱-۳-۱۳بلنګامه کتها.......... ۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-۳-۱۴باچا برهم دق اوزرینه هوسۍ............................................ ۱۷
۱-۳-۱۵ماهي، چونګانښ اوکیکرۍ............................................ ۱۷
۱-۳-۱۶وزیراوکم عقل............................................ ۱۷
۱-۳-۱۷دناوې روپۍ............................................ ۱۷
۱-۳-۱۸دصندل امبیل............................................ ۱۷
۱-۳-۱۹شهزاده بهرام اوګل اندامه............................................ ۱۸
۱-۳-۲۰جمال خان اوزیب النسا............................................ ۱۸
۱-۳-۲۱کابلي والا............................................ ۲۴
۱-۳-۲۲منتر............................................ ۲۴
۱-۳-۲۳ نجومي............................................ ۲۴

۲- دمنوهرسنګهـ بتره ژوند

۲-۱زوکړه اوزده کړه............................................ ۲۵
۲-۲هڅې اودندې............................................ ۲۷
۲-۳آثار............................................ ۲۹
۲-۴چاپ شوي آثار............................................ ۳۰
۲-۴-۱خان عبدالصمد خان اڅکزی............................................ ۳۱
۲-۴-۲د خان عبدالصمد خان اڅکزي د وفات د خلو ښتم............................................ ۴۱
۲-۴-۳خان عبدالصمد خان اڅکزی............................................ ۴۹
۲-۴-۴پیرروښان بایزید انصاري............................................ ۵۵
۲-۴-۵د امیر کروړ ویاړنه............................................ ۷۳
۲-۴-۶داباسین سپېدې............................................ ۷۴
۲-۴-۷په افغانستان کې کرکیچ............................................ ۷۴
۲-۴-۸بزکشي............................................ ۷۴
۲-۴-۹له کافرستان څخه تر نورستان پورې............................................ ۷۴
۲-۴-۱۰یو یتیم ماشوم............................................ ۷۵
۲-۴-۱۱تش............................................ ۷۵
۲-۵ناچاپ آثار............................................ ۷۵
۲-۵-۱دافغانستان په بیا ودانۍ کې د هند برخه............................................ ۷۶
۲-۵-۲په افغانستان باندې د ترهګرو توره وریځ............................................ ۷۶
۲-۵-۳دهندیانو اوپښتنو ترمنځ ټینګه دوستي............................................ ۷۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲-۵-۴په سویلي اسیا کې د افغانستان نوعیت.........................۸۱
۲-۵-۵د هند په علمي ادارو کې د پښتو تصنیفونه.........................۸۲
۲-۵-۶د آل انډیا راډیو د پښتو پروګرامونو د شپیتو کلونو سفر........۹۱
۲-۵-۷د هند او افغانستان مناسبات د تاریخ په منځنۍ دوره کې.۹۵
۲-۵-۸د هندیانو او د پښتنو ترمنځ یووالی.................................۹۹
۲-۵-۹د فخر افغان خان عبدالغفار خان په یاد او ویاړ کې..............۱۰۳
۲-۵-۱۰د هند د فن او کلتور په ارتقا کې د پښتنو برخه...................۱۱۴
۲-۵-۱۱د هند او افغانستان ترمنځ لرغوني مناسبات........................۱۱۹
۲-۵-۱۲د شلمې پېړۍ د پښتو عظیم شاعر بنا غلی ګل پاچا الفت.۱۲۴
۲-۵-۱۳د هند د آزادۍ په جد او جهد کې د پښتنو او د بلوڅانو برخه.۱۲۸
۲-۵-۱۴د ډېرې مودې راهیسې افغانستان د منځنۍ...........................۱۳۳
۲-۵-۱۵د هند او افغانستان ترمنځ او سني مناسبات........................۱۴۴
۲-۵-۱۶د هند او افغانستان مناسبات په ی وویشمه پېړۍ کې........۱۴۸
۲-۵-۱۷په هند کې د افغانانو تاریخي آثار...................................۱۵۲

۳- دلیکوال کلتوري څېره

۳-۱ بتره په افغانستان کې..................................................۱۵۸
۳-۲بتره په آل انډیا راډیو کې..............................................۱۶۰
۳-۳بتره، پښتو او پښتنانه...................................................۱۶۱
پایله.............................................................................۱۶۴
مناقشه..........................................................................۱۶۶
نتیجه ګیري...................................................................۱۶۹
وړاندیزونه......................................................................۱۷۱
اخځلیکونه......................................................................۱۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سريزه

د «منوهر سنګهـ بتره فرهنګي څېړه» تر نامه لاندې دا اثر، زما د ماسترۍ تيزس دی. دا موضوع په دريو (۳) څپرکو کې بشپړه شوې ده.

ددې اثر په لومړي سرکې پيليزه ده، چې په کې ددې اثر د ليکلو ټول جريان ليکل شوی دی او له هغو کسانو څخه چې ددې اثر په ليکلو کې يې مرسته راسره کړې ده منته ترې شوې ده. وروسته بيالنډيزدی په دې کې راغلي دي، چې دا کتاب په څه ډول شروع شوا وکومې موضوعګانې په کې ذکردي. په همدې ترتيب بيا لړليک راځي، چې د ټولې موضوع سرليکونه په کې ذکر شوي دي.

بيا سريزه ده او سريزې څخه وروسته دموضوع موخه يا هدف دی. چې په کې ددې تيزس هدف، ارزښت او ګټه څه ده، ښودل شوې ده. بل عنوان دموضوع شاليد دی په دې کې هغه کتابونه معرفي شوي دي، چې همدې اثرکې ګټه ترې اخېستل شوې ده.

له دې وروسته دڅېړنې ميتوددی.په دې عنوان کې راغلي دي، چې ددې اثرپه څېړنه کې له کوم ميتود څخه کاراخېستل شوی دی.

بيا لومړی څپرکی پيلېږي، چې سرليک يې (په معاصر هند کې پښتو) دی. په دې څپرکي کې راغلي دي، چې په هند کې په معاصره دوره کې پښتو ادبياتوڅومره پراختيا موندلې، په کوم مقام کې وواو څه بدلونونه په کې پېښېدل.

همدارنګه ددې دورې د پړاوونو يادآوري هم په کې شوې ده. همدا څپرکی درې برخې لري. لومړی برخه يې دېپارتمنتونه دي. په دې کې راغلي دي، چې د هند په کومو پوهنتونونو کې پښتو شته او څه ډول يې پرمختګ کړی دی.

بله موضوع يې مطبوعات دي. په دې کې راغلي دي، چې پښتو په رسنيو، آثارو او مطبوعاتو کې څه ډول ده؟ شته او کنه؟

دريېمه برخه يې آثار دي، په دې کې راغلي دي، چې دمعاصرې دورې په آثارو کې ايا پښتو موجوده وه او کنه ؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه دې څخـه وروسـتـه دويـم څپرکـی راځـي (دمنوهرسنګهـ بتـره ژوند )پـه دې څپرکي کې د بتـره ټول ژوند ذکر شوی، چې نومـوړی چېرتـه زیږیـدلی دی ؟څه کارونه او دندې يې کړي دي. آثار يې کوم دي چاپي آثار يې څومره دي او ناچاپ آثار يې څومره دي او ټول په کې ذکرشوي دي.

آخري څپرکی یعنې دریم څپرکی چې سرلیک يې (د لیکوال کلتوري خبره )ده اودرې برخې لري .یوه برخه يې بتره په افغانستان کې په دې څپرکي کې بيا راغلې دي، چې بتـره پـه افغانسـتان کـې څـه کـړي دي اوبلـه برخـه يـې بتـره پـه آل انـډیا راډیوکې .په دې کې ذکرشوي دي ،چې بتره پـه آل انډیا راډیـو کـې کـومې دنـدې ترسره کړي دي .بله يې وروستی برخه ده یعنې بتره ،پښتو اوپښتـانه او پـه دې کـې مهمه خبره داده ،چې پښتو او پښتون تـه يې څه خدمتونـه کـړي دي اوافغانسـتان لپاره يې کومې دندې ترسره کړي دي ،چې دا ټول موضوعات په بشپړه توګه په دې تیـزس کـې ذکـر شـوي او پـه وروسـتـی برخـه کـې پـایلـه ،مناقشـه،نتیجه ګیـري ،وړاندیزونه او مأخذونه راځي اوله همدې سره دا اثرپای ته رسیږي.

**دموضوع موخه یا هد ف**:

لـه ګاونـډي هېوادهندوستان سره دپښتنو اوافغانسـتان اړیکـې ډېرلوغـونی تـاریخ لري.لـه څوپیړیوراهیسـې پښـتـانه دځینوسیاسـي ،تـاریخي او ټـولنیزو مسـایلوله امله لـه خپـل ټـاټوبي افغانسـتان اوپښتونسـتان څخـه کوچیدلي دي اودهندوستان په بېلابېلو سیموکې مېشت شوي دي.

همدارنګـه لـه هندوسـتان څخـه هـم زیـاتره هندوسـتانیان افغانسـتان او پښتونسـتان تـه راغلـي اوهمدلتـه میشـت شـوي دي .پـه دې کوچېـدلي خلکـو اوګډوالو کې هم عادي خلک شته اوهم لیکوالان، شاعران، سیاستوال، باسواده اوبیسواده.خوپه دې خلکوکې زیاتره داسې خلک دي ،چې یا يې خپله مورنۍ ژبـه پښتوده اویا يې زده کړې ده.دې دواړوډلوپه دې ژبه یعنې پښـتوباندې آثـارلیکلي دي.نوځکـه ددې دواړوهېوادونـو اړیکـې نـه جلاکېـدونکي دي.ځکـه پـه دواړوکـې پښتانه موجوددي اوترنن ورځې پـورې دې همـدې ژبـې پراختیاپـه انداوسوچ کـې دي .پرتـه لـه ژبـې څخـه پـه نوروبرخـو کې لکـه: ټولنیز ،تاریخي، سیاسـي اوادبـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخوکې سره ورته والی لري ،نوله همدې کبله ددې مشترکوځانګړنوله امله نشي کولی، چې سره جلا اوسي.

دهندوستان له نیمې وچې لـه ویـش څخـه وروسـته بیـا هـم د ځېړونکـو او لیکوالانـو هڅــې روانــې دي، چــې یومثــال یــې هندوســتان کــې دآل انــډیا راډیو دپښــتوځانګې نشـرات دي، چې هندوسـتاني پښـتانه اوس هـم پـه همـدې هڅوکې دي، چې پښتوژبې ته وده په کې ورکړي.

نودې همدې خبروپربنسټ بایدټول پښـتانه پـه دې پـوه شـي ،چې پښـتانه کـه پـه هندوسـتان کـې دي اوکـه پـه افغانسـتان کـې څـومره کـاريې پښـتوژبې تـه کـړی دی اوڅومره آثاريې په پښتوژبه لیکلي دي. نودهمدې خبروپه ارزښت اواهمیت داده دااثر، چې « دمنوهرسنګهـ بتره فرهنګي څېره »ترنامه لاندې لیکل شوی دی مکمل شواوداهم هغه هندوستانی دی، چې پښتوژبه یې زده کړې اوزده کـړه یـې وربانـدې کړې ده اوهمدې ژبې لپاره یې کارهم کړی.

نوددې اثر موخه اواهمیت دادی، چې پرته له افغانسـتان څخـه پـه نـوره نـړۍ کـې هم داسې کسان او پوهان شته چې پښتو ژبې ته یې کـار کـړی دی، آثـار یـې لیکلـي او جوړ کړي دي.

زماددې اثردلیکلویوازینی هدف داو ،چې دا شـخص ( منـوهر سنګهـ بتـره ) چـې یو سیاسي،فرهنګي، ادبي او کلتـوري شخصـیت دی او ددې لارې یـې پښـتو ژبـې او ادبیـاتو تـه ډېـر څـه کـړي او کلـه مـې چـې دده آثـار، مقـالې او لیکنـې ولیـدې اوولوسـتې نـو زمـا لیوالېتـا لا پسـې زیاتـه شـوه ،نـو ومـې غوښـتل چـې دغـه لـوړ شخصیت او پوه حتماً نورو ته هم وروپېژنم. تر څو له ده آثارو نه نور هم ګټه واخلي نو اصلي موخه ددې اثر داده، چې پرته له افغانانو څخه د نـورو ملکونـو پوهـان هـم شته، چې له پښتوژبې سره مینه لري او خدمت یـې ورتـه کـړی دی او پـه دې ژبـه یـې آثارلیکلي دي اوژباړې یې کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دموضوع شالید**:

په هندوستان کې دپښتوژبې اوادبیاتوډېرآثاراوکتابونه موجوددي.همدارنګه نورې ډېرې رسالې اومقالې هم دپښتوژبې دودې اوپراختیا لپاره لیکل شوي دي.

په هندوستان کې ډېرلیکوالان ،څېړونکي اوادیبان موجوددي ،چې پښتوژبې لپاره یې کارکړی دی.خوڅرنګه چې زموږداتیزس دمنوهرسنګهـ بتره په ژونداودندوباندې لیکل شوی دی نوموږباید هغه آثارراجمع کړو ،چې په بتره باندې اویا دهغې په اړه یې یوڅه لیکلي وي رااخلو.نواوس دلته هغه آثارمعرفي کوو ،چې دبتره په اړه معلومات راپه ګوته کوي:

**۱ – په هند کې دپښتوژبې اوادبیاتودایجاداوودې پړاوونه**:

دااثرښاغلي استاد سرمحقق زلمي هېوادمل دسرمحققۍ علمي رتبې ته دترفیع په موخه پر۱۳۶۹ل کال په ۲۲۰ مخونوکې لیکلی اودلومړي ځل لپاره پر۱۳۷۰ل کال کې چاپ شوی دی.خولومړی چاپ یې ټول سوځیدلی اوپر۱۳۷۳ل کال ددویم ځل لپاره په ۵۰۰ ټوکوکې دلاهورپه شرکت پرنټنګ پریس کې چاپ شوی دی.په دې اثرکې نسبت نوروآثاروته دمنوهرسنګهـ بتره دژوند ،ادبي اوژورنالیستي کارونواودنورولیکنوپه برخه کې ډېرمهم معلومات شته،چې ددې اثر دلیکلوپرمهال ډېره ګټه ترې اخېستل شوې.(۱۹:۲۰۵-۲۰۷)

**۲ – په خارج کې پښتوڅېړونکي**:

دااثرښاغلي خدای بښلي عبدالرحیم «رحیم»په ۱۳۵۳ل کال کې په ۱۰۰مخونوکې لیکلی دی.دااکتاب دبایزیدروښان دسمینارپه مناسبت دمحمد شیرین (سنګري)په مهتممی په زرو ټوکوکې دپښتوټولنې له خوا چاپ شوی دی .دااکتاب دمحمدصدیق روهي دپښتوټولنې ریس په سریزه پیل شوی اوپه دې اثرکې دنړۍ هغولیکوالانواوپوهانوبیوګرافی راغلې دي ،چې پښتواوبهرنیوژبوته یې کارکړی دی.

همدارنګه په دې اثرکې دمنوهرسنګهـ بتره ژوندلیک هم په دوومخونوکې راغلی دی اودده ژوند اوزده کړه یې په کې بیان کړې ده،چې ما په دې اثرکې ګټه ترې اخېستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲۶:۱۲-۶۵)

**۳ – داباسین سپېدې**(The dawn over Abasin) :

دا دښاغلي سليمان لايق هغه اثر دی، چې ښاغلي منوهرسنګهـ بتره له خوا ژباړل شوی دی.

دا اثرچې ليکوال يې سليمان لايق او مهتمم يې نعمت الله اندړدی ،په ۱۳۶۲ ل کال کې په ۵۰۰۰ ټوکوکې ددولتي مطبعې له خوا چاپ شوی دی.دا کتاب چې يو هنري اوادبي کتاب دی ۱۲۷مخه لري او ټول په کې په پښتوژبه نثرونه ليکل شوي او دا کتاب دښاغلي بترا له خوا دلومړي ځل لپاره په ۲۰۱۱ زکال کې په کارول باغ نوي ډيلي کې چاپ شوی دی ،چې په آثاروکې مې هم يادونه کړې ده.(۱۹)

**۴- منوهرسنګهـ بتره**:

دا دښاغلي زړور هغه مقاله ده، چې دکابل مجلې په ۱۳۵۲ ل کال په دويمه ګڼه کې چاپ شوې ده.دا مقاله موږته دا ښيي ،چې بتره له افغانانوسره اوله پښتوليکوالانوسره ځومره مينه اوليوالتيا لري.که څه هم دايوه ښکاره خبره ده، چې بتره له افغانانوسره ډېره مينه لري.(۱۳:۶۹-۷۰ )

په دې پورتنيوآثاروکې يوازينی اثرچې په دې تيزس کې ډېرکارترې اخېستل شوی دی دښاغلي هېوادمل صيب (په هندکې دپښتوژبې اوادبياتودايجاداوودې پړاوونه) کتاب دی ،چې په دې اثرکې ډېره ګټه ترې اخېستل شوې ده اودااثريوازينی کتاب دی، چې دبتره په اړه يې پوره اوسم معلومات ورکړي دي.

ددې تيزس دبشپړولولپاره ماله څېړنې دکمپوزيت له ميتودڅخه مې ډېره استفاده کړې ده، ځکه ما په خپله له بتره سره ټيلفوني اودايمېل له طريقه ورسره اړيکه ټينګه کړې ده ،له هندوستان څخه مې دده له کوره اوآل انډيا راډيوڅخه مې دده آثارراغوښتي دي اوخپل اثرمې وربانـدې بشپړ کړی دی.دا آثارمې دښاغلي استاد هېوادمل اورفيع الله نيازي په مرسته لاسته راوړي دي.

**دڅېړنې ميتود** :

په دې اثرکې په عام ډول له کمپوزيت ميتودڅخه کاراخېستل شوی دی اومعلومات داړتيا اوپيښولـه مخې په کې وړاندې شوي دي.نودهمدې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراساس ددې اثریا تیزس دبشپړولولپاره له دوه ډوله څېړنو څخه کاراخیستل شوی دی، کتابتوني اوساحوي.

کتابتوني څېړنه کې له منابعو او مأخذونو څخه ګټه اخیستل شوې ده اوساحوي برخه کې له مخامخ خبرو، مرکو او تیلفوني خبرو څخه کاراخیستل شوی دی.یعنې دکره کتنې اصول په کې مراعات شوي دي.

موضوعات دتیزس دنیولیک په اساس څېړل شوي اوبرابرشوي دي.ځینې ځایونه په خپله بڼه نه دي پاتې شوي.یعنې دژبې په لحاظ لاس په کې وهل شوی دی.

همدارنګه موضوعات په اوسني لیکدود راساً پیل شوي دي.هیڅ ډول مقدمواواضافي خبروته ځای نه دی ورکړل شوی .ددې تیزس دلیکلو پرمهال په خپله هېواد مل اورفیع الله نیازي ډېره مرسته راسره کړې ده، چې نه هېرېدونکي ده اوزه ډېره زیاته مننه ور څخه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-  په معاصر هند کې پښتو

په تاریخ کې د پاچاهانو په بېلا بېلو دورو کې ډېر افغانان او پښتانه هندوستان او د نړۍ نورو هېوادونو ته کډه شوي دي او د مهاجرت ژوند یې پېل کړی دی.

دې کډوالو ډېر څه (کلتوري، ټولنیز، سیاسي او اقتصادي) شتمنۍ له ځان سره وړي دي یا یې پرېښي دي او یا یې له ځان سره په هماغه او یا له بدلون سره بېرته راوړي دي.

« هغه پښتانه چې د پېړیو په اوږدو کې هندوستان ته تللي دي، نو دوی خپله ژبه هم له ځان سره وړې ده او تل یې له خپلې کورنۍ، عزیزانو او خپلو نورو هندوستاني پښتنو ورونو سره په پښتو خبرې کولې. په دغه تللو پښتنو کې ځوک شاعران او لیکوالان وو او ځینو له ځان سره پښتو اشعار او آثار هم پاتې کړې دي.

په هندوستان کې یو زمان پښتنو او پښتو داسې مقام هم درلود، چې پښتو ویل به دربار ته د قرب یوه وسیله ګڼل کېده. په هندوستان کې د ځینو تېرو شوو پښتنو پاچاهانو له خولو ځینې پښتو خبرې تاریخونو ثبت کړي دي، چې دا اسناد په خپله په دې دلالت کوي، چې دوی په خپلو منځو کې پښتو ویله او په پښتو پوهېدل.

په هند کې تېر شوي پښتانه پاچاهان نه یوازې دا چې په پښتو پوهېدل، پښتو یې ویله، بلکې پښتو پرې ګرانه هم وه. اما له دې سره سره هم د هندوستاني پښتنو اخلافو خپله ژبه ونه ساتله او هند ته زیاترو تللیو پښتنو په دریېیم، څلورم پښت کې پښتو له لاسه ورکړې ده». (۱۹: ۴۱-۴۳)

بالاخره نن ورځ را ورسیدله، چې پښتو بالکل هېره شوه. حتی خپل دود او کلتور یې هم له لاسه ورکړ او هماغه د هندوستان په ژبه، دود او دستور باندې ژوند کوي او ځانونه هندوستانیان بولي.

اوس راځو اصلي موضوع ته چې د پښتو ادبیاتو معاصره دوره په هند کې له کوم وخته پېلېږي او کوم پرمختګونه په کې شوي دي او پښتنو ته یې څه ګټه رسېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

« د هند په ځمکو کې د مېشتو پښتنو د معاصرو پښتو ادبیاتو دوره په داسې وخت کې پیل کېږي، چې د بریتانوي استعمار سلطه په ګرده هندوستان خوره او حتی له هندوستان سره پراته مجاور ولسونه هم ددې استعمار له ګزند او آلام څخه محفوظ نه وو پاتې شوي.

دروه او بلوچستان په شمول په ګرده هندوستان کې د هند د آزادۍ او استعمار د سلطې د خاتمې لپاره منظم سیاسي تحریکونه شروع شوي وو او د هندوستان د آزادۍ لپاره مبارزه په زور او شور کې روانه وه.

د هند په بېلا بېلو برخو او مهمو ښارونو کې چاپ او طباعت د خپل پراختیا او پرمختیا لومړني پړاوونه تېر کړي او مخ په بره روان وو.

د هند په بېلا بېلو ژبو کتابونه او آثار چاپ شوي وو او هم د هند په مهمو ښارونو کې د ورځپاڼو، جریدو او مجلو د چاپ بازار تود و او په هند کې د مېشتو زیاترو اولسونو په ژبو اخبارونه او مجلې جاري شوې وې. له دې سره سره په انګریزي او پارسي ژبو کې هم د هند په ځینو ښارونو کې اخبارونه او مجلې چاپیدلې او د غرب ادبیاتو او نویو غربي ادبي ژانرونو هم د هند د اولسونو پر ادبیاتو خپل خاص اثرات څرګند کړي وو او د غربي ادبیاتو په پیروی د هند د اولسونو په ادبیاتو کې هم نوي تجربې شوي وې او یا کیدلې. تر دغو نویو او د هغه وخت په تناسب پرمختللیو شرایطو لاندې د هند په ځمکو کې د پښتو ادبیاتو د ایجاد او ودې دربیمه دوره شروع شوه.

د هندوستان پښتنو فرهنګي فعالیتونه، کله چې د تېرو دورو په ځینو خاصو زماني مقاطعو کې د افغانستان او روه له ادبي جریانونو سره مربوط وو. دغه رنګه ارتباطات موږ په معاصره دوره کې هم وینو.

په زیاته له روه او بلوچستان سره دغه ارتباطات له څو جهتونو زیات وو او هغه هم په دې دلیل چې د روه سیمې انګریزانو په زور د افغانستان له پیکره بېلې کړې وې او په بریتانوي هند پورې یې تړلې وې او تر یوه واحد سیاسي، اجتماعي نظم لاندې د هندوستان په څېر په روه هم د انګریزي راج حکمراني جاري وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهند په ځمکو کې چې مونږ د پښتو د معاصرو ادبیاتو او پښتو آثارو مطالعه کوو ، اړیو ، چې دغه معاصره دوره د خپلو خصوصیاتو له پلوه په دوو پړاوونو کې مطالعه کوو.

لومړی پړاو یې تر آزادۍ د مخې پړاو دی، چې په دې پړاو کې پښتو ادبیات او پښتو ژبه په دې ځمکه کې خپل خاص موقف لري او پښتو آثار او پښتو ادبیات په کې د یو لړ ځانګړو شرایطو تر اغېز لاندې ایجادېږي او وده کوي.

دویم پړاو یې د هند د نیمې وچې تر وېش او آزادۍ وروسته پیل کېږي او تر نن ورځې پورې دوام کوي. دا دویم پړاو او د نویو او ځینو تازه شرایطو تر اغېز لاندې خپل انکشافي سیر طی کوي».(۱۹:۵۰۲-۵۰۸ )

مونږ په معاصره دوره کې په هند کې پښتو ته یو نظر واچولو او د ځانګړتیاوو له مخې مو هم یو څه پرې بحث وکړ، نو اوس راځو نورو څانګو او ګورو، چې په علمي موسسو او رسنیو کې په دې معاصره دوره کې پښتو څه ډول وده او کوم پرمختګونه یې کړي دي.

## ۱-۱- په علمي موسسو کې:

د نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله نن ورځ په هندوستان کې پښتو ژبې ته ډېره پاملرنه کیږي او ددې ترڅنګ چې د عامو خلکو ترمنځ یو څه شته په تحصیلي ادارو کې هم پښتو ژبه تدریسیږي.

« د هند له مشهورو پوهنتونو نو څخه یو پوهنتون د هند په مرکز دیلي کې د جواهرلال نهرو پوهنتون دی. ددې پوهنتون د ژبو د سکول د افریقایي او اسیایي ژبو په مرکز کې (Rre Degree Courses) په لړ کې پښتو هم شامله ده. دا کورس یو کلن دی او په کال کې دوه سمستره تدریس کېږي، په دواړو سمسترونو کې د پښتو دزده کړې ضروري مسایل تدریس کوي .

دا کورس په ۱۹۷۳ز کال کې پیل شوی، ښوونکي ورته له کابل نه لېږل کېږي ترکومه ځایه چې لیدل شوي دا کورس عملي فایده ډېره نه لري» .(۱۹:۲۱۸ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څرنګه چې پورته راوړل شوي دي، چې د پښتوژبې دزده کړې کورس یو کلن دی ،لیکن اوس مهال دا کورس دزلمي هېواد مل په وینا په ۲۰۱۵ کال کې درې کلن شو.یعنې دلیسانس په دوره باندې تبدیل شو.

### ۱-۲- په مطبوعاتو کې :

لکه څرنګه چې په هند کې په علمي ځایونو ( پوهنتونونو ) کې پښتو مروجه ده، په همدې ډول په مطبوعاتو او رسنیو کې هم پښتو ژبې ته ځای ورکړل شو او پښتنو له دې لارې څخه پښتو ژبې ته یې کار کاوه نو په دې ډول (لومړی ځل د ۱۹۳۹زکال د اکتوبر د میاشتې په لومړۍ نېټه دهندوستان په راډیویي خپرونو کې پښتو ته هم ځای ورکړل شو او د آل انډیا له راډیو ( دیلي ) نه پښتو پروګرام پېل شو.

د آل انډیا راډیو دیلي په خارجي خپرونو کې پښتو ته ځای ورکول ؛د دویم جهاني جنګ د مسایلو او پېښود نشر پر موضوعاتو اړه لري او انګریزانو دا کار د خپلې جنګي او سیاسي پروپاګندې په منظور شروع کړی و.

که دوی دا پروګرام د خپلو پروپاګنډونو لپاره شروع هم کړ، خو ګټه یې پښتو ژبې ته دا شوه، چې پښتو ته د هند په خاوره کې د جمعي مفاهمې د الکتریکي وسایلو له لیارې د نشر او اشاعت زمینه مساعده شوه.

دهند دراډیو پښتو څانګې له ۱۹۳۹نه تر ۱۹۴۷زکال پورې د بریتانوي هند د حکومت په دوران کې فعالیت درلود.

دآل انډیا راډیو دیلي په خپرونو کې پښتو ته د برخې ورکول په دویم جهاني جنګ نه په را زیږیدلو حالاتو اړه لري. دغسې په دیلي کې د پښتو مجلو نشر مساله هم ددغه جنګ له وقایعو سره اړه پیدا کوي.

ددغو ملي مبارزو اثرات له یوې خوا اودویم نړیوال جنګ مسایل له بلې خوا. د بریتانوي هند حکومت اړ کړ، چې په ډیلي کې د یونایټډ پبلیشنز په نامه یوه اداره جوړه کړي. له دې ادارې څخه انګریزانو په عربي، پارسي، پښتو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګلیسي، روسي او فرانسوي ژبو د ځینو موقوته او غیر موقوته خپرونو نشر ته ملا وتړله.

له دې ادارې څخه خپریدونکو مطبوعاتو په افغانستان، ایران، سرحدي علاقو او اسلامي ممالکو کې د انګریز په ګټه پروپاګنډې اهداف تعقیبول.

له دې ادارې له خوا چې کومې مهالنۍ خپریدې، د هغو نشرات داسې عیاربدل، چې پروپاګنډې او تبلیغي مطالب به د نورو ذوقي، معلوماتي، ادبي، تاریخي او ژبنیو مطالبو او مسایلو په ترځ کې راوړل کېدل او لوستونکو به ضرور د نورو مطالبو تر څنګه پروپاګنډې مطالب هم لوستل.

دیونایټید پبلکیشنز نوې ادارې د تاسیس له ورځې ان د هند د نیمې وچې د وېش او آزادۍ تر مهاله پورې په پښتو ژبه ځینې تبلیغي او معلوماتي کوچني وسایل او ورسره درې (۳) پښتو مجلې خپرې کړې دي، چې لاندې به توضیح کړی شي.

۱-۲-۱- **نن پرون** :

دا یوه مصوره پنځلس ورځنۍ مجله وه، چې په لویه قطع کې له رنګینې پښتی سره د متحده مطبوعاتو د ادارې له خوا په زاړه دیلي کې په دوه دیرشو مخونو کې چاپېده. د دې مجلې په ځینو ګڼو کې به عکسونه دومره ډېر وو، چې بې نمرې به ورسره چاپېدل. دا مجله لومړی پنځلس ورځنۍ وه، بیا میاشتنۍ شوه.

د دې مجلې مسؤول مدیر میر رحمن غازي و او دریم کاله یې نګران اروا ښاد مولانا عبدالقادر و. د نن پرون پښتو مجلې د ۱۹۴۱ز کال د مې د میاشتې په ۵ (پنځمه) نېټه په خپرونو پیل وکړ او لومړۍ ګڼه یې همدا وخت له چاپه راووته.

دې مجلې سرمقالې، سیاسي تبصرې، رسمي وېناوې او نور پروپاګنډي مطالب نشرول. د دغو پروپاګنډي مطالبو تر څنګه د نن پرون د مجلې په ګڼو کې اجتماعي مقالې، شعرونه، د پښتو مشاهیرو معرفي، د پښتونخوا د سیمو معرفي، د پښتو ژبني مسایل، لنډې کیسې او ډرامې نشریدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دویم کال په څلورم مه ګڼه کې د قطب الدین بختیار کاکي معرفي، د همدې کال په اتمه ګڼه کې د میرویس نیکه په اړه مقاله، د همدې کال په ۱۲شپاړسمه ګڼه کې د افغان شیر شاه سوري په اړه مقاله د مشاهرو د پېژندنې د لړۍ عمده او مهمې مقالې دي.

د پښتو رسم الخط په باب اقتراح چې د مولانا عبدالقادر د یوې مقالې نه پېل شوې ده، د نن پرون په ډېرو ګڼو کې یې نشر دوام کړی دی.

ډېرو پښتنو لیکوالانو برخه په کې اخیستې ده او د پښتو رسم الخط په اړه یې خپل نظریات څرګند کړي دي.

د نن پرون د مجلې بشپړ ریکارډونه د پښتو خپرونې دانشمند مؤلف نه دي پیدا کړي. نو څکه سړی په دقیق ډول نشي ویلای، چې دا مجله کله بنده شوې ده؟ د ارواښاد مولانا عبدالقادر د یوې لیکنې له مخې سړی ویلای شي، چې دنن پرون مجله د دویم جهاني جنګ په وخت کې چاپېده او د نوموړي مولانا (د فکر یون) په مجموعه کې چې له نن پرون څخه د مولانا کومې مقالې اقتباس شوې دي، وروستۍ مقالې یې د ۱۹۴۴ز کال د سپتمبر د ګڼې دي. په همدې د فکر یون کې د څلورم نشراتي کال لومړنۍ سرمقاله هم اخیستل شوې ده.

له دغو مضامینو سړی اټکل کوي، چې مجلې به څلورم نشراتي کال یا بشپړ کړی وي او یا نه وي بشپړ کړی؟ او همدا مهال بنده شوې ده.

## ۱-۲-۲- ژوند :

په ډیلي کې د خپرېدونکو پښتو مجلو په لړ کې دویمه فرهنګي او معلوماتي مجله د (ژوند) په نامه خپره شوې ده. د دې مجلې لومړۍ ګڼه د ۱۹۴۵ز کال د مارچ په میاشت کې د یونایټیډ پبلکیشنز نومي ادارې له خوا نشر شوه. د مخونو شمېر یې د ۲۰-۲۲ په حدودو کې و.

د دې مجلې مسؤول مدیر نصر الله جان او مرستیال مدیر یې عبدالرووف خان سواتي و.

دا مجله هره میاشت یو ځل په ډیلي کې چاپېده او په بریتانوي هند کې ویشل کېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند د لومړي کال بشپړې ۱۲ ګڼې يې نشر شوي دي او د دويم کال د مې د مياشتې ګڼه يې نشر ده او بيا بېرته بنده شوې ده.

د ژوند د مجلې د ۱۹۴۶ز کال د مې د مياشتې د ګڼې يا د دې مجلې وروستۍ ګڼې په پښتۍ کې موږ لاندې خبرتيا لولو: «ژوند په مارچ سنه ۱۹۴۵ز کې جاري شوې وه او له هغه وخت راهيسې په اسانه پښتو ژبه کې په مزيدار طرز ښه ښه مضمونونه او معلومات پېش کړل. اوس څه واقعات داسې را پېښ شو، چې موږه د دې رسالې په بندولو مجبور کړو، دا يې اخري شماره ده.

له لوړه بيا نه ښکاري، چې د ژوند مجله ټوله پنځلس ګڼې نشر شوې ده او په خپلو دغو پنځلسو ګڼو کې يې د تبليغاتي مطالبو او سرمقالو تر څنګه په بېلا بېلو ګڼو کې شعرونه، لنډۍ، کيسې، ډرامې، فيچرونه، معلوماتي مطالب، د خوراکي شيانو د پخلي خبرې، بوختوونکي مطالب، لکه: طنزونه، ټوکې، شعرونه، اړونه، ټوکې او نور خپاره کړيدي، د هندوستان د اجتماعي مسايلو په خصوص کې يې هم مطالب نشر کړي دي. معلوماتي خبرې هم لري او په هره ګڼه کې يې ډېر عکسونه چاپ کړي دي.

۱-۲-۳- **دنيا**:

دا مجله هم د يادې شوې د متحده مطبوعاتو د ادارې له خوا چاپ شوې ده، دا مجله په انګريزي، روسي، هندي، اردو، ګجراتي، تاميل، پښتو او چينايي ژبو چاپيده.

د دې مجلې يوازې يوه ګڼه ده، چې د ۱۹۴۲ز کال ۸مه ګڼه ده او له پاسه پرې ليکل شوي دي.( دريېم جلد ) له دې ليکنې ښکاري، چې د دې مجلې د ۱۹۴۴ز کال په شاوخوا کې په خپرونو پېل کړی و او په غالب ګومان چې د هند د نيمې وچې له آزادۍ نه وروسته بنده شوې ده.

د ژوند د يادې شوې مجلې په يوه ګڼه کې د دنيا د مجلې په اړه دا لاندې اعلان نشر شوی دی: «د دنيا په څلورويشتو (۲۴) مخونو کې د هندوستان په هکله مضمونونه او تصويرونه چاپ کېږي او په هغوی کې د هندوستان د وچې، لمدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هوايي فوځونو او تمدني، اقتصادي او صنعتي کارونو اهميت ښوولی کېږي دا په پښتو ژبه کې چاپ کېږي او ورسره اردو ترجمه هم وي».

دا مجله يوه معلوماتي او ذوقي مجله ده، چې ادبيات يې نه نشرول. د هندوستان او ځينو نورو هېوادونو د پرمختياوو، صنعتي او تجارتي کاروبار، سپورتي لوبو اونورو
مسايلو خپرولو ته يې هڅه کوله).(١٩:٥٣٥-٥٣٩)

**۴-٢-١- هند ليد:**

« دهندليد مجله يوه مياشتنی مجله ده، چې په نوي ډيلي کې دهند دبهرنيو چاروو وزارت لپاره چاپېږي.

دهندليد مجله هره مياشت په عربي، اندونيزيايي، بنګالي، انګليسي، فرانسوي، جرمني، هندي، ايټاليوي، پښتو ،فارسي، پرتګالي، روسي، سينالي تأملي، ترکي، اردو او ويتنامي ژبو باندې په نوي ډيلي کې خپرېږي او موضوعات يې کلتوري، هنري، تاريخي او سياسي دي.

ددې مجلې يوه ګڼه چې د ۲۰۰۸ کال په مارچ کې چاپ شوې ده، ټوله مهاتما ګاندي ته ځانګړې شوې ده. دمجلې په مخنۍ او ورستۍ پښتۍ باندې هم دمهاتما ګاندي تصويرونه چاپ شوي دي ).(١٩)

**١-٣- په داستاني آثارو کې دپښتوژبې کتابونه :**

د هند په معاصره دوره کې ډېر پښتانه او هندوستاني ليکوالان شته، چې پښتو ته يې کار کړی دی او ډېر آثار يې په پښتو ژبه ليکلي يا ترجمه کړي دي او دا کسان په پښتو مين خلک دي. نو اوس په دې بحث باندې يو لنډ غوندې نظر اچوو.

« ديوندرنات ستيارتهي له هغو هندوستانيانو ليکوالو او فولکلور پوهانو څخه دی، چې په بريتانوي هندوستان کې د مېشتو قومونو د فولکلوري آثارو د ټولولو په لړ کې يې د پښتو ځينې فولکلوري سندرې هم راټولې کړې دي او ددغو سندرو په ټولولو پسې تر پېښوره هم رسيدلی دی، ده په خپل يو کتاب ( ګايې جا هندوستان) کې پښتو «اله هو» له اردو ترجمې سره چاپ کړې ده او په خپل دويم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب ( مین هوی خانه بدوش ) کې يې دمامونۍ سندره له اردو ترجمې سره راوړې ده.

سیتارتهي د رابندر ناتهـ ټاګور شاګرد و، له علامه اقبال سره يې هم روابط درلودل او د هندوستان ډېرو سیاسي شخصیتونو دی پېژانده او دده په اړه يې نظریات څرګند کړي دي. دی په لاهور کې زوکړی و، په هندوستانیانو کې دی لومړنی سړی دی، چې د پښتو فولکلور ټولونې او ترجمې ته يې هڅه کړې ده.

دراډیو په پښتو څانګه کې له پنځوسمو (۵۰) کلونو را په دې خوا د هندي اولسي ادبیاتو ځینې قصې په پښتو لیکل شوي او یا ترجمه شوي دي.

موږ ددې څانګې په آرشیف کې دواړه کټیګورۍ د هندي اولسونو فولکلوري داستانونه په پښتو ژبه موندلی شو.

داقصې د پښتو د اولسي ادبیاتو په ذخیره کې یوغټ زیاتوب راولي. له هندي فولکلور سره زموږ ژبه او فرهنګ اشنا کوي. دا کټګوري آثار د پښتو اولسي ادبیاتو د څېړنې لپاره خورا غنیمت او په زړه پورې دي.

هغه اولسي داستانونه، چې په پښتو لیکل شوي، دادي:

۱-۳-۱ **مرزا صاحبان** :

د پنجابي فولکلور یوه قصه ده، چې پښتو لیکلی متن يې په پښتو څانګه کې شته.

**۱-۳-۲- هیررانجها** :

د پنجابي فولکلور یوه ډېره مشهوره بله قصه ده، چې لیکلي اشکال هم لري او څو شاعرانو او لیکوالو دا دواړه قصې میرزا صاحبان او هیررانجها په نظم او نثر لیکلي دي. دا دواړه قصې په پښتو څانګه کې په یوه خط دي او سړی فکر کوي، چې یوه سړي به لیکلي وي.

منوهرسنګهـ بتره وايي: چې د هیررانجها د قصې کوم متن چې په پښتو څانګه کې موجود دی، هغه اچرج سنګهـ هوړه لیکلی دی که دا خبره سمه وي نو د میرزا صاحبان قصه به هم اچرج سنګهـ هوړه لیکلې وي؟ یوه بله پنجابي فولکلوري قصه هم په همدې خط په دې څانګه کې شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهیر رانجها په ارتباط د یادونې وړ خبره داده، چې دا قصه کشوري لال تلواړ ترجمه کړې هم ده او په دې ځانګه کې ددې قصې دا دویم متن دی.

**۱-۳-۳ ابدي دوستان**:

د هند د اترپردیش د ایالت یوه فولکلوري قصه ده، چې رامسرن کپور لیکلې ده.

**۱-۳-۴ -راجه هریش چندر**:

دا هم ددغه راجه اود ماشومانو فولکلوري قصه ده، کشوري تلواړلال لیکلې ده.

**۱-۳-۵ د پاندو شهزاده ګان**:

دا قصه هم کشوري لال تلواړ لیکلې ده او د زاړه هندوستان فولکلوري قصه ده.

**۱-۳-۶- پدمنی**:

دراجستها د چتوړ د شهزاده راجه دتن سنګهـ او د لنکا د شهزادګۍ فولکلوري قصه، چې کشوري لال تلواړ لیکلې ده.

دغسې ځینې نورې اولسي قصې هم په دې ځانګه کې شته، چې په پښتو ژبه لیکل شوې دي. ددغو لیکل شوو قصو تر څنګه ترجمه شوې اولسي قصې هم په دې ځانګه کې مومو، چې څو یې دادي:

**۱-۳-۷- طلسمی ښار**:

دچکر ورتي کپور ترجمه، داد بنګال د یو پاچا او ملکې فولکلوري قصه ده.

**۱-۳-۸-اووه خویندې**:

دتریبینیي لال کپور ترجمه،داندهیا دغرو د لمنې د اوسیدونکو ګورو ګوبندا فولکلوري داستان دی.

**۱-۳-۹- ځلور زرین اقوال**:

یوه کلیوا اله هندي قصه ده، چې چکرورتي کپور ترجمه کړې ده. د سویلي هند یوه عوامي قصه، ددې قصې مترجم تریبینیي لال کپور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱-۳-۱۰- کنچن مالا :**

دبنګال د فولکور یوه قصه ده، چې د روپ لال او کنچن ملال د مینې داستان بیانوي، دا قصه کشوري لال په پښتو ترجمه کړې ده.

**۱-۳-۱۱- د یوې پوتلي :**

دیوه زرګر فولکلوري قصه ده، چې پښتو مترجم یې چکرورتي کپور دی.

**۱-۳-۱۲- د هوالا مارو :**

دراجستان د ایالت فولکلوري قصه ده، چې کشوری لال تلوار په پښتو ژبا ړلې.

**۱-۳-۱۳- بلنګامه کتها :**

داندهرا پردیش د سیمې اولسي قصه، چې چکرورتي کپور ترجمه کړې ده.

**۱-۳-۱۴- باچا برهم دق او زرینه هوسۍ :**

دا اولسي قصه تریبینیي لال کپور پښتو کړې ده.

**۱-۳-۱۵- ماهي، چونګاښ اوکیکرۍ :**

دماهي، چونګاښ او کیکرۍ فولکلوري قصه، چې تریبینیي لال کپورترجمه کړې ده، دا قصه د همالیه په سیمو پورې اړه لري.

**۱-۳-۱۲- وزیر او کم عقل :**

وزیر او کم عقل دا قصه تریبیني لال کپور په پښتو ترجمه کړې ده. دا د بنګال د سیمې په فولکلور اړه لري.

**۱-۳-۱۷- د ناوې رو پۍ :**

په ګجراتي فولکلور پورې مربوطه قصه ده، چې چکرورتي کپور ترجمه کړې ده.

**۱-۳-۱۸- دصندل امیل :**

دجنوبي هند یوه اولسي قصه ده،دکشوري لال تلوار پښتوترجمه. دهند دبېلابېلو اولسونودلوړیادو شویولیکلواوترجمه کړواولسي قصو سربېره په دې ځانګه کې د پښتني اوشرقي فولکلور ځینې نورداستانونه هم تهیه شوي دي ،لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۳-۱۹- شهزاده بهرام او ګل اندامه :

د شهزاده بهرام او ګل اندامې د قصې لنډيز په پښتو نثر، دې څانګې د فياض د منظوم متن په استناد تهيه کړی دی.

## ۱-۳-۲۰- جمال خان او زيب النسآ :

د جمال خان او زيب النسأ د قصې متن د نورو سيب روغاينوال د داستان د متن په استناد کشوري لال تلوار تهيه کړی دی.

د شير عالم او مامونۍ د داستان متن هم دلې په دې څانګه کې د دې داستان د يوې خاکې له مخې تهيه شوی دی. د طوطي قصه دا د شرقي فولکلور يوه قصه ده، چې د يوه سوداګر او يوه بندي طوطي احوال په کې بيان شوی دی. د دې قصې ليکواله په متن کې راضيه اکبر ښودل شوې ده. د کشوري لال تلوار دا ارايه ده، چې دا قصه به په بله ژبه کې نومورې راضيه اکبر ليکلې وي او چا به په پښتو څانګه کې پښتو کړې وي.

په پښتو څانګه کې دليکل شويو لنډو کيسو ترڅنګه په کافي اندازه لنډې کيسې ترجمه شوې هم دي.دالنډې کيسې يادنړۍ د مشهورو ليکوالانو دي او يا هم د هند د بيلابيلو ژبو د ليکوالو.ترکومه ځايه چې ښکاري دا کيسې له انګريزي ،هندي ،اردو او پنجابي ژبو په پښتو اوښتي دي .په دغولنډو کې ځينې د هند د مشهورو ليکوالانو ،لکه : رابندرناتهـ ټاګور ،دده د دغو لاندې کيسو ترجمې په پښتو څانګه کې له نظره تيرې شوي دي:

= د قطعو پاچاهي ،د تريبني لال کپور ترجمه.

= د ماشوم راستنيدل ،د هربهګوان ملهوتره ترجمه.

= د طوطي تربيه ،د تريبني لال کپور ترجمه.

= پوست ماسټر ،د چکرورتي کپور ترجمه :دا کيسه روشن لال ملهوتره هم پښتو کړې ده.

= بری ،د هربهګوان ملهوتره ترجمه.

= رخصتي ،د روشن لال ملهوتره ترجمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز د منشي پریم چند کیسې هم روشن لال ترجمه کړي دي. له دغو مشهورو لیکوالانو سربیره د نورو هندوستاني او د سیمې د لیکوالانو ،لکه: چونهي لال پراشو ،انورنزهت، پریم پاتهک ،علي عباس حسیني ،منوهر سنگهـ بتره، فکرتونسوی ،یوسف ناظم او نور.همدغه راز د ځینو اروپایي لیکوالانو لنډې کیسې هم په پښتو ترجمه شوي دي.» (۱۹: ۵۳۵-۵۹۴)

دا وو د ځینو آثارو نومونه، چې په پښتو لیکل شوي او یا ژباړل شوي.

دا آثار ټول هغه کتبور آثار دي، چې د لویو لویو لیکوالانو له خوا لیکل شوي او لوستلو ته چمتو شوي دي. په همدې ډول نور آثار او ژباړې هم شته، چې ځینې چاپ او ځینې ناچاپ دي.همدارنګه نظمونه شته، چې د روشن لال ملهوتره په پښتو ژبه ژباړلي دي او ما د ښاغلي رفیع الله نیازي د ماسترۍ له تیزس څخه راخیستي دي، چې لاندې یې راوړم دا د هندوستان د ملي ترانې بشپړه ژباړه ده، چې په لاندې ډول ده:

### د هند ملي ترانه

ښایسته له ټول جهانه
هندوستان زمونږه زمونږه
ښایسته له ټول جهانه
هندوستان زمونږه زمونږه
مونږ ټول یې بلبلان یو
دا ګلستان زمونږه زمونږه
ښایسته له ټول جهانه
هندوستان زمونږه زمونږه
دنګ دنګ یې دي غرونه
شنه شنه یې سیندونه
ښایسته له ټول جهانه
هندوستان زمونږه زمونږه
هېواد کې دا ځلموټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول پاسبان زمونږه زمونږه
ښايسته له ټول جهانه
هندوستان زمونږه زمونږه
آزادۍ د خيال و فکر
د دين او د سجدې دا
ښايسته له ټول جهانه
هندوستان زمونږه زمونږه
امن او امان دی هرې خواته
دغه ايمان زمونږه زمونږه
ښايسته له ټول جهانه
هندوستان زمونږه زمونږه
په وينو ده ګټلې
سوباش ګاندي کلام دی
رپيږي هر لور ته
قومي نشان زمونږه زمونږه
ښايسته له ټول جهانه
هندوستان زمونږه زمونږه
ټوله دنيا چې پرې نازيږي
خيالي وطن زمونږ دی
ښايسته له ټول جهانه
هندوستان زمونږه زمونږه
هنديانيو مونږ هنديانو مونږ
وطن دی هندوستان زمونږه زمونږه
ښايسته له ټول جهانه
هندوستان زمونږه زمونږه
مونږ ټول يې بلبلان يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ګلستان دی زمونږه زمونږه
ښایسته له ټول جهانه
هندوستان زمونږه زمونږه
ښایسته له ټول جهانه
هندوستان زمونږه زمونږه (۱۷:۱۲۰)

اوس د استاد خلیل اله خلیلي د بوداګانو جرګه اثر چې په نظم لیکل شوی دی او ښاغلي ملهوتره په پښتو ژبه ژباړلی دی یوه برخه را اخلو او دا هم د ښاغلي رفیع الله نیازي له تیزس څخه:

راغونډ شوي باغیچه کې پتنګان وو ینمه شپه
راغلي له هر خوا وو چې ستي شي په ډیوه
ناڅاپه مچۍ راغله خواست یې وکړ د مجلس
په ښهاروه نابلده سندره وویله هغې
بیا یې وکړله دعوه د پتنګانو د شجرې
څه شور ما شور دی، تپوس وکړ یو پتنګ
څنګه ورکه غلې غلتیا شوه زمونږه په وخت د زنکدن
لرې وشړی اغیار زمونږ د مینانو له پالنګ
راپورته بل پتنګ شو ادعا یې وکړه په اخلاص
اول یې معلوم پښت کړی هسې مه کوئ قیاس
د مینې په میزان یې ازمښت وکړئ د حواس
که ناکامه شولو دا یې بیا مه پریږدئ خپل پاس
پتنګانو امنا کړه بیا یې وویل مچۍ ته
هر څوک چې یې ته منډه وکړه دغه ښار ته
ګوټ په ګوټ یې معاینه وکړه، شمعې واړه د ښاره شماره
که دې ولیده یوه بله، خبر راوړه په رادو
مچۍ خواره نابلده د محبت له راز اسراره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناتربیه د درو او اور د میني له آهنګه
ویې لیده بله شوې شمع په هر کور
لیدی به یې
بس لیدې به یې
د کلي بلې شمعې واړه
ښه شوه ډاډه مطمینه
بېرته په بېړه شوه د پتنګانو ترور پورې
ور یې کړ خبر د تحقیق له مخه ترسره پورې
شمعې بلې هره خواوې رڼا خیژي له هر کوره
لیکن چغې کړې پورته په ګډه پتنګانو
ته مین کېدلی نشې
دا محفل د عاشقانو
که پتنګ وای ته له پښته
خبر نه وای د عشق له بخته
ستي شوی به په اور وای
په لومړۍ شمعې له وخته
هر لیونی مجنون کېدی نشي
هر کیرړی د پتنګ زړه لری نشي
بله بېلګه یې:
یا د سحر باده نن څه راوړي تا
د زړه خوږه مېلمه قرار راکړی تا
نفس کې دې پټه د ژوند ده زمزمه
زه خبر یا زړه له کومې راغلې دا ورېمه
زړه مې روښانه یار به په خپل نور کړه
تته ډیوه مې بله یار به په خپل نور کړه
بلبل ته تا زده کړې نغمه ده د سحر یار به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماته هم یاده کړه سوانده د نیمې شپې یار به
څرخ د ژوند که ځواني بېرته راکولی
خوږه جانان ژوند به مې له تا وای قربان کړی
غاړه غتي به له تا داسې پیوست شوی
اغز و اخیر زما ستا چې هېڅ نه معلومېدی
یا الهی وبښی مد مست د میو
وبښه یاغي خپه بند په ځولنو د ګناه
خلیل بت شکن چا دی بښلی
د خلیل بت پرسته حشر به څه وی له تا
کله کله تاج ولوا په توره شپه مېلمه شوي
کله کله باچاهانو تاج و تخت د بل په چل بیللی
رښتیا ده، بس دی یو اوښکې د درویش
د لاس توري او نیزې ټیټولو سره د شاه
کله یو څاڅکی دوینې چې رالویږي یاالله په زمکه
لعل و جوهر له آسمانه غورزیږي یاالله په زمکه
سلګۍ د یتیم او د مظلوم یاربه
لکه خس پوه پناه کړي سل بندونه
جومات دی، کلیسه که معبد
کمبختي مې مل وه هره خوا
لروبر په دې جهان کې
نظر اچوم په چا
درد دی غم ماتم اه و فغان
وژنه د اولس بللی شي سیاست
ساینس ورته وایي، چې فنا شي طبیعت
په نوم د اختراع
راپارول شوې تباهي دي هم داد نن ورځې استعداد و لیاقت (۱۷:۱۲۰-۱۲۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د ښاغلي خلیل الله خلیلي د یوه نظمي اثر یوه برخه وه، چې ملهوتره په پښتو ژبه ژباړلې ده ، چې دا هم د هند د معاصرې دورې د ادبیاتو یوه برخه ده او دا د پښتو ژبې لپاره یو لوی کار او افتخار دی، چې نوموړي لیکوال کړی دی. په همدې ډول نور نثري آثار هم موجود دي او دا د مختلفو لیکوالانو له خوا ژباړل شوي دي ،چې دلته یې راوړم.

**۱-۳-۲۱-کابلي والا** :

دا یوه لنډه کیسه ده، چې رابندناتهـ ټاګور لیکلې ده او روشن لال ملهوتره په پښتو ژبه ژباړلې ده. دا د مینې او کابلي والا ( رحمان) کیسه ده، چې کابلي والا یو سوداګر وي او مینې یوه وړه جینۍ او کابلي والا له مینې سره د خپلې لور په شان مینه کوي.

**۱-۳-۲۲-منتر** :

دا د یوه ډاکټراو بوډا پاړوګر کیسه ده، چې منشي پریم چند لیکلې ده او روشن لال ملهوتره ژباړلې ده.

**۱-۳-۲۳-نجومي** :

دا هم یوه لنډ کیسه ده، چې لیکوال یې ار. کی، نارایندی او ښاغلي مهلوتره ژباړلې ده. دا د یوه نجومي کیسه ده، چې د خلکو طالع او فال ګوري.( ۱۷:۱۲۴-۱۴۸)

نو په همدې ډول دغه نوموړی لیکوال نورې ډېرې ژباړې هم لري او پرته له نظمونو او لنډو کیسو فیچرونه ،لکه:( بهار، جنوبي بنګال) او فلمي کیسې یې ژباړلې دي، چې دا ټول د معاصرې دورې په ژباړو کې راځي.

همدارنګه په هند کې دادبیاتو په معاصره دوره کې نورو علماوو اولیکوالانو لکه: جمناداس تلوار، هربهګوان ملهوتره، کنور بهان نارنګ، رامسرن کپور، تریبیني لال کپور، چکرورتي کپور، کشوري لال تلوار، روشن لال ملهوتره او داسې نورو هندي لیکوالانو لیکنې او ژباړې په آثارو، مجلو او آل انډیا راډیو ته کښلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲- دمنوهرسنګهـ بتره ژوند

بتره د خپل ژوند په اوږدو کې ډېر څه خپلو خلکو لپاره کړي دي او له ډېرو ستونزو او کړکېچونو سره مخامخ شوی دی لیکن بیا یې هم ترخپل وسه پښتو ژبې ته خدمت کړی، آثار یې لیکلي، ژباړلي او ترتیب کړي دي.

دغه لیکوال که څه هم هندوستاني دی، مګرپرته له نوروژبو څخه یې پښتو ژبې لپاره هم کارکړی دی. ځکه چې دا له پښتو ژبې سره ډېره مینه لري. له ډېرو خبرو څخه به تېرشو او دده د ژوند او هڅو ته به راشو، چې دده دي درانه او ځواکمن لیکوال او ژورنالیست ژوند څه ډول پیل او تر او سه رسیدلی دی.

### ۱-۲ -زوکړه او زده کړه :

ښاغلی منوهر سنګهـ بتره په ۱۹۲۷ز کال په راولپنډۍ کې زیږیدلی دی او په ۱۹۴۷ز کال د هند د نیمې قارې د وېش په وخت کې له پاکستان نه هند ته ولاړ، چې د هغه وخت نه را په دې خوا تر او سه پورې په نوي ډیلي کې هستوګنه لري.

تر لیسانس اخېستو پورې یې په راولپنډۍ کې تعلیم وکړ او د لاهور د پوهنتون نه یې شهادتنامه واخېسته، ماسترۍ تیزس یې د هند له پنجاب څخه ترلاسه کړه. دی همدارنګه دخصوصي پوهنې د سند په اخېستلو هم بریالی شوی دی.

ښاغلی بتره په ۱۹۶۳ز کال کې کابل ته راغی او د ادبیاتو په پوهنځۍ کې یې د پښتو په زده کړه پیل وکړ. د یوه کال زده کړې او هستوګنې نه وروسته بېرته ډیلي ته وګرځېد او د آل انډیا راډیو د پښتو څانګې دمشر په حیث یې وظیفه اشغال کړه.

ښاغلی بتره په انګلیسي، پښتو، پنجابي، اردو او هندي ژبو کې ډېر مهارت لري. ده په عربي او اسپانوي ژبو کې هم سندونه ترلاسه کړي دي او ددغو ژبو په ازموینه کې له امتیاز سره بریالی شوی دی. نوموړی په دري ژبه هم خپل مشکلات حل کولای شي. (۱۲:۲۵-۲۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه ښاغلی بتره په یوه لیکنه کې چې په خپل قلم یې لیکلې او ماته یې رالېږلې ده داسې لیکي:

زه غواړم په ډېرې مهربانۍ سره دغه لاندې واقعیتونه ذکر کړم:

د آل انډیا راډیو د عمومي ریاست د معاونیت له دندې تر تقاعد وروسته ما د هند له ولسمشر سره کار پیل کړ او له هغه سره مې مرسته وکړه. ترڅو د هند او پاکستان پرورانډې د پښتنو په احساساتو پوه شي.

ما د نوموړي او د هغو قدرمنو افغانانو ترمنځ چې له نوموړي سره به یې په (Rashtrapati Bawan) (راشترپاتي باون) د ولسمشر کور کې کتل د ژباړې چارې پر مخ بیولې. نوموړی زما له دې کار نه ډېر خوښ و.

زه د هند د بهرنیو چارو وزارت له لوري د هند افغانستان فونډیشن د غړي په توګه وټاکل شوم. هغه مهال ښاغلی رهین په نوي ډیلي کې د افغانستان سفیر و او ښاغلي (Jayant Prasad)( جاینت پراساد ) په کابل کې د هند سفیر و .ما دوه کاله د یاد فونډیشن د غړي په توګه دنده ترسره کړه.

ماله پیاوړي عالم ډاکتر جي. ان. ناندا (J.N. Nanda) سره په ګډه د (RESURGENT WDIA) تر نامه لاندې یو کتاب لیکلی دی. په دې کتاب کې ما د افغانستان او هند پر اړیکو بحث کړی. دغه کتاب په ۲۰۱۱ زکال په نوي ډیلي کې د (Concept Publishing Company PVT) له خوا خپور شوی.

ما د ښاغلي سلیمان لایق کتاب د اباسین سپیدې په انګریزي ژبه کې (THE DAWN OVER ABASIN) تر نامه لاندې وژباړه او په نوي ډیلي کې خپور شو. د علمي کړیو په منځ کې د دې کتاب تود هر کلی وشو.

د دې تر څنګ د دې کتاب څو کاپۍ د هند د ولسمشر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر ته واستول شوې.

زه په نوي ډیلي کې د جواهر لعل نهرو پوهنتون کې د پښتو ژبې درس ورکوم. هغوی له ما غوښتنه وکړه څو دا دنده ومنم ما په ډېرې خوښۍ د هغوی دا غوښتنه ومنله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(انګلیسي ته د پښتو شعرونو ژباړه )به مې ډېر ژر د کتاب په بڼه چاپ شي.ماله بی بي سي، امریکا غږ او چک راډیو سره د روانو چارو په څانګړې توګه د افغانستان او نړیوالې سولې په اړه په پښتو ژبه مرکې کړې دي. زه ځینې وختونه په ژوندیو بحثونو کې هم ګډون کوم.(۱۱)

په همدې توګه منوهر سنګهـ بتره ډېرې هڅې کړې دي او ترنن ورځې پورې هم غواړي کوښښ وکړي تر څو د غه خوږه ژبه پیاوړې شي. نوموړي په شمشاد او ژوندون تلویزیون کې په فرهنګي او ادبي خپرونو کې هم ګډون کړی او مرکې یې کړې دي.

## ۲-۲- هڅې اوندې:

منوهر سنګهـ بتره د هندوستان هغه عالم او لیکوال دی، چې پښتو ژبې ته یې ډېر کارونه کړي دي او په دې ژبه کې یې د لیسانس او ماسترۍ سندونه اخیستې دي.

منوهر سنګهـ بتره په هندوستان کې د پښتو ژبې له مسلمو استادانو او خورا مشهورو علمي کسانو څخه ګڼل کېږي.

بتره له ۱۹۵۰زکال وروسته د آل انډیا راډیو دیلي په څانګو کې د مامور په حیث وګمارل شو. په ۱۹۲۳زکال کابل ته د پښتو د زده کړې لپاره راغی او په یوه کال کې یې دلته پښتو زده کړه. ده پښتو تردې حده زده کړه، چې په کابل کې یې دخپل لومړني یو کلن اقامت په دوران کې له انګریزی او هندي ژبو آثار په پښتو ترجمه کړل او پښتو آثار یې په انګریزي وژباړل.

منوهر سنګهـ بتره د ( ۱۹۲۳-۱۹۲۴ ) زکلونو ترمنځ په لسګونو پښتو شعرونه له امیر کروړ او ابو محمد هاشم ابن زید السراني نه نیولې ان تر زیاره پورې په انګریزي ترجمه کړي.په کابل ټایمز کې چاپ شوي دي او ورسره په افغانستان نومي مجله کې هم دده مقالې او ترجمې چاپ شوې دي.

کله چې بتره دیلي ته ورغی، خپلو هڅو ته یې د پښتو ژبې او ادب په برخه کې دوام ورکړ. په دې ترڅ کې د آل انډیا راډیو دیلي کې د پښتو څانګې مشر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو څانګې دده د مشرۍ په دوران کې ډېره ترقي وکړه او ډېر اوريدونکي يې پيدا کړل او ښه مطالب په کې ايجاد شول.

بتره ددې څانګې لپاره هم د ځينو پښتنو شاعرانو او افغان او هند د روابطو په خصوص د قدرور مقالې وکښلې، چې اوس هم د راډيو په آرشيف کې دده په خط موجودې دي.

بتره د پښتو څانګې سوپروايزرى، د راډيو سټيشن ډايرکټرى او د راډيو مرستيالۍ ته هم ورسيد او بيا متقاعد شو.

دهند د ولسمشر ريس ګياني زايل سنګهه مشاور او اوس په ډهلي کې د پنجابي اکاډيمي مشاور او مغزز شخص دى.

منوهر سنګهه بتره په هر حال او هر ځاى کې چې و، له پښتو سره يې مينه وه او ده د پښتو ژبې او پښتني فرهنګ په معرفۍ کې په خاصه توګه او د افغانستان په معرفۍ کې په عامه توګه کارونه کړي دي.

دهندوستان په مرکزي اخبارونو کې يې د پښتو اشعار و انګريزي ترجمې چاپ کړي دي.

په اردو، هندي او پنجابي ژبو يې د پښتني فرهنګ او پښتو ژبې په خصوص کې ګڼې مقالې ليکلي دي، چې دهندوستان په مطبوعاتو کې چاپ دي.

دده له ګټورو کارونو څخه بل کار د اکاډيمسين سليمان لايق (د اباسين سپيدې) نومي ادبي اثر انګريزي ترجمه ده، چې دده د انګريزي ترجمه په ۱۳۶۵ل کال کې د پښتو څېړنو د بين المللي مرکز له خوا په کتابي بڼه چاپ شوې ده.دامجموعه ۲۰۱۱ زکال بيا په ديلي کې چاپ شوه.

ددغه مرکز په نشراتي ارګان پښتو مجله کې هم دده ځينې ترجمې چاپ شوي دي. منوهر سنګهه بتره د تحصيل تر دورې وروسته څو ځله نور هم کابل ته راغلى دى.

په سيمينارونو او علمي غونډو کې يې ګډون کړى دى او مقالې يې لوستې دي مصاحبې يې کړي دي او له پښتو ژبې او افغانانو سره يې خپله عقيدتمندي اظهار کړې ده».

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲۰۵:۱۹-۲۰۷)

بتره پرته له پښتو څخه په نوروژبو هم کار کړی دی. ښاغلی بتره په عربي او هسپانوي ژبو هم تحصيل کړی دی او سندونه يې ترلاسه کړي دي.

ده يو کال په افغانستان کې تيرکړی او په دې موده کې باميان ،غزني او جلال آباد ته تللی و.ښاغلی بتره په پښتوژبه هم ځينې اشعار لري.(۱۳: ۷۰)

په همدې ډول يې ډېرې دندې ترسره کړې دي،آثاريې ليکلي دي او پښتو ته يې کار کړی دی.دا شخص په پښتو او افغانستان مين سړی دی ،چې همدې لپاره يې ډېرڅه ترسره کړي دي.

**۲-۳- آثار** :

منوهر سنګهـ بتره خورا ډېر آثار لري، نوموړی هغه هندوستانی دی، چې پښتو ژبې ته يې ډېر کارونه کړي دي. آثار يې په پښتو ،انګليسي، اردو ،پنجابي او نورو ژبو ليکلي او ژباړلي دي.

همدا راز په پښتو ژبه کې ډېر آثار او مقالې لري او ليکلې يې دي، چې په دې آثارو کې يې ډېر داسې آثار او مقالې شته، چې ليکل شوي دي، ليکن چاپ شوي نه دي.

دښاغلي بتره په آثارو او ليکنو کې ادبي، سياسي، تاريخي، ټولنيز او ژباړې موجودې دي، دده د ليکنو ژبه ډېره خوږه ده، پښتو يې ښه ده، ليکن په ځينو ځايو کې املايي تيروتنې په کې ليدل کېږي او زياتره لغتونه يې په پخوانی املا او انشأ کارولي دي، لکه:-( کښې، چه، لاکن، برښه ) او داسې نور او په ياګانو کې هم يو څه غلطي موجوده ده.

منوهر سنګهـ بتره ژباړې هم لري، لکه د سليمان لايق اثر ( د اباسين سپيدې ) او يا د امير کروړ ويارنه يې له پښتو نه يې انګليسي ژبې ته ژباړلې ده، په همدې ډول نورې سياسي، تاريخي او فرهنګي مقالې هم لري، چې ځينې چاپ او ځينې ناچاپ دي. يعنې بتره د هندوستان له هغو تکړه ليکوالانو او ژورناليستانو څخه دی، چې د ژوند د چارو تر څنګ يې دغه کارونه هم سرته رسولي او خپله دنده يې په ډېره ښه طريقه پای ته رسولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي د ژوند تردې شپېږ پورې قلم له لاسه نه دی اچولی او تل هڅه کوي، چې کتاب ولیکي، مطالعه وکړي او خپلې پوهې ته وده ورکړي.

تردې ټولو موضوعاتو تر څنګ او له موضوع سره برابر اوس د ښاغلي بتره چاپ شوي آثارو ته راځو، چې ځینې یې د اثر په ډول په مجلو او کتابونو کې چاپ شوي دي.

## ۲-۴- چاپ شوي آثار :

دښاغلي بتره زیاتره لیکنې چاپ شوي دي، ډېرې مقالې او ژباړې لري، چې د کابل مجلو ،ورځپاڼو او دمقالو په مجموعو کې چاپ او وړاندې شوي دي او لـو یو لویو لیکوالانو او څېړونکو دده د آثارو پـه اړه یې پـه خپلو لیکنو اوآثارو کې ډېر څه بیان کړي، چې له دې جملې څخه یو هم ښاغلی زلمی هېواد مل دی، چې پـه خپل اثر ( پـه هند کې د پښتو ژبې د ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونـه ) کې پـه لنډه توګه داسې لیکلي او وایي: د بتره دا لاندې مقالې د کابل پـه اخبارونو کې چاپ شوي دي:

- تېریو اوغلط فهمیو په پانامه کې شخړې پیدا کړي دي. د منوهر سنګهـ بتـره ترجمه، اصلاح، د ۱۳۴۲هـ ش کال، د دلو د میاشتې ۲۱مه ګڼه.

- د فقید جواهر لال نهرو په یاد کې د منوهر سنګهـ بتره لیکنه.

- ډاکتر ویریرایلون او خدایي خدمتګار بتره ترجمـه، اصلاح. ۱۳۴۳ل د سرطان د ۱۳مه ګڼه. دده دا لاندې مقالې هماغه مهال د هېـواد پـه ورځپاڼـه کې چاپ شوي دي.

- په هند کې د تصوف تحریک، رابندرناتهـ ټاګور، دجواهر لال نهرو وصیت.

دهېواد د ۱۹۲۴زکال دجون ۲۱مه. دغه راز کابل مجلې د بایزید روښـان پـه بـاب دده یوه ښکلې ترجمه په پښتو چاپ کړه.(۲۰۲:۱۸)

اوس د ښاغلي بتره دلیکنو مفصلو معلوماتو ته راځو اوکوم آثار اولیکنې یې چې چاپ شوي دي له بېلګې سره یې را اخلو :

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲-۴-۱- خان عبدالصمد خان اڅکزی :

داد منوهر سنګهـ بتره هغه ارزښتنا که لیکنه ده، چې (خان عبدالصمد خان اڅکزي) په اړه جوړ شوي علمي سیمینار کې یې لوستلې ده او د ننګ او فرهنګ اتل شهید خان عبدالصمد خان اڅکزي په نامه د مقالو مجموعه کې چاپ شوې ده.

دا کتاب د افغانستان دعلومو اکاډمی د سیمه ییزو مطالعاتو دمرکز له خوا په ۱۳۸۷ل کال کې چاپ شوی دی او دا لیکنه هم په ۱۳مخونو کې په همدې کتاب کې چاپ شوه، چې مونږ یې دلته د بېلګې په توګه را اخلو:

## خان عبدالصمد خان اڅکزی

تر ټولو نه اول زه دخدای (ج) په دربار کې سجده کوم او تشکر ورڅخه کوم، چې ما ته دافغانستان د پیاوړي هېواد په سپیڅلي ځمکه باندې دقدم داېښودلو یو ځل بیا موقع راوبښلی شوه، چې دخان شهید ښاغلي عبدالصمد خان په باب په جوړ کړی شوي دغه سیمینار کې ورته دخپل عقیدت ګلان وړاندې کړم.

خان عبدالصمد خان اڅکزی یو داسې شخصیت دی، چې زما دهېواد هند ټول خلک پرې ویاړي ځکه، چې ده دفرنګیانو له امپراطورۍ څخه د هند دنیمې وچې دآزادولو په غورځنګ کې ډیره فعاله برخه اخیسته او ډیرې قربانۍ یې ورکړي.

خان شهید د هغو زعیمانو څخه و، چې د آزادۍ په تحریک کې یې په خپل ځان ډېر کړاوونه زغمل او د تاریخ په پاڼو کې یې یو ژور چاپ پرېښود. لکه:څنګه چې فخر افغان خان عبدالغفار خان صاحب دومره مصیبتونه او ربړونه په ځان اخېستل او د سرحدي ګاندهي په نامه مشهور شو، خان شهید عبدالصمد خان صاحب هم د خپلو قربانیو له امله دبلوچ ګاندهي په حیث وپیژندل شو.

ګرانو ورورڼو او خویندو بې له شکه تاسو دخدای بښلي خان شهید د ژوند له حالاتو څخه زما په نسبت زیات خبر یاست، لکه څنګه، چې ما ددغه عظیم شخصیت د سیاست او دآزادۍ په ډګر کې د ونډې په باب مطالعه کړې ده. زه په هغې ډېر متاثره شوی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان عبدالصمد خان صاحب (په ۱۸۹۵م) کې په ګلستان کې، چې د بلوچستان له مرکز کويټې سره نږدې دی، دخان نورمحمد خان په کور کې زوکړه وکړه، خان نورمحمد د ډېرو ځمکو خاوند او داڅکزو دقبيلې مشر و، خان عبدالصمد خان خپله زده کړه په خپل کلي کې وکړه او له پښتو څخه پرته په اردو او پارسي ژبو کې هم مهارت تر لاسه کړ.

کله، چې دی له۱۹۵۹م کال څخه تر ۱۹۶۸ م پورې په پاکستانی بندي خانه کې و، نو ده دلسم، دولسم او څوارلسم ټولګيو امتحانونه ورکړل او په امتياز سره يې بريالی شو.

عبدالصمد خان دډېرې سادګۍ ژوند خوښ کړو او په خپلې ځوانۍ کې يې د مهاتما ګاندهي تر اغېزې لاندې راغی او د سولې او دانساني مينې او دعدم تشدد اصولونه يې خپل کړل.

په هند کې به هر چا ورته بلوڅ ګاندهي وايه. خان عبدالصمد خان د پنځوويشتو کلو په عمر کې د يو څو بلوڅو زلميانو په ملګرتيا انجمن وطن په نامه ديوه ګوند ډبره کېښوده، چې په هغه کې پښتانه او بلوڅ غړي شول. دوی په سياسي هڅو پيل وکړ او ټولنيز اصلاحات يې هم شروع کړل.

هغه غوښتل، چې دبلوچستان هغه خلک، چې په اجتماعي توګه پاتې شوي وو، هغوی ويښ کړي او دروښانفکری ډګر ته راوستل شي. هغوی په خپلو وظيفو او حقوقو پوه کړای شي.

خان عبدالصمد خان په خپل ګران هېواد کې دمکتبونو يوه شبکه قايمه کړه او دټولنيزو بدو په ضد يې په مبارزه پيل وکړ، ده دبلوڅو خلکو د قانوني او سياسي حقوقو دترلاسه کولو لپاره هم هلې ځلې پيل کړې، د يوه نه ستړي کيدونکي مجاهد په حيث ده په بلوڅ وګړو کې سياسي بيداري راوستله.

خان عبدالصمد خان ديوه قام پرست مشر په حيث خپل اجتماعي نهضت دهند له قامي تحريک سره يو ځای کړو. دی په انډين نيشنل ګانګرس کې شامل شو او خپل انجمن وطن ګوند يې له ګانګرس سره يو ځای کړ دهند له قام پرستو مشرانو سره يې رابطه ټينګه شوه کله، چې دشمالي هند د يوه انقلابي تنظيم نوجوان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهارت سبها سره يې ډېر نږدې تماس پيدا شو نو په ۱۹۲۸ او ۱۹۲۹ کلو کې ډېر امتياز ور په برخه شو.

په ۱۹۲۹ م کال کې خان شهيد دانډين نيشنل کانګرس دلاهور په غونډه کې ګډون وکړ او بيا وروسته په بيلو بيلو نورو کنفرانسونو کې هم شرکت کاوه. په لاهور کې يې په بلوچستان کې د حکومت لخوا په کيدونکې ارتجاعي فعاليتونو په باب وينا وکړه. ده په لوی شمير کې سياسي مطبوعات له ځان سره وړل او په بلوچستان کې يې په يوه سياسي تحريک پيل وکړ. په ۱۹۳۰ م کال کې خان عبدالصمد خان خان عبدالسلام او خان محمد ايوب خان سره کوټې ته راوستل شو او حکومت په ضد د کار کولو لپاره دوه کاله په جزا محکوم کړی شول .نوموړي خان له خوشې کيدو وروسته بيا په خپلو پخوانيو فعاليتونو او قومي تحرکاتو پيل وکړ. سره له دې چې ورباندې د حکومت له خوا ډېر ټينګ بنديزونه هم ولګول شول ،خوهغه د ۱۹۳۳ز په ډيسمبر مياشت کې د سندهـ د ايالت په حيدر آباد کې د بلوچستان خوارۍ په ګوته کړې، ده د هند له نورو ايالتونو څخه غوښتنه وکړه، چې هغوی دې د بلوچستان د مساواتو په سويه د راوستلو لپاره مرسته وکړي.په دغه کانفرانس کې يو قرارداد لاسليک شو، چې په کې د بلوچستان د يوه کامل ايالت په توګه ده ته د راوستلو په باب غوښتنه وشوه.

د ۱۹۳۴ز کال په جنوري کې خان عبدالصمد خان په کراچۍ کې په يوه بله غونډه کې ګډون وکړو، چې ترتيبات يې د هغه ښار د بلوچستان د اصلاحاتو د کمېټې له خوا نيول شوي وو. هلته يې د برتانوي حکومت له خوا بلوچ خلکو ته د سياسي حقوقو د ورکولو لپاره آواز اوچت کړو. بلوچستان ته په راستنېدو دی بيا ونيول شو او د دريو کالو لپاره په بامشقته بند کې واچول شو .د بلوچ ځلميانو د انجمن او د کراچۍ د بلوچستان د اصلاحاتو د کمېټې له خوا دده د خوشې کولو په غرض سخت احتجاجونه وکړل.د بلوچستان حکومت د خان عبدالصمد خان په فعاليتونو او په ځلمو باندې د هغو په اغيزو ډېر مشوش شول.حکومت دا وېره ځرګنده کړه ،چې که ددغه مشر د فعاليتونو مخه ونه نيولی شي نو دهشت ګران به منځ ته راشي د ټولنيزو اصلاحاتو او د سياسي حقوقو په مبارزه کې خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالصمد خان به د قبایلو په سردارانو او ملکانو دا تور پورې کاوه، چې هغوې د برتانوي حکومت مریبي دی.

د دویم لوی جنګ له شروع کېدو څخه وروسته ښاغلي عبدالصمد خان خپل سیاسي فعالیتونه زیات کړل. په ۱۹۴۰ز کې ده د وردها مسافرت وکړ. چې په بلوچستان کې د ستیه اګره د شروع کولو په باب د ګاندي جی سلا واخلي ده. د جنګ په ضد د کانګرس په مبارزه کې له کانګرس سره لاس یو کړ او د ۱۹۴۲ز په تحریک کې د شاملیدو تیارېې ونیوله دا د مهاتما ګاندي له خوا شروع کړی شوی یو زور آور تحریک و، چې په واسطه یې انګریزانو ته اخطار ورکړی شو، چې هغوی دې له هندوستان څخه پښې سپکې کړې. هغه د اګست په میاشت کې د هند د دفاع تر قاعدو لاندې ګرفتار کړی شو. درې کاله وروسته په خوشي کېدو خان شهید بیا خپل سیاسي کار پیل، د انډین نېشنل کانګرس او د مسلم لیګ ترمنځ په سیالۍ کې خان عبدالصمد خان په مکمل ډول د کانګرس په پله ولاړ پاتې شو. دی د مسلم لیګ او د پاکستان د جوړولو د غوښتنې سخت مخالف و. ده د پنجاب او د صوبه سرحد د مسافرت په دوران کې په مسلمانانو باندې غږ وکړو، چې هغوې دې د آزادۍ په مبارزه کې د کانګرس ملاتړ وکړي.

د ۱۹۴۷ز په پای کې کله چې دا خبره څرګنده شوه، چې برتانوي حکومت د هند نیمې وچې د ویشلو لپاره د مسلم لیګ د غوښتنې منلو ته چمتو دي نو د پاچاخان عبدالغفار خان په ملګرتیا د پاکستان له نظریې سره مخالفت ښکاره کړو. هغوی د پښتانو او د بلوڅو د خپلواکۍ لپاره غږ وکړو، کله چې د کانګرس مشرانو د نیمې وچې ویش ومانه نو خان عبدالصمد خان او پاچاخان ډېر مایوسه شو او هغوی دا حس کاوه، چې هغوی لېوانو ته اچول شوي دي.

کله چې پاکستان منځ ته راغی نو خان شهید په مېړانه د یوه خپلواک بلوچستان لپاره مبارزې ته دوام ورکړ. د ښاغلي محمد علي جناح په امر باندې هغه ونیول شو او په ۱۹۵۴ز کې خوشی شو، ده د ورور پښتون ګوند جوړ کړو.

په ۱۹۵۸ز کې بیا ونیول شو او تر ۱۴کالو د بند په جزا محکوم شو. مګر په ۱۹۶۸ز کې آزاد کړی شو. د اجتماعي اصلاحاتو او د سیاسي ویښتیا خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحریک ته د دوام ورکولو په غرض خان عبدالصمد خان په ۱۹۳۴ز کې د استقلال په نامه یوه ورځپاڼه شروع کړې وه، لیکن د فرنګیانو د حکومت له خوا وربانده دکوم سیاسي موادو په خپرولو بندیز لګولی شوی و. په ۱۹۴۷ز کې د پاکستان د حکومت له خوا هغه ورځپاڼه او انجمن وطن دواړه غیر قانوني اعلان کړی شوي وو.

خان عبدالصمد خان د یوه ټینګ شخصیت خاوند او یو سوچه قام پرست مسلمان و، چې له فرقه دارانه جذباتو څخه باندې و. هغوی نه یوازې د برتانوي امپراتوری مخالفت کاوه بلکې د فرقه دارانه عناصرو په ضد هم و.

د فخر افغان پاچاخان په شان خان عبدالصمد خان به د خلکو د رهبر او عظیم مشر په توګه په یاد ساتل کیږي، دی د یو ستر وطن دوست د نه ستړي کیدونکي مبارز او د اجتماعي او سیاسي انصاف یو لوی قهرمان په حیث منل کیږي.

یوه خبره باید بې له شکه د یوه تاریخي حقیقت له مخې وکړو، چې کله د هند او افغانستان تاریخونه لولو هلته د غه ټکی تر هر څه د مخه را جوتیږي، چې د غه دوه ملتونه هیڅکله هم د یوه او بل څخه نه بېل شوي او نه چا د دوی د بېلولو په نیمګړو هڅو کې بری موندلی دی. د هند خلک پښتون، پټان او افغان داسې د زړه له کومې پېژني، چې د هغه په هکله کله هم داسې فکر نه کوي، چې دوی له افغانانو څخه بېل دي. مانا دا چې هندي کلتور، تاریخ او فرهنګ پښتون فرهنګ تاریخ او فرهنګ له خپل ځان څخه بېل او پردي نه بولي او نه زمونږ دواړو ملتونو تاریخي هلې ځلې او فرهنګي ګډون دا اجازه ورکوي، چې له یوه او بل څخه بېل شي.

ما په تېرو څلورو لسیزو کې د خپلو مقالو، خبرنو او مرکو په ترڅ کې دا خبره تل کړې، چې د هند او افغان دوستي او تاریخي تړاو د پښتون هندوستان له تړاو څخه پرته بله مانا نه لري او نه یې د هند ملت په بل شان سره تعبیر او تفسیر کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده هند د اګست په ۱۵مه نېټه د آزادۍ ۲۰مه کليزه ولمانځله په دغه وياړ، چې کومې خپرونې کوم فلمونه د تلويزون په پردو باندې د هند د آزادۍ په اړه ښکاره کيدل ،په هغو کې د هند د آزادۍ د سياليو مهاتما ګاندي او جواهر لال نهرو تر څنګ د سرحدي ګاندي پاچاخان اتلولۍ ،ميړانه او د استعمار په وړاندې مقاومت دهند ملت په درنښت او قدر سره ياد کړل.

دهند د آزادۍ په تحريک کې د پاچاخان او د هغه دنوميالیو ملګرو لکه په پښتونخوا بلوچستان کې د لوی خان عبدالصمد خان د ډېرو نورو برخه اخېستنه خورا مهمه او د پاملرنې وړ ده.خدايي خدمتګاران د هند د آزادۍ سالاران او فدايان وو. د دوی قربانۍ او ملاتړ و ، چې د هند نوميالي مشر مهاتما ګاندي د دوی فداکارانه مبارزه وستايله او ددوی د عدم تشدد مبارزه او مقاومت يې د يوه عالي عبادت په توګه وارزاوه، غواړم چې دلته يو ځل بيا د خان عبدالصمد خان په مبارزه او کرکټر باندې يو څو ټکي ووايم.

دهند د نيمې وچې په تاريخ کې چې څومره شهرت، د خيبر په برخه شوی په همدغه اندازه په دغه تاريخ کې د کوژک او هلته د پښتنو مبارزې په وياړ او سرلوړی سره ياده شوې ده.

نامتو شاعر علامه اقبال ته خيبر د مقاومت درس ورکاوه تردې حده پورې چې دی د ژوندتر پايه پورې يې په ستاينه سترې نشو. د ۱۹پيړۍ په وروستيو لسيزو کې داستعمار د سرتېرو آوازونه نه يوازې پښتونخوا او د هند وچه ولړزوله بلکې د لندن په کوڅو او لارو کې هم ملي انګازې خورې شوې. د آزادۍ اتلانو دا وکولای شول، چې د هغوی مقاومت هنګامه د انګريزي امپراتورۍ پر زړه باندې د يوه داغ په توګه د افغانستان د تاريخ وياړ شي همدغه وياړ او سرلوړي وه ،چې د شلمې پيړۍ په اوږدو کې يې هم انګازې ارامې نه شوې. د جنوبي پښتونخوا د مقاومت څپه د خان عبدالصمد خان په مدبرانه لارښوونې سره لارښوونه شوه او عملاً يې د پښتنو د راپاڅولو غورځنګ دعصر له غوښتنو سره سم رهبري کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د خان د مبارزې د بریالیتوب لوی راز په دې کې ګورم، چې ده هم پښتانه د خپل حق خود ارادیت ډګر ته یوازې له تورې سره نه را هڅول، بلکې لوی هدف یې دا و، چې دغه بهادر او مېړنی قوم باید قلم هم له یاده ونه باسي خان په خپله یوازې سیاست مدار نه و هغه په خپل وخت کې د پښتني فرهنګي او تعلیمي حکومت یو فعال غړی و.

د هغه مقاومت یو فرهنګي او سیاسي مقاومت و، داسې لکه چې له خوشال څخه پښتنو ته مېراث ورسېدلی و، خان په پوره مېړانې سره قلم او سیاست پښتنو په مخ کې کېښودلو، چې ورو ورو پښتنو هغه د یوه حقیقت په توګه د زړه له کومې هر کلی وو ایه خان په خپله د قلم خاوند و، چې پښتانه او د پښتو ژبې څېړونکي، پوهان باید دده ځانګړې ادبي هلې ځلې دده د سیاسي کوښښونو په څنګ کې له یاده ونه باسي.

بله مهمه ځانګړنه چې زه د خان د مبارزې په هسکو ټېټو کې ګورم، هغه دده رښتني مبارزې دوام دی. په نړۍ کې د آزادۍ غوښتني هغه مقاومت یو بری مقاومت او غورځنګ بلل کېږي، چې هغه په مدبرانه توګه د پیاوړو او مفکرو لارښوونکو له خوا لارښوونه شي.

د خان عبدالصمد خان لویوالی په همدې رمز کې و، چې د خپل عصر د مبارزې د بهیر ځنځیر تر خپل ځوان پښت پورې په بری سره راوغزاوه زه فکر کوم، چې د یوه ملي مقاومت په مبارزه کې د هغه مقاومت لارښوونه تر هر څه مهمه او د پاملرنې وړ ده. خان موږ ته دا ثابته کړه، چې د شلمې پېړۍ په سختو حالاتو کې د نړیوالې سړې جګړې په ترڅ کې د لویدیځ او ختیځ د درنې سیالۍ په ترڅ کې دده د ځای ناستو او لاروایانو له خوا دده مبارزه نه د افراط او نه هم د تفریط پر خوا ولاړه، دده مبارزه لکه چې ما یې یادونه وکړه؛ په خپل ملي او فرهنګي جوړښت همداسې ژوندۍ او فعاله پاتې شوه، پیاوړې شوه او د پښتنو یو بل یعنې «ځوان» نسل یې په ملي فرهنګي او پښتونواله روحیه باندې وروزله. زه په جنوبي پښتونخوا کې د اوسنیو روښانفکره ځوځون لامل د لوی خان د همدغه فرهنګي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي حرکت ثمره ګڼم ، چې اوس هم د ښاغلي محمود خان او نورو ملي او فرهنګي څېرو او مشرانو له خوا په ویاړ سره پرمخ بېول کېږي.

دویم ټکی چې دلته یې دغې علمي او فرهنګي غونډې ته کول غواړم هغه د لوی خان د پښتون کرکټر یوه ځانګړنه ده ،چې باید اشاره ورته وشي په دې نږدې وختو کې د هند دنومیالي مبارز راجه مهندر پرتاپ د یوه نادر اثر ترجمه چې د پوهنملې رحېمې له انګریزي ژبې څخه په پښتو ژباړلی او یوازینی نسخه یې د هند په ملي آرشیف کې خوندي ده لاس ته راغله راجه منهدر پرتاپ چې د هند او افغانستان دواړو هېوادونو تابعیت یې درلود او د ژوند ترپایه چې هند او افغانستان خپل کورونه بلل، ددغه اثر په پیل کې د افغانستان او پښتنو په اړه یې داسې لیکلي دي:

«په وچه پوري تړلی هېواد دمېوو په ونو پټې درې په کانو او معدنو بډایه غرونه یعنې افغانستان !حاصل خېزه خاوره، د اور د سپرغۍ په شان ځلاند روان سیندونه، سره او روغتیا ښښونکي هوا ، دا هم یعنې افغانستان !

دزړه ورو غښتلو او ښکلو ځوانیو لرونکی هېواد ، چې هر وخت میلمه پالنې ته تیار دی او کېدای شي ،په هر وخت او هر شان انساني معاملو کې باور وربانداې وشي، هو دا ګرده شیان په افغانستان کې شته.

زه ددغې یادونې د وروستی برخې په پام کې نیولو سره دومره ویلای شم ،چې خان عبدالصمد خان د پښتونخوا دخپلواکۍ په مبارزه کې داسې یو کرکټر دی ،چې دهغه په لارښوونه او ارشاداتو باندې سړی په هر ډول انساني معاملو کې باور کولای شي، زه دده پښتون کرکټر د پښتون تاریخ د اوږدې تجربې محصول بولم ،چې په دغه ټولنه کې یې ددغه قام له تلپاتې ارزښتونو سره وده کړیده. وفا ، تعلیم، مقاومت او آزادي هغه جوړونکي ټکي دي ،چې دده پښتني کرکټر ورباندې ولاړ دی استعمار او سامراج ډېره هڅه وکړه ،چې بېلا بېلو فشارونو ، شکنجو په ترڅ کې دده په هوډ او عزم کې خنډ واچوي ،لیکن هغوی په دې کې بریالي نه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې وروسته غواړم ،چې د ښاغلي جي ډي ټنډولکر دهغه کتاب نه يو څو اقتسابات در وړاندې کړم ،چې د خان عبدالصمد خان پورې اړه لري.هغه ليکلي دي، چې « د ۱۹۵۴ز دجنوري په مياشت کې د کلياني له غونډې څخه د انډين نېشنل کانګريس له خوا خان عبدالغفار خان، ډاکټر خان صاحب او خان عبدالصمد خان ته د ډېرو کالو د بندي خانې له اوسيدنې څخه وروسته يو پيغام وليږل شو ، چې شکر دی، چې دوی له بندي خانې څخه خلاص شوي دي.

په دغه موقع په خپله وينا کې ښاغلي نهرو وويل:-«زه د خپل ملګري او مشر خان عبدالغفارخان چې د خدايي بنده دی او له يوې پيړۍ څخه زيات موده د ربښتيا او ميړانې سمبول پاتې شوی دی ،په خوشي کيدويې ژوره خوښي څرګندوم، موږ د ډاکټر خان صاحب او دخان عبدالصمد خان صاحب په خوشې کيدو خوښي څرګندوو ، چې دوی د آزادۍ ډېر مېړني مبارزين دي.د دوی په خوشې کيدو ددوی مصيبتونه ختم شوي نه دي موږ دغو ټولو ته خپل سلامونه مينه او نيکې ارزوګانې وړاندې کوو.

د ۱۹۵۵ز د سپتمبر په ۱۲مه نېټه خان عبدالغفارخان په پېښور کې اعلان وکړو ،چې هغه به په بلوچستان کې د يوه يونټ د منځ له راوستلو په ضد د اجتماع لپاره يوه مبارزه شروع کېدونکې ده. هغه ته د ورور پښتون د باني بلوچ ګاندهي خان عبدالصمد خان له خوا بلوچستان ته د راتګ بلنه ورکړې شوې وه.

د ۱۹۵۶ز د جون په ۱۲مه نېټه له اتمانزو څخه تقريباً ۸ مېله لرې خان عبدالغفارخان صاحب ونيول شو او وربانديې دا تور ولګول شو ،چې ده د پاکستان د سيمه ييز يووالي ته د زيان رسولو په غرض په خلکو باندې د اغيزې کولو اداره لرله او دا هم چې ده په قانوني ډول تاسيس شوي حکومت په باب په اولس کې د کرکې را پيدا کولو پلان درلود په پاچاخان باندې دا الزام هم و، چې هغوی د عوامو د بېلو بېلو طبقو ترمنځ دښمني او نفرت را پيدا کړی دی. له پاچاخان سره سره د عوامو د تحفظ د قانون تر لاندې خان عبدالصمد خان هم ونيول شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹۵۸ز د اکتوبر په ۱۱مه نېټه خان عبدالغفارخان او د ختیځ پاکستان ۸نامتو لیډران ګرفتا رکړی شول.پاچاخان د چارسدې د تحصیل په یوه کلي کې د غني په هستوګن ځي کې ونیول شو ، خان عبدالصمدخان هم ګرفتار شو او ورته د ۱۴کالو د سخت قید جزا ورکړی شوه.

دغه پیښې چې پاچاخان او د خان شهید ترمنځه د زړونو ، د افکارو د وطن دوستۍ او کړاوونو کاللو په باب یو شان تلوسې وې او په روحي ډول هغوی د یو او بل سره ډېر نږدې وو. هغو دواړو د استعمارچیانو له منګلو څخه د وطن د آزادولو په لاره کې په ګډه قربانۍ کولې ،لیکن افسوس خو دا دی ،چې دامپراتوریت له ایجنټانو څخه وروسته دا دواړه زعیمان او داسې نور د پاکستاني مشرانو له خوا به ځورېدل او ډېر کاله یې د پاکستاني بندېخانو د تورو تنبو په شا تېر کړل.

فخرافغان خان عبدالغفارخان صاحب په خپلو سوانحو زما ژوند او جدوجهد کې خان عبدالصمدخان اڅکزی د بلوچستان د پښتنو رښتني خدمتګار او رهنما بللی دی.هغوی په خپل کتاب کې لیکلي دي ،چې خان عبدالصمدخان د پاکستان دجوړېدو په حق کې نه و عبدالصمدخان د پنجابیانو نه ډېر زړه سټری و او له پنجابیانو سره یوځای کیدو ته تیارنه و.

پاچاخان دا هم وایي ،چې زړه یې په دې ډېر خوشحاله شو ، چې پښتانه او بلوچ راویښ شوي دي او دا دپښتنو او بلوچو اتفاق و.

فخر افغان لیکلي دي ،چې موږ د بلوچستان د هغې ټولې سیمې دوره وکړه ،چې په برټش بلوچستان کې د پښتو اکثریت په کې و زما او د عبدالصمدخان دا رایه وه ،چې د بلوچستان هغې برخې ته هم لاړ شو ، چې بلوچ په کې آباد دي.

په ټول بلوچستان کې حکومت کوښښ کړی و ، چې زموږ جلسو کې ګړ بړې پیدا کړي، لیکن په پښتنو کې دومره پښتو لا پاتې وه ،چې د خپل میلمه عزت وکړي. خان عبدالغفارخان صاحب لیکلي دي، چې موږ خدایي خدمتګار د چا نه بدل نه اخلو موږ مظلومان یو زموږ بدل خدای پاک اخلي خدایي خدمتګاري یو قومي ملي تحریک دی، چې په هندو او مسلمان کې د همدردی او ورورولی جذبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيدا کوي او بل تحريک په مسلمانانو کې تعصب پيدا کوي بايد موږ د فخر افغان يوه توصيه په ياد وساتو؛ هغوی ويلي دي، چې د هر يو تحريک انحصار به ليډر وي، چې بهادر او هوښيار وي نو د تحريک خلک هم زړه ور او پوه وي، چې ليډر کمزوری او تنګ نظره وي نو د تحريک خلک هم بې زړه او تنګ نظره وي.(۱:۱۷۰-۱۸۲)

## ۲-۴-۲-دخان عبدالصمد خان اڅکزي د وفات د څلويښتم تلين په مناسبت:

داد ښاغلي بتره يوه بله ليکنه ده، چې د خان عبدالصمد خان په اړه يې ليکلې او موجوده ده. دا ليکنه يې هم په يوه اثر چې د مقالو ټولګه ده او د افغانستان دعلومو اکاډمۍ د سيمه ييزو مطالعاتو مرکز له خوا د څېړنيار رفيع الله نيازي په اهتمام ليکل شوې ده؛ په کې چاپ شوې ده. دغه ټولګه د ( پوهې او خپلواکۍ لاروی ) په نامه ياد برې او په ۱۳۹۱ل کال کې چاپ شوې ده ، دا ليکنه په (۹ ) نهو مخونو کې په همدې ټولګه کې چاپ شوه، چې دلته يې د بېلګې په ډول راوړم:

### دخان عبدالصمد خان اڅکزي د وفات د څلويښتمې کاليزې په مناسبت

خان شهيد خان عبدالصمد خان اڅکزي د هند نيمې وچې د هغو لوړو شخصيتونو څنې و، چې هغوی ددې سيمې په آسمان کې د ځلانده ستورو په شان ځلېدل هغوی له وطن سره د مينې شهيدان او د قربانۍ او ايثار خاوندان وو. داسې ښکاري ،چې هغوی د الله تعالی له خوا ددې لپاره دغې نړۍ ته استول شوي وو، چې هغوی له جابرانو، استعمارچيانو سره مجادله وکړي او له هغوی څخه خپل ګران هېواد او تاټوبی خلاص کړي او له دې الهام سره خلکو ته توان ورکړي ،چې هغوی دې بېله د چا د لاسوهنې له عزت الغني سره ژوند وکړي. هغه لافاني شخصيتونه چې موږ پرې وياړلی شو په هغو کې فخر افغان خان عبدالغفار خان او خان شهيد مخصوص مقام لري.د هند په نيمې وچه کې کومو نورو زعيمانو د ميليونو خلکو په زړونو باندې پاچاهي کوله په هغو کې مهاتماګاندهي، جواهر لال نهرو، سردار وبهـ بهايي پټېل، مولانا ابوالکلام ازاد، نيتاجي سونهايش

(c) ketabton.com: The Digital Library

چندر بوس، رفیع احمد قدوایي، آصف علي او ډاکتر خان صاحب ډېر د ذکر وړ دي.

نن موږ محترم خان شهید خان عبدالصمد خان صاحب ته د خپل عقیدت ګلان وړاندې کوو، چا چې د خپل وطن هند او د بلوچستان د آزادۍ او بقا لپاره په خپل ځان زحمتونه وګالل او د ژوند اوږدې مودې د بندي خانو د تورو تنبو په شا تیر کړل.

د خان شهید د قربانیو او فداکاریو په یادولو ورته خپل سرونه ټېټوو او دعاګانې کوو، چې خدای دی د هغوی د عزم او ټېنګې ارادې یو څاڅکی موږ ته هم راوبښي، چې موږ په دې سیمه باندې د امن او سولې د لمر لپاره زیار وباسو او د وینو او بې ځایه تویدلو د دور مخه ونیسو.

کله چې هندي خلکو به خان عبدالغفار خان صاحب سرحدي ګاندهي ویله هماغه وخت هغوی خان عبدالصمد خان صاحب په ډېر عزت او احترام سره د بلوچ ګاندهي په نامه یاداوه.

بلوڅ ګاندهي په ځان ډېر کړاوونه زغمل او د تاریخ په پاڼو کې یې یو ژور چاپ پریښود تر هغې چې ما د خان شهید د سیاست او د آزادۍ په ډګر کې د اخېستل شوې ونډې په باب مطالعه کړې ده په هغې ډېر متاثره کړی یم.

خان عبدالصمد خان صاحب په ۱۸۹۵ز کال کې د بلوچستان په ګلستان کې د خان نور محمد خان په کور کې زوکړه وکړه د خان شهید محترم پلار د اڅکزو د قبیلې مشر و او د ډېرو ځمکو خاوند و. خان شهید له پښتو څخه پرته په اردو او پارسي ژبو کې هم مهارت ترلاسه کړو. هغه په پاکستان محبسونو کې د پوهنې په ترلاسه کولو تر څوارلسم ټولګي پورې امتحانونه ورکړل او په امتیاز سره یې بریالیتوب ته ورسېد.

خان عبدالصمد خان صاحب د آزادۍ د جنګ سالار مهاتما ګاندهي تر اغېزې لاندې راغی او د عدم تشدد اصول یې خپل کړل. خان شهید د پنځه ویشتو کالو په عمر کې د یو څو بلوچو ځلمیانو په ملګرتیا انجمن وطن په نامه د یوه ګوند ډېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېښوده ،چې په هغه کې پښتانه او بلوڅان يې غړي شول.دوی په سياسي هڅو پېل وکړ او ټولنيز اصلاحات يې هم پېل کړل.

هغه غوښتل چې د بلوچستان هغه خلک چې په اجتماعي توګه پاتې شوي وو هغوی ويښ کړي او د روښان فکری ډګر کې راوستل شي.هغوی په خپلو وظيفو او حقوقو پوه کړی شي.

خان عبدالصمد خان په خپل ګران هېواد کې د مکتبونو يوه شبکه پېل کړه او د ټولنيزو بديو په ضد په مبارزو پېل وکړو. ده د بلوڅو خلکو د قانوني او سياسي حقوقو د ترلاسه کولو لپاره هم هلې ځلې شروع کړې ،د يوه نه ستړي کېدونکي مجاهد په حيث دوی په بلوڅو وګړو کې سياسي بيداري راوستله.

په هند کې په ۱۸۸۵زکال کې داندين نېشنل کانګرس بنسټ کېښودل شوی و ، چې په کې يو شمېر منورين شامل شوي وو. خان شهيد د يوه قام پرست مشر په حيث خپل اجتماعي نهضت د هندله قامي تحريک سره يو ځای کړو ، دی په انډين نېشنل کانګرس کې شامل شو او خپل انجمن وطن ګوند په کانګرس سره مربوط کړو داد هند د نيمې وچې نېکمرغي وه، چې د آزادۍ په سوله ناک جنګ کې فخر افغان خان عبدالغفار خان او خان شهيد خان عبدالصمد خان اڅکزي له مهاتما ګاندهي سره اوږه په اوږه په کار پيل وکړ.

له انګريزي استعمارچيانو څخه د هند دنيمې وچې دميليونونو خلکو د ځانونو د خلاصولو لپاره دغو دريو زعيمانو له نورو درنو مشرانو سره يو ځای کوښښونه کول هم له دې کبله دهندلوی ولس لا هم پاچا خان او خان شهيد په لوی احترام او ژوره مينه ور په يادوي.

نن موږ دخان شهيد د وفات په څلويښتمه کاليزه ورته د عقيدت ګلان وړاندې کوو. هغوی د لوړ همت، شجاعت او ننګ څښتن وا و تروسه پورې د هغوی د خصوصي صفتونو او صلاحيتونو ستاينه کېږي.

هغه د ډېر خواږه شخصيت خاوند و. ليکن د کلک عزم رهنما هم و.هغه په بلوڅو قبايلو کې د آزادۍ اود پرمختګ احساس پيدا کړو هغه د پښتنو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلوڅانو د سیاسي حقوقو د ګټلو لپاره شپه او ورځ یوه کړه، هغوی په بلوڅو خلکو کې د سیاسي بیدارۍ په را پیدا کولو بریالی شو.

د کانګرس له مشرانو سره یې ډېر نږدې مناسبات قایم شول او د هند د آزادۍ او د پاکستان د جوړېدو تر وخته پورې هغوی د ټول هند د یوه ملي مشر په حیث مشهور و.

کله چې پاکستان منځ ته راغی نو خان شهید په مېړانه ډول د یوه خپلواک بلوچستان لپاره مبارزې ته دوام ورکړو.

د ښاغلي محمد علي جناح تر امر لاندې هغه ونیول شو او په ۱۹۵۴ز کال کې خوشی کړی شو، بیا په ۱۹۵۸ز کال کې بیا ګرفتار کړای شو او د محاکمې له خوا ورته د څوارلسو کالو د بند جزا ورکړی شوه. لیکن په ۱۹۶۸ز کال کې بیا ازاد کړای شو.

نوموړي لا له بندیخانې څخه نه و وتلی، چې بېرته د یوه کال لپاره زندان ته وروغورځول شو. هغوی د پاکستان په هرې پورجېل، حیدراباد جېل، مچ جېل، سکهر جېل، ملتان جېل او د کویټې په جېل کې ډېر کلونه تېر کړل، د مارشال ایوب خان د ون یونټ پیشنهاد د پښتنو او د بلوڅانو د بربادۍ منصوبه وه کله چې موږ د خان شهید په خوځنده مبارزه نظر واچوو او د هغوی د زنداني کېدو په مختلفو دورو غور وکړو نو راته معلومه به شي، چې هغوی تل خپلو سیاسي هلو ځلو ته نوې بڼه ور په ګوته کړه نوموړی د خپلې سیمې یو داسې با نفوذه شخصیت و، چې ټولو خلکو یې د یوه رهبر او لارښوونکي په نظر کتل هغوی په جرګو کې د انګریزي امپراتوریانو په ضد ډېرې ویناوې کولې.

فخر افغان پاچا خان په خپل کتاب کې لیکلي دي:

ډېرې مودې نه زموږ بلوڅو ورونو دا خواهش و، چې زه دې بلوچستان ته ولاړ شم. ما ډېر ځله کوښښ وکړو نو حکومت نه پرېښودم په دغه ورځو کې عبدالصمد خان اڅکزي چې د بلوچستان د پښتنو رینښتنی خدمتګار او رهنما دی په ما زور ولګاوه، چې ته بلوچستان ته ولاړ شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محترم ښاغلي عبدالله بختاني خدمتګار په وينا د خداى خدمتګارو د مشر او رهبر په تېرو لنډو عباراتو کې دده او عبدالصمد خان ترمنځ نږدې روابط، د زړه له کومې مينه او احترام په ښه شان ځلېږي.

برتانوي استعمارګرانو هېڅکله هم نه غوښتل، چې پښتونخوا او بلوچستان، خان عبدالغفار خان او خان عبدالصمد خان يوتر بله سره ارتباط ولري.

زه د خان د مبارزې د برياليتوب نوى راز په دې ګورم، چې ده هم پښتانه د خپل حق خود ارادیت ډګر ته يوازې له تورې سره نه هڅول، بلکې لوى هدف يې دا و، چې دغه زړه ور او مېړنى قوم بايد قلم هم له ياده ونه باسي خان په خپله يوازې سياستمدار نه و هغه په خپل وخت کې د پښتني، فرهنګي او تعليمي حرکت يو فعال غړى و. د هغه مقاومت يو فرهنګي او سياسي مقاومت و لکه چې له خوشحال ځخه پښتنو ته په ميراث ور رسيدلى و په نړۍ کې د آزادۍ غوښتنې هغه مقاومت يو برى مقاومت او غورځنګ بلل کېږي، چې هغه په مدبرانه توګه د پياوړو او مفکرو لارښوونکو له خوا لارښوونه وشي فکر کوم، چې د يوه ملي مقاومت په مبارزه کې د هغه مقاومت لارښوونه تر هرڅه مهمه او د پاملرنې وړ ده.

يونامتو ليکوال چې ډې تنډولکر په خپل کتاب کې ليکلي دي، چې د **۱۹۵۴**ز کال د جنورې په مياشت کې د کليانۍ له غونډې ځخه د انډين نېشنل کانګرس له خوا خان عبدالغفار خان، ډاکتر خان صاحب او خان عبدالصمد خان ته د ډېرو کلونو د بنديخانې له اوسيدنې ځخه وروسته يو پيغام ولېږل شو، شکر دى چې دوى له بنديخانې ځخه خلاص شوي دي په دغه موقع په خپله وينا کې پنډت جواهر لال نهرو وويل: زه د خپل ملګري او مشر خان عبدالغفار خان چې د خداى بنده دى او له يوې پېړۍ ځخه زياته موده د رښتيا او مېړانې سمبول پاتې شوى دى په خوشي کېدو ژوره خوښي ځرګندوم. موږ د ډاکتر خان صاحب او د خان عبدالصمد خان په خوشې کېدو خوښي ځرګندو، چې دوى د آزادۍ ډېر مېړني مبارزين دي. د دوى په خوشې کېدو هم د دوى مصيبتونه ختم نه دي موږ دغو ټولو ته خپل سلامونه، مينه او نيکې ارزوګانې وړاندې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې پېښې دا ثابتوي چې د پاچا خان چې د فخر افغان او د خان شهید تر منځه د زړونو، د افکارو ، د وطن دوستۍ او د کړاوونو د ګاللو په باب يو شان تلوسې وې او په روحي ډول هغوی له يوه او بل سره ډېر نږدې وو.

هغوی دواړو له استعمارچيانو څخه د وطن د مور د آزادولو په لاره کې په ګډه قرباني کولې ليکن افسوس خو دا دی ،چې د امپراتوريت له ايجنټانو څخه وروسته دا دواړه زعيمان او د اسې نور د پاکستان مقاماتو له خوا به ځوربدل او ډېر کاله يې په پاکستاني بنديخانو کې تېر کړل.

فخر افغان خان عبدالصمد خان اڅکزي د بلوچستان د پښتو رښتنی خدمتګار بللی دی پاچا خان دا هم ويلي دي ،چې زړه يې په دې ډېر خوشحاله شو ، چې پښتانه او بلوڅ راويښ شوي دي او دا د پښتنو او بلوڅو اتفاق و.

فخرافغان ليکلي دي،چې مونږ د بلوچستان د هغې ټولې علاقې دوره وکړه ،چې په برټش بلوچستان کې د پښتنو اکثريت په کې و. زما او د عبدالصمد خان دا رايه وه ،چې د بلوچستان هغې برخې ته هم لاړ شو ، چې بلوڅ په کې آباد دي.

په ټول بلوچستان کې حکومت کوشش کړی و ،چې زمونږ جلسو کې ګړبړي پيدا کړي ليکن په پښتنو کې دومره پښتو لا پاتې وه، چې د خپل مېلمه عزت وکړي.

بايد مونږ د فخر افغان يوه توصيه په ياد وساتو هغوی ويلي دي ،چې د هر يو تحريک ليډر چې بهادر او هوښيار وي نو د تحريک خلک هم زړه ور او پوه وي که ليډر کمزوری او تنګ نظره وي نو د تحريک خلک يې هم بې زړه او تنګ نظره وي.

خان شهيد د يوه لوی او پراخ زړه څښتن و ، هغوی له نورو ادبي او ژبني کارونو څخه پرته د هند د قامي ليډر مولانا ابوالکلام آزاد د مشهور اثر ترجمان القران پښتو ترجمه هم کړېده .هغوی د پښتو ادبياتو له ودې او رشد سره جدي مينه ساتله.

نوميالی اديب او شاعر همېش خليل ليکلي دي: « اڅکزی خان د آزادۍ يو نوموړی جرنيل او د پښتو ادب هغه نامتو ليکوال دی ، چې د قامي خدماتو ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطن د آزادۍ د کارنامو او د توري نه علاوه نن ټوله پښتونخوا د هغوی په ادبي کارونو هم نازېږي.

د شرقي ژبو پروفیسور نیکولای الیکساندرویچ دوریانکوف لیکلي دي، چې د بلوچستان د سیاسي پارټۍ مشر او موسس خان عبدالصمد خان اڅکزي له خپلې ژبې پښتو سره طبیعي مینه لري او ډېر خدمت ورته کوي ده په دې لار کې ډېر کار کړی دی، ډېر آثار یې لیکلي دي او ډېر آثار یې ترجمه کړي او پښتو یې ور باندې غني کړې ده. ده پښتو ته مخصوصه الفبا وضع کړې ده او د خپل مخصوص لیکدود چې ده منځ ته راوړی دی کلک پلوی یې دی او ټېنګار ورباندې کوي.

پروفیسور سیال کاکړ په خپل کتاب «د پښتنانه لیکوال» کې لیکلي دي: « شهید ملت خان عبدالصمد خان نه یوازې د ګرانې پښتو یو لوی پلوی و، بلکې موږ دغه پتوال پښتون د خپلې ژبې د هغو خوږ ژبو لیکوالو په کتار کې دروو، چې د خپلو هراړخیزو لیکنو له کبله د ادبي درجې حق لري.شهید ملت د پښتو لیواله او ددغې تاریخي ژبې یو بې مثاله علاقمند و. خان شهید ډېر کتابونه او آثار په پښتو ترجمه کړي او اولس ته یې په روانه پښتو وړاندې کړي دي ،همدارنګه دی خپل تالیفات هم لري ،چې آثار یې دي ترجمې نه دي.

پروفیسور سیال کاکړ دا هم لیکلي دي ،چې خان عبدالصمد خان صاحب په پښتو مشاعرو کې ګډون کاوه دا د هغوی د پښتو د مینې علاقې ښکاره ثبوت دی، چې هغه یې له خپلې ژبې او ادب سره لري. خان غوښتل چې په پښتنې ټولنه کې د شاعر مقام د درناوي وړ وګرځي.

خان شهید د یوه ټېنګ شخصیت خاوند و او یو سوچه قام پرست مسلمان و ،له فرقه دارانه اختلافاتو څخه د باندې و هغوی نه یوازې د برتانوي امپراتوریت مخالفت کاوه بلکې د فرقه دارانه عناصرو په ضد هم وو هغه یو ستر وطن دوست، نه ستړی کېدونکی مبارز او د اجتماعي انصاف یو لوی قهرمان منل کېږي.

یوه خبره باید د تاریخي حقیقت له مخې وکړو دغه ټکي تر هر څه دمخه را جوتېږي ،چې هند او افغانستان هېڅکله له یوه او بل څخه نه بېل شوي او نه چا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی د ببلولو په نیمګړو هڅو کې بری مونډلی دی. هندي کلتور، تاریخ او فرهنګ، پښتون کلتور، تاریخ او فرهنګ له خپل ځان څخه بېل او پردي نه بولي.

خدای خدمتګاران د هند دآزادۍ سالاران او فدایان وو د هغوی قربانۍ او ملاتړ و، چې د هند نومیالي مشر مهاتماګانډهي د دوی فداکارانه مبارزه وستایله او د دوی د عدم تشدد مبارزه او مقاومت یې د یوه عالي عبادت په توګه وارزاوه.

د پاچا خان او د خان شهید ترمنځه د زړونو، د افکارو، د وطن دوستی او د کړاوونو د ګاللو په باب یو شان تلوسې وې او په روحي ډول هغوی له یو او بل سره ډېر نږدې وو .هغوی له استعمارچیانو سره په مجادله کې په ګډه قربانۍ کولې لیکن افسوس خو دادی ،چې له امپراتوریانو څخه وروسته دا دواړه زعیمان او داسې نور د پاکستان په بندي خانو کې د جزاګانو زغملو ته اړ کړی شول.

داوخت دی ،چې موږ د هغوی سیاسي او فرهنګي مشرانو یادګېرنه کوو. موږ ته یې د یوه جابر استعماریت په ضد د مبارزې لاربښوونه وکړه او په خپلو ځانونو باندې د اذیتونو په زغملو د عدم دتشد له لیاري د آزادۍ د ناوې د ګټلو ثواب راوبخښلو.

تلپاتې دې وي ددغو مشرانو سیاسي کارنامې او ښاد دې وي د هغوی پاک روح . (۱۳۹-۱۳۱:۲)

## ۳-۴-۲- خان عبدالصمد خان اڅکزی :

دا هم د ښاغلي بتره بله لیکنه د خان عبدالصمد خان اڅکزي په اړه ده، چې دمقالو په ټولګه کې چاپ شوې ده. دا ټولګه د سرحداتو چارو وزارت د نشراتو او فرهنګي چارو ریاست له خوا په ۱۳۷۰ل کال کې چاپ شوې ده.

دا لیکنه په یوولسو (۱۱) مخونو کې چاپ شوې ده. په دې لیکنه کې د خان عبدالصمد خان د مبارزو بیان په کې شوی دی او دده شجاعت او توره په کې ذکر شوې ده، چې لاندې به یې ذکر کړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خان عبدالصمد خان اڅکزی

دامنلې خبره ده، چې غلامي بدبختي ده او دا له مرګه هم بد شی ګڼل کېږي.هرکله چې یو قام دکوم استعماري طاقت ترسلطې لاندې راځي،نو دهغه غیرت مند ان زامن دغلامۍ دجغ له غاړې څخه دایستلو لپاره میدان ته وځي او ځان هرشان قربانیو ته چمتو کوي.یو وخت انګلستان یولوی استعماري طاقت و،چې دهند په ټوله نیمه وچه باندې یې غلبه قایمه کړې وه،انګریزانو نه یوازې په سیاسي ډول دهند دخلکو دروح ټکولو هڅې کولې ،بلکې په اجتماعي اوذهني ډول یې هم په اولس پرهارونه کول او دخلکو په وینویې دخپل جابرانه امپراتوریت پیالې ډکولې.

په هند کې په ۱۸۸۵ زکال کې دانډین نیشنل کانګرس بنسټ کېښودل شو،چې په کې یو شوتنه منورین او مفکران شامل شول.ددې نه تقریبا پنځه دیرش کاله وروسته څه وخت چې موهن داس کرمچند ګاندهي په سویلي افریقا کې د سپین پوستکو دنسلي توپیر د سیاست په ضد دلومړۍ مجادلې په پای کې خپل وطن هند ته راورسید ،نو دپرنګیانو استعماري حکومت ډېر پیاوړی شوی و.

ګاندهي جي په سویلي افریقاکې دعدم تشدد په اساس مجادله کوله او ترڅه حده پورې یې بریالیتوب هم موندلی و.ګاندهي جي دهند په نیمه قاره دپردیوله استعمارڅخه ډېرخپه و او دوی غوښتل چې دوطن دنجات لپاره دعدم تشددلاره اختیارکړي ،لیکن دځینو خلکو نظریه ددې برعکس وه.دهغوی په فکرد هند په شان لوی هېواد کې به دا لاره ګټه وره نه ثابتېږي.هغوی د زیاتو اغېزناکو قدمونو د اوچتولو وکالت وکړ.

لیکن ګاندهي جي په خپل عزم ټینګ ولاړ و او ددوی یقین و ،چې دومره لوی امپراطوریت دهند له سرحد ونو څخه یوازې په زورنشي شړل کېدای باید دملي هدف دترلاسه کولو لپاره نوي تجربه وکړی شي.نودوی د سیتره ګره ،دلوړې داعتصاب او دتشدد په مقابل کې دتحمل او دزغملو لاره ونیوله.په یو څو کلونو کې دغه سیاست دیوه پراخ انقلاب بڼه اختیارکړه او په ټول هېواد کې دآزادۍ او خپلواکۍ نهضت خپور شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د هند د نیمې قارې نیکمرغي وه، چې د آزادۍ په سوله ناک جنګ کې فخرافغان خان عبدالغفار خان او خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي د ګاندي هي جي سره اوږه په اوږه په کار پیل وکړ. د آزادۍ د مجادلې د ګډ مقصد د ترلاسه کولو لپاره چې د غه دري زعیمانو د نورو د رنو مشرانو سره یوځای کوښښونه کول، نوله دې کبله پاچا خان ته به خلکو په مینه سرحدي ګاندهي ویل او خان شهید ته د بلوچ ګاندهي خطاب ورکاوه. تردې ورځې پورې د هند خلک دغه دواړه مشران په لوی احترام او په ژوره مینه په همدا سې توګه درپه یادوي. نن مورږ د خان شهید د زیږیدنې دا تیا یمې کالیزې ورځې د نمانځنې او درته د عقیدت ګلانو د وړاندې کولو لپاره دا سمینار جوړ کړی دی. نو په دې ورځ د خان شهید مقدس یاد تازه کیږي او د هغوی د فعال او له غورزو پرزو څخه ډک ژوند انه څخه د مثال اخیستلو موقع را پیدا کیږي.

خان شهید عبدالصمد خان اڅکزی په ۱۹۵۷ ز کال کې د بلوچستان په تاریخي سیمې ګلستان کې وزیږیده. د دوی پلار خان نور محمد خان اڅکزی د خپل قام یو نومیالی مشر او د خلکو ډیر محبوب سړی و. هغه د لوړ همت، شجاعت او ننګ څښتن و، خان عبدالصمد خان په وړکتوب کې د لوی صلاحیت او زیار مثال پیدا کړو. په زلمیتوب یې د قام پرستی او خپلو وګړو سره د مینې او د هغوی د ښیګړې احساسات ښکاره کړل. هغوی د انګریزانو د استعمار په ضد مبارزه شروع کړه او د دې کار لپاره د سویلي محکوم پښتونستان کویټه غوره کړه. په هند کې د ۱۹۲۸ ز کال په شاوخوا کې د آل انډیا کانګرس له خوا منظمه مبارزه شروع ده. په سرحدي صوبه کې د فخر افغان تر قیادت لاندې پښتنو د مجادلې بیرغ له کانګرس سره سره اوچت کړو. په بلوچستان کې خان عبدالصمد خان د خان محمد ایوب خان اڅکزي او د نورو مشرانو په همکارۍ یو قام پرست ګوند انجمن وطن جوړ کړو. د دې ګوند ملي فعالیتونه دومره درانه او اغیزه ناک وو، چې دا د استعمار چیانو لپاره ډېر ګران ثابت شول. د غو فعالیتونو اډین نیشنل کانګرس پام بلوچستان ته راواوښت. په سویلي محکوم پښتونستان کې د خلکو جوش لازیات شو. خان عبدالصمد خان څو وارې بندي خانو ته ولیږل شو. په د غو زندانو کې خان شهید

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلسم ،دولسم او څوارلسم ټولګيوامتحانونه خلاص کړل.هغه دډېرخواږه شخصيت خاوند ليکن دکلک عزم رهنماوګرځيد.هغې غوښتل چې په پلوچي قبايلوکې دپرمختګ احساس پيدا کړي اودوې لپاره دعلم اوپوهې ضرورت و.نوهغوی داجتماعي تحول دراوستلوپه غرض يوشميرزيات مکتبونه پرانيستل . په خپلوګړوکې دړنا دخوزولواودزاړه افکارودلرې کولوپه غرض ډېرکوښښونه وکړل .هغوی دپښتنواوبلوڅانودسياسي حقوقودګټلولپاره هم شپه اوهم ورځ يوه کړه.دخپلونه ستړه کېدونکوفعاليتونوپه برکت هغوی په بلوڅي خلکوکې دسياسي بيداری دپيداکولوکاميابي وګټله.هغوی دکانګرس له مشرانوسره ډېرنږدې مناسبات قايم کړل اودنيمې قارې دآزادی اودپاکستان دجوړېدوتروخته پورې هغوی دټول هنددیوه ملي مشرپه حيث مشهوررو.اوس هغوی دپښتونستان غوښتنه وکړله، ليکن په ۱۹۲۸م ع کال کې هغوی دتوروتنبوپه شاواچول شول.دا نجمن وطن سياسي ګوندله منځه لاړ.څه وخت چې دوی خوشې کړی شول. نودوی په زياتوفعاليتونوپيل وکړاويونوی ګوند وروروپښتون ،تاسيس کړو.دغه ګوند ډېرفعال پاتې شوليکن خان شهيد ،دفيلډمارشال ايوب خان دصدارت په دوره کې ونيول شواودڅوارلسوکالودقيدجزايي ورکړه .ليکن له لسوکالوڅخه وروسته له بندي خانې څخه خلاص کړی شو.

هغوی بيرته ديوه کال لپاره زندانونوته واستول.هغوی دپاکستان په مختلفوجيلونوکې، لکه: چې دهرې پور،حيدرآباد ،مچ،سکه،کويټه اوملتان په بندي خانوکې ډېرکلونه تيرکړل اوداسې ديوه پولادي عزم ،ټينګې ارادې ،دقام مينې اودجنګ اصولودمبارزپه حيث دتاريخ يولوی قهرمان ثابت شو.

په هندکې خلکودخان عبدالصمدخان اڅکزي لپاره ډېرمحبت اواحترام درلود ،ځکه چې هغوی دانګريزانوپرضدپرله پسې مبارزې کولې.خان شهيدڅوځلې له مهاتماګاندهي،پنډت جواهرلال نهرواومولاناابوالکلام آزاداوله نوروملي مشرانوسره يې مرکې وکړې اودعدم تشددپه اساس داستعماريت اوامپراتوريت دلرې کولولپاره يې خپلې مبارزې ته دادامه ورکولوپه پروګرام ټينګاروکړو.په خصوصي ډول له فخرافغان سره ددوی مينه بې سارې وه.پاچاخان

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپل اثر «زماژوند او جد و جهد» کې د خان شهید ذکر په تود و احساساتو کړی دی. هغوی خان عبدالصمد خان د دبلوچستان د پښتنو رښتنی خدمتګار او رهنما ګڼلی دی. پاچا خان د خان شهید په مشوره بلوچستان ته لاړ او هلته له مشرانو سره د هندوستان په سیاست ډېرې خبرې وکړې. پاچا خان یو ځو ورځې په کویټه کې تیرې کړې او بیا یې د بلوچستان او د نورو ځایونو دوره وکړه. د غه دوره د خوشحالی او کامیابی دوره وه او د پاچا خان په وینا د هغوی زړه په دې نورهم ډېر خوشحاله شو، چې پښتانه او بلوڅ راویښ شوي وو. په جلسو او جلسونو کې د پښتنو او بلوڅو د وروولۍ خبرې وشوې. پاچا خان د بلوچستان د هغې ټولې سیمې دوره وکړه، چې برټش بلوچستان کې د پښتنو اکثریت په کې و.

د خان شهید په پیشنهاد پاچا خان ورسره د بلوچستان هغې برخې ته هم لاړل ، چې بلوڅ په کې آباد وو. هلته د سرکاری افسرانو په اشارت ځینو شرانګیزو خلکو په جلسو کې د ګډېړی پیدا کولو هڅې وکړې ، ولې په پښتنو کې د ومره پښتو لا پاتې وه، چې د خپل میلمه عزت وکړي.

پاچا خان او خان شهید افسرانو ته وویل :- چې موږ د چا نه بدل نه اخلو ، موږ مظلومان یو. زموږ بدل خدای پاک اخلي. خدایي خدمتګاران یو قوي تحریک دی، چې په هندو او مسلمان کې د همدردۍ او وروولۍ جذبه پیدا کوي. هرکله چې موږ د هند د آزادۍ په تاریخ باندې نظر اچوو نو موږ په آسمان کې د پاچا خان او د خان شهید عکسونه یو ځای ګورو. دوه دوه رښتني او نیک سیرت انسانان ، په وطن مینان، د خلکو د ښیګړې شیدایان او د آزادۍ د ډیوې پتنګان.

خان شهید د نورو ملي مشرانو په څېر تل د خامتا کالي اغوستل. هغوی د خارجي او خصوصاً د استعمارچیانو د لباس او عیش او عشرت له نورو شیانو څخه کرکه لرله د هغوی د ژوند هدف له استعمار څخه د ځان د خلاصول وو. هغوی دا هم غوښتل ، چې په ټول پښتونستان کې یو والی منځ ته راولي ، په دې لړ کې خان شهید د سویلي پښتونستان په ټولو سیمو کې دوره وکړه او هرځای د دوی هرکلی وشو ، دوی تل دا خبره د خپل ژوند نه بیلیدونکې خبره ګڼله، چې د ټولو پښتنو یو هېواد پښتونستان دی. ځکه چې د پښتونستان خلک د خپل اسارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ژوند باندې هېڅکله راضي نه وي. پښتانه پښتونستان غواړي او دوی هدف د ترلاسه کولو لپاره مجادله کوي. خان عبدالصمد خان اعلان کړی و، چې زه پوخ یقین او باور لرم، چې پښتونستان به هرومرو جوړېږي خوز ریالړورو سته. آزادي د انسان فطري حق دی او د پښتونستان ولس هم خپله آزادي غواړي. خان شهید د خپل ژوند زیاتره برخه په جیلونو کې تیره کړه او هغوی یقین درلود، چې دهغوی جدوجهد به هرومرونتیجه ورکړي. که دهغوی ژوند پای ته ورسید. نونورخلک به پیدا کیږي، چې د پښتنو د ژوند کاروان دآزادۍ هدف ته تل روان وي. د پښتنونستان ولس به خپل سرنوشت په خپله وټاکي. خان شهید یو ځل دآدم خیلو اپرید وته په وینا کولو وویل، چې زمونږ له هیڅ سره دښمني نه بلکې یوازې د پښتنو د حقوقو غوښتنه ده. هغوی د پښتونستان دآزادۍ غوښتنه بیا تکرار وله او د افکریې څرګند کړ، چې پښتانه دبل چا وطن نه غواړي، بلکې خپل وطن پښتونستان غواړي. په پښتونستان کې بلوچستان هم شامل دي او څوک ددې نه انکار نشي کولای. د پېښور په یوه جلسه کې خان شهید د پښتنو نصب العین پښتونستان ښکاره کړ او دیوه آزاد او خپلواک پښتونستان مطالبه وکړه.

خان شهید د پاچاخان په شان دیوه یونټ د پلان سخت مخالفت وکړ، ځکه چې دا پلان د پښتنو د مفاداتو په ضد و. هغوی ته په پښتونستان باندې د هیچا سلطه منظوره نه وه. د ۱۹۴۷ز کال د جون په میاشت کې په بنوکې یوه قومي لویه جرګه جوړه شوه، چې په کې قاضي عطاالله خان پیشنهاد وړاندې کړ، چې د پښتنو لپاره دې یو آزاد حکومت جوړشي، چې د غه ملت په خپل ثقافتي بنیاد ولاړوي. دا پیشنهاد درایو په اتفاق تصویب شو او د پښتونستان په ټولو برخو کې ددې تایید او ملاتړ وشو.

څه وخت چې بریتانوي وایسرای د پښتونستان په باب د پاچاخان غوښتنه ونه منله نو داندین نیشنل کانګرس په عامه مجلس کې دا غوښتنه تصویب شوه. په ۱۹۴۸م ز کال کې د پاکستان پولیسو پاچاخان ونیو او جیل ته یې ورواستولو.

فخرافغان او خان شهید دواړو مشرانو انګریزانو او پاکستانیانو په جیلونو کې د خپل عمرډېرکلونه تیر کړل او ډېر ډول قربانۍ ته ځانونه پیش کړل. انګریزان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتنو مشرانو په فعالیت ټینګ وو ،لیکن د پاکستان له جوړید و څخه وروسته دهغه هېوادلېږرانو هم د پاچاخان او د خان عبدالصمد خان غوندې مشران پرې نه ښودله او دهرډول اذیتونو سامان یې مهیا کړ.خان شهید د افغانستان خلک او د پښتونستان وګړي سره وروڼه ګڼل او له همدې کبله ثوڅوځلې افغانستان ته راغی.د پښتونستان د نظریې د ښمنانو دلوی مشر خان عبدالصمد خان له منځه وړلو سازش جوړکړاوځینې قاتلان یې د دغه ستر انسان دځان دختمولولپاره وټاکل.هغوی په خپل کورکې دخوب په حال کې دیوه بم دچاودنې په اثرپه شهادت ورسیدل.دوی به داسې فکرکړی وي، چې دیوه لوی مشر دحق په رسیدوبه داتحریک ختم شي.لیکن دا بیخي غلط او بې بنیاده نظریه ده.داسې تحریکونه او جنبشونه په یوه شخصیت باندې تکیه نه لري.داد خلکو د احساساتو او آرزوګانو پورې اړه لري.پښتانه هیڅکله خپل ملي هدف څخه اړول کېدای نشي، د دغه زعیم په شهادت به هند او افغانستان کې درنځ وغم څپې وچلېدې .په هند کې د تعزیت په غونډه وکې دبلوڅ ګاندهي خان عبدالصمد خان دهېواد دآزادۍ دګټلو په لاره کې زغملي کړاونه په یاد کړی شول او هغوی دآزادۍ او خپلواکۍ یولوی قهرمان وبلل شو.همدغه راز د افغانستان مشرانو دلوی خان په شهادت افسوس او خواشیني څرګنده کړه.

یوځل فخرافغان سرحدي ګاندهي خان عبدالغفارخان فرمایلي وو ،چې که لیډربهادراو هوښیاروي نود تحریک خلک هم زړه وراوپوه وي.

خان شهید په حقیقي ډول دډېروخاصیتونو اوصلاحیتونو څښتن واو هم دغه شان فخرافغان هم یولوی قهرمان او دخلکورهنما واوله دې کبله دایقین دی ،چې پښتانه او بلوڅ فخرافغان د دغوملي مشرانو په ښودلې لاره تګ وکړي او دهغوی له خوا د پرېښودلي میراث قدراومننه وکړي.مبارزه اوس هم روانه ده.د دې لپاره ایمان اوعزم په کاردی ،ځکه چې د ایمان او عزم قوت غرونه هوارولی شي.دلویې کامیابۍ دحاصلولولپاره دخپلو شخصي احساساتو ،خواهشاتو او ګټو څخه د تیریدلو ضروت دی.په تیرو پیړیو کې د پښتنولویه تاریخي جامعه څوځلې د استعمارله سیلاب سره مخامخ شوې ده او اوس به هم په خپل فولادي عزم مخ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانـدې روان دی. کـه پښـتنو دخپل ملـي مشـرخان شـهید لـه زنـدان څخـه درس واخیسـت او دهـرډول سـربازیو ته ځـان چمتوو سـاته نو دابـه دشـهید قهرمـان درانـه یاد ته معنوي عقیدت وي.(۳:۴۱-۵۱)

## ۲-۴-۴- پیرروښان بایزید انصاري :

دا دمنوهر سنگهـ بتره یوه بله لیکنه ده، چې د بایزید انصاري کابو ټول ژوند یې په کې بیان شوی دی. د هغه ماشومتوب، جگړې او مخالفتونه په کې راوړل شوي دي.

دالیکنه په **۱۳۴۳**ل کال په کابل مجله کې چاپ شوې ده، چې اصلي لیکوال یې ډاکټر ظهورالدین دی او ژباړن یې بتره صیب دی. دا لیکنه په دو پرله پسې گڼو کې راغلې ده، چې دلته یې راوړو:

## پیرروښان بایزید انصاري

بایزیدانصاري ته د پیر روښان لقب د هغه مریدانو ورکړی و، چې دا شخص د **مغل** اعظم اکبر په دوره کې د روښاني تحریک مشر او پیاوړی مبلغ و.

متعصبو مـذهبي عالمـانو او خـارجي لیکوالـو دده پـه خصـوص کـې دا بـې انصـافي وکـړه، چـې دی یـې خلکـو تـه بـې دینـه او د خلکـو د اخلاقـو خرابوونکی معرفي کړ. مگر هر کله چې دده آثار پیدا او مطالعه شول نو دا حقیقت څرگند شو، چې بایزید یو ډېر شریف او پاک انسان و او په خلکو باندې یې ډېر ښه او قوي اثر درلود. پخوا لـه دې چې زه دا ولـیکم ،چې لیکوالـو د بایزید پـه خلاف کوم کوم الزامونه لگولي وو او پخوا له دې چې زه هغه رد کړم او یا یې ځوابونه ولیکم، زه دا خبره غوره گڼم، چې د هغه د ژوند صحیح حالات او د هغه د زیږیدنې او لوییدلو واقعات وړاندې کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**زیږېدنه او کوچني توب** :

دبایزید د ژوند د حالاتو بنسټ حالنامه نومي هغه کتاب دی، چې علي محمد ابوبکر قندهاري زوی لیکلی دی او د حالنامې بنسټ د بایزید انصاري هغه سوانح دي، چې ده په خپل قلم لیکلي دي. هر کله چې دی د ایوب انصاري (چې د رسول اکرام له اصحابو څخه و) له پښت څخه و نو له دې کبله ده ته انصاري ویل کېږي. دده د نسب سلسله په دې ډول بیان شوې ده.

بایزید بن عبدالله بن شیخ محمد بن شیخ بایزید پرنده بن شیخ سراج الدین بن چراغ دین بن شیخ ابراهیم دانشمند بن شیخ زاده حمزه بن خواجه محمود بن شیخ داود بن شیخ خلیل بن شیخ نعمان بن شیخ خداداد بن شیخ منصور بن شیخ محمد بن شیخ زاده بن خواجه ایوب انصاري.

دتذکرة الانصار مصنف د بایزید شجره اونسب په پنځو بندونو کې په دې ډول ښودلې ده، چې په هغې کې یې دده د کورنۍ د میندو ماندینو او زامنو نومونه ښودلي دي. (د اورنېټل کالج میګزین، فبروري۱۹۰۰/ ۱۹۵۵) مونږ د پورته مطلب د پوره وضاحت دپاره دا لاندې شجره وړاندې کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library




دبایزید روښان پلار عبدالله په وزیرستان کې اوسېده .دده نیکه شیخ محمد د اسونو تجارت کاوه او په دې سلسله کې به هندوستان ته تلو. شیخ محمد به اکثره په جالندهر کې له خپل هغه ورور سره اوسېده ،چې په جالندهر کې مېشت شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده یو ځل د خپل ورور نه د خپل زوی عبدالله لپاره د هغه لور وغوښتله ،دوی واده نه وروسته بایزید په جالندهر کې په ۹۳۰هـ کال کې پیدا شو.
عبدالله خپله کډه په جالندهر کې پرېښوده او دی خپل خور ملک ته ولاړ او د هغه ځای نه به یې د خپلې کډې د ګوزارې لپاره پیسې رالېږلې.
په ۹۳۱ هـ کال کې چې بابر په هندوستان حمله وکړه، نو هغه پښتانه چې په جالندهر کې یې استوګنه لرله ټول یوې خوا بلې خوا ته خپاره شول او په بهار کې یې پناه وغوښته چې په دغه ځای کې تر دغه وخته پورې افغان لښکر پروت و. لیکن اخر هغوی له دغه ځای څخه وویستل شول او د خپل ځان ساتلو لپاره وتښتېدل. دعبدالله ورور خداداد د بایزید او دده مور سره پردې بریالی شو، چې د تېښتې او په کانې ګرم وزیرستان کې له خپل ورور سره یو ځای شي.
**زده کړه او تعلیم**:
بایزیداووه کلن و، چې کانې ګرم ته ورسېده دده د پلار عبدالله یوه بله قبایلي ښځه وه، چې له هغې څخه یې یو زوی او یوه لور پیدا شوي وو.
دبایزید مور د کور دغه وضعیت نه خوښېده.له بایزید مور سره د ښې بدسلوکۍ او د مېړه سوړ وضعیت دغه حالات لا ډېر خراب کړل، چې په نتیجه کې دغه کار د دوی د بېلتون سبب شو.
د بایزید پلار داغوښتل، چې دده زوی زما په پل روان او زما په شان قاضي شي. عبدالله خپل زوی بایزید مکتب ته ولېږه. بایزید قران کریم زده کړ او عمدة السلام، مینه، قدوري، لبوب الاخبار او داسې نور کتابونه یې ولوستل هر کله چې بایزید له قضا سره هېڅ مینه نه درلوده؛ نو په دې لاره کې یې خپله مطالعه پرېښوده. یو ځل د هغه په زړه کې دا فکر پیدا شو ،چې له یوې قافلې سره مکې ته لاړ شي او په هغه ځای کې خپلې مطالعې ته دوام ورکړي. مګر دده پلار دغه کار ته پرې نه ښوده که څه هم بایزید په عربي ګرامر ښه نه پوهېده مګر سره له دې هم ده په عربي کې مقصود المومنین نومي یو کتاب ولیکه او د قرآن کریم په آیتونو ډېر ښه پوهېده او په پوره اعتماد به یې دهغو توضیحات ورکول.
**دبایزید زلمیتوب** :

(c) ketabton.com: The Digital Library

بایزید په سوداګرۍ او کرهڼه ګوتې پورې کړې. دده پلار اسونه، څاروي، د کرهڼې وړ ځمکه او د دانو اوړه کولو یو ماشین یعنې ژرنده هم لرله.څه وخت چې دده پلار د یوې تجارتي معاملې په لړ کې هندوستان ته روان شو ، نو دی هم ورسره ولاړ. لیکن دی په زړه کې د مېرې مور د بد سلوک او د خپل پلار له سوړ وضعیت څخه خپه و. یو ځل دده مېرې مور په ده د غلا تور پورې کړ.

په دې کار دی ډېر خواشینی شو او ددې تور د لرې کولو د پاره یې په خپل خدای قسم قسم وخوړ. ددې د پاره چې خپل ځان د زړه له دغه نول او تکلیف څخه خلاص کړي او د هرې ورځې له شخړو او جګړو څخه ځان بې غمه کړي په ډېره زړه ورتیا یې خپل پلار ته وویل: ، چې خپل جایداد وویشه او ماته خپله برخه را جلا کړه ، چې زه په خپله خوښه آزاد ژوند تېر کړم که څه هم د عبدالله دا کار خوښ نه و. مګر د کلي مشرانو عبدالله دې کار ته اړ کړ او دا خبره یې ومنله. بایزید ته د جایداد په برخه کې یو مزدور هم ورسید ،چې دغه مزدور د هغه پلار په موقتي ډول له ځان سره وساته او دا وعده یې ورکړه ، چې څو ورځې پس به یې درکړم. لیکن وروسته په خپله وعده پښېمانه شو او ددغه مزدور له ورکولو څخه یې انکار وکړ. بایزید په دې کار مرور شو او خپل پلار څخه یې چې د قدوري او لبوب الاخبار کتابونه شروع کړي وو د هغو درس یې پرېښود .دې نه وروسته بایزید خپل کور برابر کړ او په تجارت یې پېل وکړ ده د خپل تره شیخ حسن لور بي بي شمسي سره نکاح وکړه.

**د صداقت لټون** :

بایزید په خپل ځلمي توب کې له تفکر او عبادت سره ډېره مینه لرله او ده داسې لارې پلټلې چې د هغو په وسیله بشري ټولنه له تکلیفونو څخه خلاصه کړي. دی به د مذهبي قانون پوهانو په خپلو منځو کې په مخالفتونو او د صوفیانو په خود غرضیو او د عامو خلکو په منځ کې به په شخړو ډېر خواشینی کېده.

دی دیو داسې شخص په تکل او لټه کې و ،چې هغه ده ته د انساني عظمت او دزړه د سکون لار وروښایي هر کله چې بایزید د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا خبره واورېده ،چې تر څو چې د انسان د خدای صحیح علم په برخه نشي تر هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

که هغه زر کاله عبادت هم وکړي نو خدای به د هغه دعا او عبادت قبول نه کړي. نو په دې خبره بايزيد په فکر کې يو نوی رنګ او قوت پيدا شو.

دده د تره خداداد او بايزيد د هغه نه لارښوونه غوښتله ،چې زه د خواجه اسمعيل مريد کېدلو خيال لرم، ليکن هغه وويل : ، چې «ستا د دې کار په نتيجه کې به په خلکو کې زما وقار ډېر لږ شي ځکه چې زه د شيخ محمد په دولسو زامنو کې له ټولو څخه ډېر زيات عالم او مشهور يم او که ته زما د ورور په زوی پسې د يوه شاګرد په حيث ولاړ شي نو دا کار به زما د بدنامۍ سبب شي او زه به له تانه ډېر خپه شم. ته ملتان ته لاړ شه او هلته د شيخ بهاوالدين ذکريا له لارې څخه روحاني لارښوونه وغواړه. زه به تاته د لارې خرڅ او د پير د پاره د نذر پيسې هم درکړم ما ورته په ځواب کې وويل « خلک نذرونه وړاندې کوي او د هغوی په عوض کې خولۍ، کاسه، کمربند ، شجره نسب او نورې ننبې راوړي مګر خدايي علم او خدايي عبادت نه راوړي». زما پلار زما په دې خبره قانع نشو او زما خبره يې ونه منله زه شيخ اسمعيل ته ورغلم او د هغه نه مې وغوښتل ،چې ما په خپلو شاګردانو کې شامل کړي. ليکن هغه راته وويل تر څو چې ته د څه مودې د پاره سختې په ځان تېره نه کړې تر هغې به زه تا په خپلو اصولي شاګردانو کې وانه خلم.

د دې کار په نتيجه کې ما په خپل ضمير تکيه وکړه او قرآن کريم مې خپل لارښوونکی ومانه. ما قرآن کريم پرانېست او دا آيت مخې ته راغی. مونږ په بني نوع انسان دا خبره لازمه کړې ده، چې د خپلو والدينو خدمت وکړو او که هغوی تاسې په دې خبره مجبور کړی، چې ما سره شريک پيدا کړي، چې تاسو په هغه علم نه لری .نو په دې کار کې د هغو خبره مه منی. د دې نااميدی په اثر ما خپله لاره ونيوله او د اسعميل د مريدانو په تعقيب مې د کمو خوړلو ، کمو ويلو او لږو ببده کېدلو پېل وکړو.

بايزيد د خپلو دعاګانو او روحاني وړاندې تګ په باره کې داسې ليکي: ما څو مياشتې په خوشې ځای کې يو ازې تېرې کړې او په دې موده کې زما د خوړلو او څښلو شيان خلاص شول، ما د خپل تجارت په سلسله کې کندهار ته سفر وکړ. په هغه ځای کې يوه پېښه وشوه او هغه د اکبر د خان خانان بيرم خان سپاهيانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قافلې مال تالا کړ زه د نورو سړو سره لوی منصبدار ته ورغلم او شکایت مې ورته وکړ.

مونږ ټول د هغه د احترام دپاره د هغه په مخکې په ګونډو شو هغه مونږ سره ددې خبرې د تحقیق وعده وکړه مګر خپله وعده یې په ځای نه کړه. ددې سپک کار په ذریعه زه خپل ضمیر ملامت کړم هر کله چې زه کور ته ببرته راغلم نو ما دا پخه اراده وکړه ،چې زه به تر پنځو کلونو پورې یوازې استوګنه کوم. د یوازې والي په دې پنځو کلونو کې ما د خپل ځان او د خپلو مېلمنو دخوړلو او څښلو په شیانو کې کوم تکلیف او لړوالی ونه لید. خلک به ما ته راتلل او ما به هغو ته دا نصیحت کاوه، چې ښه کارونه کوی او د بې وزلو او بې لاسو خلکو سره مالي مرستې کوی.

بایزید چې کوم تبلیغ کاوه په هغه یې پوره عقیده لرله او مسلمانانو ته به یې په دې قهر کاوه، چې تاسو مذهبي خلق نه یاست او تاسې منافقان یاست او ښه کارونه نه کوی.

دې خبرې په خانانو او عالمانو کې ناارامي پیدا کړه دوی د بایزید پلار قاضي عبدالله ته ورغلل او هغه ته یې د شکایت په ډول وویل: ،چې ته خپل زوی خلکو ته له دوه مخیز ویلو څخه منع کړه. بایزید خپل پلار ته وویل ،چې ته زما کارونو ته ګوره او که زه د قران او سنت څخه مخالف کار کوم نو ته ما منع کړه عبدالله ورته وویل، چې ته د پټ الهام تبلیغ کوې آیا تا سره په دې شي کې کوم دلیل شته؟ بایزید ورته د قرآن کریم یو آیت ولوست ،چې مضمون یې دادی:

« تاسو خپل خدای په عذر او عاجزۍ یادوی که په پټه وي او که په جګ آواز او که سهار وي او که ماښام» او دې ته یې د بني اکرم صلی الله علیه وسلم یو حدیث ولوست چې مضمون یې دادی:

« د ټولو نه ښه دعا هغه ده چې ورو او په پټه وکړی شي او د ټولو نه ښه خوراک هغه دی چې لوږه ورکه کړي» ددې خبرې په اورېدو عبدالله چپ شو او ولاړ.

بایزید به قاضي، ملا او صفتي ته دا ویل: چې تاسې مذهبي فعالیتونه د خپل مادي ګټې دپاره کوی او هر څوک چې دیني فعالیتونه دمادي ګټو دپاره کوي ،هغوی په اخرت کې هیڅ برخه نه لري هغه د قران کریم نه دا آیت ولوست: « که

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک د خدای له قانونو سره سم حکم نه کوي هغه حقیقي منکر دی» هغه خلکو ته د خطاب په لړ کې وویل:« هر کله چې تاسو په خپلو کې له یو بل سره په مبارزو بوخت یاست نو آیا تاسې داحق لري ،چې ځانونو ته مسلمان ووایاست آیا تاسې د خدای له دې حکمونو څخه خبر نه یاست، چې مومنان ورونه دي او د ورونو په منځ کې روغه او امن پیدا کوي».

نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: « چې مسلمان هغه دی ،چې په خپله خوله او لاسونو د بل مسلمان ابرو او عزت وساتي» خلکو ددې قوي دلیلونو په مقابل کې حیران پاتې شول. لیکن سره ددې دغو خلکو له خپل مخالفت څخه لاس وانه خیست.

دبایزید شهرت په شاوخوا قبیلو کې خپورشود هغه داعادت و ،چې دورځې به یې جماعت کې پنځه وخته لمونځ کاوه د قران کریم او نور کتابونو درس به یې ورکاوه او پاتې وخت به یې په دعا او عبادت کې تېراوه خلک په ده را مات شول د بارکي قبیلې ځینو خلکو دی په خپله مشرۍ ومانه دملامامړ ورور او شاعر ملا ارزاني ،چې د هندوستان نه راغلي وو له ده څخه لارښوونه وغوښته بایزید د خپل کلي نه د باندې ووت او خلکو ته یې د امن او خوشحالۍ پیغام ورکړ. اورکزو ، اپریدو او تیرایانو ده ته د خپلې وفادارۍ وعده ورکړه بایزید سیرین ته ولاړ او په دغه ځای کې د خلیلو ، مهمندو او داودزیو قبیلو خلک دده پیروان شول د ګګیانو او یوسف زوی قبیلو خلکو به هم دده په مجلسونو کې ګډون کاوه.

د بایزید ددې رسوخ او اثر په مقابل کې دده رقیبانو ده سره حسد پیدا شو لیکن دغو خلکو دده په مقابل کې کوم عملي اقدام ځکه نشو کولای، چې دده په تابع دارانو کې ډېر پیاوړي او قوی خلک موجود وو ددې کار په اثر د بایزید رقیبانو د هغه وخت د حکومت دمداخلت غوښتنه وکړه په دې لړ کې حبیب په خپل نومي سړي د دولسو زرو روپو سره د کابل او پېښور حکمران مرزا محمد حکیم ته چې په کابل کې و ، ورغی او هغه ته یې وویل: ، چې د بایزید خیالات د مذهب نه مخالف دي او هغه د حکومت په خلاف کارونه کوي. وزیرانو ددې الزامونو تایید وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرزا محمد حکیم د پېښور د ګورنر جنس خان په ذریعه بایزید خیالات او نظریات معلوم کړې. قاضي ورته وویل: «ته وایې: ، چې په ما وحي راځي» بایزید ځواب ورکړ: « په ما وحي نه راځي، بلکې الهام راته کېږي او د خپلې دې خبرې د دلیل د پاره یې د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم دا حدیث وړاندې کړ، «الهام هغه رڼا ده، چې په زړه را کښته کېږي او په دې رڼا کې انسان د شیانو په حقیقت پوهیدلی شي». قاضي پوښتنه وکړه: « چې ته د مقصد الهام او د شیطاني وسوسې په منځ کې څنګه فرق کولای شي». بایزید ورته په ځواب کې وویل : «کوم الهام چې د قرآن کریم د مقرراتو او پیغمبر د شریعت له اصولو سره سم وي یوازې هغه صحیح الهام دی».

قاضي ورځخه یوه بله پوښتنه وکړه « دا عقل تاته چا ښودلی دی» . بایزید ځواب ورکړ: « دا زموږ د زده کړې طریقه ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مهربانۍ نه د ډکې پاملرنې په ذریعه خدای دا علم ماته را ښبلی دی». د قاضي او حاضرینو دده په دې خبرو تسلي وشوه او د معاملې رپوټ یې مرزا حکیم ته وړاندې کړ. هر کله چې د بایزید مخالفین په خپله دې د سیسه کې ناکام شول نو هغوی په ده باندې بله حمله وکړه او هغه دا چې هغوی وویل ،چې: « د بایزید مریدان پښتانه دي او دوی زموږ دښمنان دي له دې کبله د دې سړي په ملک کې په ازادانه ډول ګرځېدل د ملک د اتحاد دپاره خطرناک کار دی». بایزید ورته په ځواب کې وویل: « باید زه هرومرو په پښتنو کې واوسېږم د دې د پاره چې زه د دوی د نیکمرغۍ او لارښوونې لپاره کار کوم ځکه چې دوی ناپوه او بې لارې دي» په اخر کې مرزا حکیم دده په خبرو تسلي وشوه او ده ته یې د اعزاز په ډول یو اس او یوه چپنه ورکړه او هغه ته یې بېرته د تلو اجازت ورکړ.

هر کله چې بایزید له کابل نه په خیریت سره بېرته ستون شو ، نو په دې کار دده دښمنان ډېر پریشانه شول هغوی د یوې بلې د سیسې په فکر کې شول او هغه دا چې دوی غوښتل چې د پېښور د نوي ګورنر معصوم خان په ذریعه دی ووژني. د بایزید له مریدانو څخه یو شخص دی له دې حقیقت څخه خبر کړ او بایزید د مامن زی قبایلي سیمې ته روان شو. بایزید په دې وخت کې د خپل تبلیغ لمن پراخه کړه. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شاوخوا سیمو کې خپل خلیفه ګان وټاکل او د دولت خا ن نومي سړي په لاس یې خپل صراط التوحید نومي کتاب د اکبر پاچا حضور ته ولېږه.
اکبر ډېر خوشحاله شو او بایزید ته یې یو څو قیمتي تحفې ولېږلې. بایزید خپل یوسف نومي خلیفه په بدخشان کې مرزا سلیمان ته د یو کوچني بهرت الطالیبین (Bahrut Talibin) نومي کتاب سره ولېږه مرزا بایزید ته یو اس او یو پوستین د تحفې په ډول ولېږل او دا غوښتنه یې ورڅخه وکړه، چې زه یو ځل ستا د لیدو د پاره درځم.

**دمغلو له لښکر سره جنګونه** :

دحالنامې د (۴۰۷م) له لیکنو سره سم د توی د قبیلو ډېر خلک د بایزید مریدان وو. دې خلکو خپل پټ روحاني قوت په کار واچاوه او تل به یې د قیامت ورځ په زړه کې حاضره ګڼله. هغوی د دنیا د کارونو فکر بې فایدې او بې ګټې شی ګاڼه.
یوه ورځ یوه قافله له خپلو تجارتي مالونو سره د کابل خواته روانه وه. دغو خلکو چې له پخوا څخه یې په زړونو کې دغه خیال موجود و وویل: « خلک بې فایدې د دنیا په چارو بوخت شوي دي دوی له دې خوانه تجارتي شیان وړي او له کابله اسونه راولي په دې پرله پسې خوشو کارونو دوی څنګه خپل ژوندون ضایع کوي.» هغوی ددغې قافلې په خلکو حمله وکړه او د هغو مالونه یې اخوا دې خوا وشیندل او د اسونو د پښو لاندې یې لتاړ کړل. د قافلې خلکو داګومان وکړ، چې پښتنو په هغو حمله کړې ده هغوی ددې تالان په باره کې په کابل کې مرزا حکیم ته خبر ورکړ. هغه د حمله کوونکو ته د جزا ورکولو د پاره پنځه سوه سپاره عسکریان دغه ځای ته ورولېږل ددې لښکر مقابله یوازې د پنځلسو کسانو له خوا وشوه، چې دغه کسان د خپلو ښځو او کوچیانو سره د عسکریانو په لاس بندیان شول. بایزید مرزا حکیم ته ددې واقعې د اسبابو په خصوص کې پوره توضیحات ولېږل.
لیکن وزیرانو د بایزید په خلاف خبرې وکړې مرزا حکیم د پېښور ګورنر ته په دې مضمون یو خط ولیکه، چې بایزید بندي او مړ کړه. هر کله چې بایزید د خپل یو مرید په ذریعه له دې امرونو څخه خبر شو نو دی د مهمندوله قبیلې سره کلپانې او توی ته لاړ د پېښور ګورنر بایزید ته په دې مضمون یو خط ولیږه ،چې ماته مرزا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکیم امر را رسیدلی دی، چې زه تا بندی کړم. د پېښور ګورنر ټولې لارې او سړکونه یې بند کړل د بایزید ملګرو پخه اراده کړې وه ،چې مونږ به په خپل ټول طاقت سره مقابله کوو هغوی د بدر دغزا په شېر (۳۱۳) تنه د جنګ دپاره تیار کړل او د مغلو لښکرو ته یې ماتې ورکړه په کوم ځای کې چې دا جنګ وشو دهغه ځای نوم (آغاز پور) شو.

**د بایزید شخصیت او کرکټر** :

ددې جنګ نه وروسته د قبیلو او مغلي لښکرو ترمنځ په ښکاره ډول جنګونه پېل شول. هر کله چې مرزا سلیمان له بدخشان څخه راغی نو د اپریدو قبیلو دده لارونیوله څه وخت چې د مغلو لښکرې له پېښور څخه راغلې نو د اورکزو، اپریدو او تیرایي قبیلو د هغو په مقابله پېل وکړ او دهغوی ترمنځ ډېرې نښتې وشوې بایزید له دې شخړو څخه د ځان ژغورلو لپاره د افریدو قبیلې ته لاړ او په دغه ځای کې په ۹۸۰ هجري کال کې وفات شو. په دغه وخت کې دده زوی اووارث شیخ عمر د خپلو ملګرو په مرسته د بایزید تابوت واخیست او په غرونو او درو کې روان شول.

دشیخ عمرمخالفینو ددوی لارونیوله لیکن هغوی په خپل تګ کې بریالي شول او هغوی د بایزید مړی په بیت پور نومي ځای کې د محمد کمال (چې دده لومړی خلیفه و ) د قبر په څنګ کې ښخ کړ.

دبستان المذاهب ددې بیان تایید کوي. ملا درویزه چې د بایزید له سختو دښمنانو څخه و دده د مرګ په خصوص کې جلا خبرې کړې دي. ملا درویزه وایي: چې « هر کله چې محسن خان غازي په بایزید حمله وکړه نو بایزید غرونو ته وتښتېده بایزید د لوږې، تندې څخه په اشنغر کې مړ شو او په همدې ځای کې ښخ کړی شو. د بایزید زوی شیخ عمر له خپلو ملګر و سره د بایزید هډوکي په یوه صندوق کې واچول او هغه یې له دې لپاره ځان سره راوړل ،چې هر کله دی بېرته ژوندی شي نو ما سره به د ضرورت په وخت کې مرسته وکړي.

یوسف زو د هغه مړي ته اوراچاوه او دغه منحوص صندوق ایرې شو دهغه د هډوکو څخه لږې ډېرې ټوټې چې پاتې شوې وې هغه یې په سیند کې وغورځولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بایزید مریدانو د بایزید زیارت په کاڼي ګرام کې جوړ کړی دی او په دې کار هغوی خلک تېر باسي.

بایزید یو مذهبي شخص و او د خپلو مذهبي مقرراتو او فرایضو په ادا کولو کې لکه د نورو مسلمانانو ډېر ټېنګ و هر کله چې بایزید یو پوه متجسس سړی و نو له دې کبله به یې دعاګانو او اسلامي مقرراتو د اصلي حقیقت او مطالبو د پوهېدلو د پاره ډېر کوښښونه کول هغه دا کوښښ درلود ، چې په کوم شي ، چې مسلمانان عقیده لري باید د هغو په حقیقت هم پوه شي او عمل ور باندې وکړي.

د بایزید په زړه کې د خپل پلار او مېرې مور له هغه بد سلوک څخه چې ده سره یې په زلمیتوب کې کړی و کرکه پیدا شوې وه او دا هم یو منل شوی حقیقت دی، چې د خپلې مور څخه د جلا کېدلو په اثر ده ته ځان یوازې ښکارېده. که څه هم ده د پلار سره علاقه نه درلوده مګر سره ددې به یې هم ده ته تحفې ور لېږلې مګر هر کله چې بایزید د خپل پلار په سوړ وضعیت کې د مینې کومه ګرمي و نه لیدله نو له پلار سره یې خپل دغه دوستانه وضعیت پرېښود.

بایزید یو زړور انسان و او چې کوم شی ورته صحیح ښکاره شو په هغه به یې عمل کاوه په کومو کبرجنو او بې باکو خلکو کې به یې چې کومه نیمګړتیا او نقص ولید نو په ښکاره ډول به یې ورته وویل او ډېرو جابرو حکمرانانو په مخ کې به یې هم په ډېره زړورتیا او بې پروایۍ سره خبرې کولې. بایزید یو مجدد او مبلغ سړی و او ول ده د بنده ګۍ او روحاني مشق په ذریعه خپل شخصیت لوړ کړ او بیا یې کوم شی، چې د خلکو د پاره ګټور ولیده هغو ته یې د هغه تبلیغ وکړ. بایزید د خپل شخصیت د لوړتیا لپاره چې کوم خصوصي او شخصي طریقې استعمال کړې دي هغه دده په لیکلو کې نه دي راغلي.

لیکن دا څرګنده خبره ده ، چې بایزید د روحاني رڼا د حاصلولو لپاره اسم اعظم یو لومړی او ضروري شی ګاڼه ده ته پیر روښان ځکه ویل کېږي، چې ده خلک د ناپوهۍ له تیارو څخه رڼا ته راوستل دده زامن او لمسي ټول ښه خلک وو له دوی څخه ځینې د دښمنانو د لاسه ووژل شول. او ځینې د سیاسي فشار په مقابل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېښتې شول او د پادشاه او دربار سره يې همکاري وکړه او په سلطنت کې منصبونه قبول کړل.

**د بايزيد فلسفه او تعليم :**

د بايزيد عقيده تقريباً د نورو مسلمانانو غوندې ده ،چې په سنت او اسلام يې لرله بايزيد به تل په خپلو مجلسونو کې د قران کريم او حديث شريف په مطالبونو حوالې ورکولې او هغه پهن کړې ده او هغه څلور کتابونه دادي: حالنامه، صراط التوحيد ، خيرالبيان او مقصود المومنين هغه په دې خبره عقيده لرله ،چې د هر عبادت مقصد خداى ته رسېدل دي او همدې شي ته هغه علم التوحيد وايي: د خداى د وحدت د علم د حاصلولو لپاره د يو کامل پير لارښوونه ډېر ضروري کار دی. د خپلې دې مدعا د اثبات لپاره به هغه دا حديث شريف وړاندې کاوه:

« انسان که په سوريا ، ايران يا چين کې دی د هغه لپاره دا خبره لازمه ده، چې هغه د يوه مناسب لارښوونکي په لټه شي. څوک چې لارښوونکی نه لري هغه هېڅ عقيده نه لري ،صحيح لارښوونکی هغه دی، چې خلک د خداى لورې ته بيايي او هغوى د مادي بندونو څخه خلاصوي په يو قوم کې يو شيخ په يو لوى قوم کې د يو پيغمبر حيثيت لري».

مونږ په صحيح ډول دا فيصله نه شو کولاى، چې دا پورته حقيقتاً د پيغمبر خبرې دي ليکن بايزيد په دې خبرو پخه عقيده لرله او په دې حديثونو د بايزيد نه پخوانيو صوفيانو هم ډېرې حوالې ورکړې دي.

بايزيد شيخ ته دومره اهميت ورکوي، چې وايي: د شيخ تابعداري عيناً د پيغمبر تابعداري ده. د بايزيد په عقيده رښتنى شيخ هغه دى ،چې خپل مريدان د رياضيت د دورې نه وروسته ورو ورو د خداى د وحدت وروستي پړاو ته ورسوي. د هغه په فکر دا درجې خداى ته د رسېدلو پورې دي: شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت د مذهبي پوهانو د ټاکلو قوانينو د پيروى نوم شريعت دى. د طريقت مطلب د مادي هوسونو مغلوبول او خپل ځان د فرشتو په شان په عبادت مصروفول دي. د حقيقت مطلب بې له خداى څخه د نورو خيالونو له زړه څخه وېستل او يوازې د خداى (ج) د ذات او د هغه د جمال فکر کول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي. د معرفت مطلب د خدای(ج) موجودیت ته په زړه کې ځای ورکول او د دلیل په رڼا کې د خدای موندل دي.

د قربت مطلب په کایناتو کې د خدایي نغمو اورېدل او په هغو ځان پوهول دي. د وحدت مطلب خپل ځان له هر شی څخه جلا ساتل او په هره معامله کې یوازې له خدای (ج) څخه مرسته غوښتل دي. د توحید مطلب ځان د خدای (ج) په ذات کې ورکول او د خپل تعریف نه ځان ژغورل دي. د پورته اتو منزلونو څخه څلور یعنې شریعت، طریقت، حقیقت او معرفت په صوفیانو کې عمومیت لري او پاتې څلور یعنې قربت، وصلت، وحدت او سکونت کې څه هم په ظاهر کې نوي نومونه لري لیکن په حقیقت کې دا منزلونه له فنا او بقا څخه جلا شیان نه دي.

بایزید وایي: چې زه د دې منزلونو وروستی جګې پوړۍ ته رسیدلی یم او هرې خوا ته چې ګورم نو بې د خدای نه بل شی نه وینم ما ته یې د هغه له ذات څخه بل هېڅ شی نه ښکاري او نه زه بې د هغه د عظمت له نغمو څخه بل کوم شی اورېدلی شم.

**دبایزید د تعلیمونو لنډیز** :

هرکله چې بایزید خپل ځان په دغه راز لوړ مقام کې ولید؛ نو هغه نورو خلکو ته داسې وویل: « هر څوک چې ما ته راشي او زما د نګرانۍ لاندې روحاني ریاضتونه وکړي او د قرآن کریم په اصولو عمل وکړي او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د حدیثونو او د ولیانو او صوفیانو او د رسېدلو خلکو د ویناګانو پیروي وکړي. نو هغه به د خدای په فضل د توحید لوړ مقام ته ورسېږي او د خدای(ج) یو سپېڅلی بنده به ور څخه جوړ شي.

بایزید د خپلو تعلیمونو خلاصه او لنډیز داسې بیانوي:

د مریدانو لپاره اول دا خبره لازمه ده، چې د ټولو غیر قانوني شیانو څخه ځان وژغوري او هغوی باید لږ وخوري، لږ وڅښي او بې ځایه مصارف ونه کړي. لږې خبرې وکړي او له بدو خبرو او ښکنځولو څخه ځان وساتي او په شپه کې خدای(ج) یاد کړي او که مرید ته خوب ورشي نو هغه دې په اړخ باندې پرېوزي او چې یو پاو شپه پاتې شي نو پاځېده او اودس دې وکړي د خدای په شکرانه کې دې دوه رکعته لمونځ دې وکړي او خپل لارښوونکي ته دې مخ کړي د هغه خیال

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تصور دې په زړه کې راولي او چې سهار شي نو په ډېر خلوص دې لمونځ وکړي او تل دې د ښو خلکو ملګری اوسي. له بدو او بې باکو خلکو څخه دې ډډه وکړي ، په پټ ډول دې تل ځان د خدای په عبادت کې مصروف ساتي او تر څو چې د توحید حقیقي منزل ته نه وي رسیدلی تر هغې دې آرام نه کوي.

دا پورته خبرې د بایزید د تعلیمونو او فلسفې حقیقي تصویر دی دا څرګنده خبره ده ، چې بایزید ډېرې مطالعې وکړې او په ډېرو شیانو یې ځان پوه کړ او د خپل شخصیت د لوړتیا او تکمیل لپاره یې ډېر زیار ونه کښل سره ددې ټولو خبرو هغه د خدایي مرستې یادونه هم کوي بایزید وایي: چې ما په خوب کې خواجه خضر ولید یا مې د هاتف غیبي آواز واورید او یا ماته پټ الهام وشو.

**د بایزید مخالفت** :

د بایزید په عصر کې دده لوی دښمن اخند درویزه و ، چې هغه به د خپل استاد سید علي ترمذي سره له بایزید سره بحثونه او مناظرې کولې.

اخند درویزه یو متعصب ملا ؤ او هغه د اسلامي روایاتو او قوانینو په التزامي او ظاهري معناګانو پسې روان و او که چا به ددغو اسلامي مقرراتو له روایتي معناګانو څخه لږه بې پروا یي هم وکړه نو د اخند درویزه په خیال کې به دغه یو نوی شی ښکاریده او دغه شی به هغه له خدای څخه د انکار علامه ګڼله.

اخند درویزه هغه سړی دی، چې ده د بایزید روښان لقب په پیر تاریک بدل کړ. هغه چې کوم کتابونه لیکلي دي په هغو کې یې بایزید ته د خدای نه منکر او غیر مذهبي شخص ویلي دي او هغه کتابونه دادي: تذکرة الابرار و الاشرار او مخزن السلام اخند درویزه خپلو مریدانو ته هدایت وکړ، چې په هر ځای کې چې د بایزید لیکنې په لاس درشي هغه وسوځوی.

د چا په زړه کې چې دومره تعصب موجود وي باید د هغه د بیانونو او خبرو په منلو کې له ډېر احتیاط څخه کار واخېستل شي د ډېرې خواشینۍ وړ خبره داده ،چې هر کله اخوند درویزه په بایزید څه الزامونه لګولي دي نو په یو ځای کې یې هم د بایزید په لیکنو څه حواله نه ده ورکړې. راځی چې مونږ د اخوند درویزه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

الزامونه چې په بایزید یې لګولي دي هغه په خپله د بایزید د تحریرونو په رڼا کې وګورو، درویزه وایي:

۱. بایزید دا عقیده لرله، چې د یو انسان روح د هغه د مرګ نه وروسته په بل جسم کې بېرته اچول کېږي او دا ښرګنده خبره ده، چې دا الزام غلط دی، ځکه ځوک چې په قران او سنت پخه عقیده لري هغه هېڅکله د روح د تناسخ سلسله نشي منلی.

۲-د بایزید هر موجود شي او ژوندي مخلوق ته خدای وایي دا الزام د یوې غلط فهمۍ په اساس لګول شوی دی بایزید په خپله وایي: «ټول مخلوق، د کایناتو ټول ذرات او زه په خپله له خدای څخه جلا کوم بل شی نه یو».

۳. بایزید دا دعوه کوي، چې زه خدای او رسول یم ملا درویزه وایي: «چې بایزید دا لاندې الفاظ په خپله ګوته کې لیکلي وو».

«مقوس د قدرت خاوند دی او پاک دی، چې هغه د روڼا نړۍ د اور له نړۍ څخه جلا کړه. بایزید انصاري».

ددې الفاظونه یوازې یو متعصب انسان په بایزید الزام لګولی شي، چې هغه د خدایي دعوه کړې ده، په هغه وخت کې دې رواج عمومیت درلود، چې هر چا به په خپله ګوته کې یا یو بیت، یا یو آیت او یا یو متل لیکه او له هغې سره به یې خپل نوم لیکه په دې الفاظو کې بې د خدای له عظمت او خصوصیوتونو څخه بل هېڅ شی نشته او دې نه لاندې د بایزید نوم لیکل شوی دی.

په یو بل مهر کې بایزید د اا لفاظ وړاندې کړي دي.

با یزید مسکین:

درویزه له دې لفظونو څخه دا مطلب واخېست، چې بایزید ځان ته پیغمبر وایي: حال دا چې ددې لفظونو اصلي مطلب دا دی «بایزید غریب د هغو خلکو لارښوونکی چې بې لارې شوی.» کټ مټ همدا خبره په خپله د ملا درویزه تعریف هم کیدلی شي. ځکه چې ده هم د بې لارې خلکو په صحیح لارې ته راوستلو او ددې لپاره یې کار کاوه پیغمبر هم همدا کار کوي لیکن هغوی ته د خدای له خوا الهام کېږي بایزید د خپل مقصود المومنین نومي کتاب په مقدمه کې خپل ځان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ترټولو کوچنی حقیر او کمزوری، تابعدار معرفي کړی دی نو داسې شخص به څنګه د خپل ځان لپاره د پیغمبری دعوه وکړي دا الزام بیخي درواغ دي.

**۴.** بایزید خلک د شرعي احکامو د منلو نه منع کول یعنې د روژې نیولو لمونځ کولو، حج کولو، زکوة ورکولو او نورو څخه. بایزید خلکو ته ددې خبرې اجازه ورکړه، چې هغوی قتلونه وکړي، دخلکو مالونه تالا کړي، زنا وکړي، شراب وڅښي، ږیري وخري، او تېرو پیغمبرانو ته ښکنځلې وکړي. دا بېخي دروغ الزامونه دي او دا ځکه چې که هغه پښتنو ته دا خبرې کړی وای نو هغوی به بایزید فی الحال وژلی وای.

دبایزید له لیکنو څخه دا حقیقت په پوره ډول څرګندېږي، چې هغه خلکو ته په ډېر ټینګار دا ضرورت ښودلی دی، چې هغوی د مذهبي مقرراتو او اصولو پیروي وکړي

**۵.** بایزید د ملا سلیمان سره وکتل او ملا سلیمان له خدای(ج) څخه منکر شخص و او هغه د بایزید عقیده بیخي خرابه کړه او بایزید بیخي خدای(ج) نه منکر او بیګانه شو.

مولانا عبدالقدوس په خپله هغه مقاله کې چې د پښتو درې میاشتنی مجلې دویم ټوک دویم نمبر کې خپره شوې ده ددې خبرې کوښښ کړی دی، چې د نوموړي ملا سلیمان په راه کې احوال ولیکي په دغه مقاله کې ده ملا سلیمان، سلیمان بن حسن هندي ښودلی دی، چې د اسماعیلي فرقې مبلغ ؤاو دده پیروانو ته سلیمانیان ویل کېږي. که د اخوند درویزه په زړه کې ددې سلیمان په باره کې څه فکر وای نو ده به د خپلې عقیدې تبلیغ کړی وای لیکن د بایزید او د هغو اسمعیلیانو په لیکنو کې هېڅ کوم مناسب نه لېدل کېږي. د اسمعیلیانو اساسي عقیده تاویل دی. هغوی د قرآن کریم آیتونه فقط د یوې نښې او علامې په ډول ګڼي اویوه غیبي پټه معنی ورسره تړي او بایزید چې د قرآن کریم له آیتونو څخه کوم مطلب اخلي هغه بېخي څرګند او ښکاره دی او نه په هغې کې کوم غیبي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټ شي وي او نه کومه بله معنی لري. د اسمعاعیلي فرقې یوه بله غټه خبره داده ،چې هغوی د امام تابعداري کوي.

دبایزید په خصوص کې شاید چا دا خیال کړی وي، چې بایزید اسماعیلي عقیده قبوله کړې ده، ځکه چې دده په پیر کامل او مرشد کې د اسمعیلي امام ځیني صفات موجود وو ، لیکن د اسمعیلیانو په امام او د صوفیانو په پیر کې ډېر زیات فرق او توپیر شته دی.

۲. سربېره په ملا درویزه ځینو نور منصفانو هم بایزید بد سړی معرفي کړی دی د ( دبستان مذاهب ) نومي کتاب منصف لیکي، چې بایزید به د خپلو زامنو سره یو ځای لارې نیولې او مسافر به یې شکول. دغه منصف لیکي ،چې ده به له دغه مال څخه پنځمه برخه خپل بیت المال ته ورکوله او پاتې پېسې به یې په نورو مستحقو خلکو یعنې غریبانو ویشلې. په اسلام کې دارې او شکونې ببخي نه شوې کولای او داخبره امکان لري، چې د مغلو له لښکرو سره دده د مریدانو جنګونه شوي دي او په دغو جنګونو کې د دواړو خوا نه مړي او ژوبلې شوي وي او په دې لړکې تالانونه او ولجې شوي وې او په جنګ کې د ولجو او غنیمت اخېتسل روا دي.

دایشیایي پلټنو (Asiatic Researches) ګڼه ۱۱ مخ ۳۲۳ کې لایډن (Lyden) دفخرن الاسلام او دبستان مذاهب دځنیو برخو د ترجمې نه وروسته لیکي، چې بایزید ټېټ سړی و. په دغه لیکنه کې بایزید د اسماعیلي عقیدې پیرو ښودل شوی او دده ډېره غندنه شوې ده. دلایډن نه وروسته القسټون (Elephantine) د بایزید په خصوص کې ډېرې سپورې او سپکې خبرې لیکلې دي.

میجر ایچ – جي – راورټي دالقسټون په حواله وایي، چې بایزید دجوګیانو اصل منلی او د تناسخ د عقیدې پیرو شوی او په دې اصولو بایزید ځیني خپل نور اصول ور زیات کړي وو او په هغو کې د ټولو نه ډېره د پاملرنې وړ خبره داده ،چې دمقدسو اشخاصو په ذات کې د خدای(ج) ذات موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرالف کیرو (Sir Olaf Caroe) پټان نومي کتاب منصف د راورټي د نظریاتو د تایید په لړ کې داسې لیکي، چې د بایزید ملګرو خپل ځان ته دا حق ورکړی و، چې څوک چې د نوي علم خاوندان نه وي هغه تباه او برباد کړي او د هغو جایدادونه او مالونه غصب کړي او په دې خبرو په قبیلو کې دده د سیاسي مرستیالانو حوصلې ډېرې لوړې شوې وې. سرالف سربېره په دغو خبرو دا هم وایي چې د بایزید اصول د (Kharjite) خارجیتي نومي عقیدې بېرته ژوندي کول وو.

۷. عبدالقادر بدایوني د خپل منتخب په **۲۵۲** مخ کې په دغو افواهاتو یقین کړی او بایزید یې په بدو کارونو یو مشهور او د خدای (ج) نه منکر شخص معرفي کړی دی. فرشته په خپل نومي کتاب کې لیکي چې بایزید یو هندوستاني سړی او خپل ځان ته یې د پیرروښان لقب ورکړی و هغه پښتنو ته ورغی او هغوی یې خپل مریدان کړل. که دا پورته خبرې د بایزید داصلي عقیدو او تعلیمونو سره مقایسه کړی شي نو په څرګند ډول به ورڅخه دا نتیجه واخېستلی شي، چې دغو ټولو منصفانو او لیکونکو له بایزید سره ډېره بې انصافي کړې ده.

د بایزید د عصر لیکونکی شیخ فرید بخاري په خپل ذخیرة الخوانینین (Zakiratul Khwaninin) نومي کتاب مخ **۲۵** کې د بایزید ډېره ستاینه کړې او دهغه لیکنې یې ډېرې ستایلي دی. دې لیکي چې بایزید د ډېر جاذب شخصیت خاوند و، چا چې به ده سره رابطه پیدا کړه هغه به دده مرید شو هغه د قرآن کریم او سنت تبلیغونه کول دده د کرامتونو د لیدلو په اثر پاک زړي پښتانه به ده ته را ټول شول بایزید هغو ته دا حکم ورکړ، چې کوم شی جایز او روا وي د هغه پیروي وکړی او د ناجایزو او ناروا او شیانو څخه ځان وژغوری. هغه د خپل مرګ نه وروسته په خپل ځای سپېڅلي خلیفه ګان پرېښودل او هغوی د اسلام سنتو اوارکانو په حیث خلک په رښتني او سمه لار روان کړل.

(۸:۱۴-۲۵ \ ۳۰-۳۷)

### ۲-۴-۵- د امیر کروړ ویاړنه :

دادمنوهرسنګهـ بتره هغه انګلیسي لیکنه ده، چې په کال **۱۹۲۴**ز یا **۱۳۴۳**ل کې په افغانستان نومې مجله کې چاپ شوې ده. دا لیکنه له پښتو نه انګلیسي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړل شوې ده او دا په هغه وخت کې ژباړل شوې ده، چې بتره په افغانستان کې په کابل پوهنتون کې د پښتو ژبې د زده کړې په خاطر له هندوستان څخه را لېږل شوی و. ددې لیکنې په لومړي سر کې دامیر کروړ پېژندنه ده او ورپسې یې شعر ژباړل شوی او په وروستی برخه کې یې دهمدې شعر ځانګړتیاوې په ګوته شوي دي او په (۲) شپږو مخونو کې چاپ شوې ده(۹:۹۰۹-۱۴)

### ۲-۴-۶-داباسین سپېدې :

دا هغه اثر دی، چې منوهر سنګه بتره له پښتو نه انګلیسي ژبې ته ژباړلی دی. دا کتاب چې اصلي لیکوال یې سلیمان لایق دی د لومړي ځل لپاره په ۱۳۲۵ل کال یا ۱۹۸۲زکال کې چاپ شوی او د دویم ځل لپاره بیا په ۲۰۱۱زکال کې په کارول باغ نوي ډیلي کې چاپ شوی دی.

دا کتاب په ۱۴۹ مخونو کې په ډېره ساده او خوږه ژبه ژباړل شوی، چې د هر لوستونکي زړه کېږي چې ویې لولي.(۲۰)

### ۲-۴-۷- په افغانستان کې کرکېچ :

داد ښاغلي منوهرسنګه بتره هغه لیکنه ده، چې په هندي ژبه لیکل شوې ده او د پنجابي ټرېبون په نامه یوه ورځپاڼه کې په ۲۰۰۹زکال د فبروری په ۲۰ نېټه چاپ شوې ده، لکه څرنګه چې وویل شول دا لیکنه په هندي ژبه لیکل شوې ده نو موږ یې دلته یوازې سرلیک راوړ او ددې لیکنې له ژباړې څخه عاجزه یو.(۴)

### ۲-۴-۸- بزکشي:

بزکشي د منوهر سنګه بتره هغه چاپ شوې لیکنه ده، چې په هندي ژبه لیکل شوې ده، خو له بده مرغه موږ ته ددې اثر یا کتاب نوم نه دی څرګند، چې په کوم اثر کې چاپ شوې ده. یوازې یې موږ ته دوه پاڼې په لاس راغلې دي او دا په دوو مخونو کې چاپ شوې لیکنه ده.(۱۵)

### ۲-۴-۹-له کافرستان څخه تر نورستان پورې :

دا د ښاغلي منوهر سنګه بتره په هندي ژبه لیکل شوې لیکنه ده، چې په (لویه زمانه) ورځپاڼه کې په ۱۹۹۲زکال د جون په ۲۴مه نېټه چاپ شوې ده او همدا رنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا لیکنه په یوه بل اثر کې چې نوم یې لاس ته نه دی راغلی په درو (۳) مخونو کې چاپ شوې ده.(۴:۵)

**۲-۴-۱۰- یو یتیم ماشوم (An Orphans ID):**

دا دعبدالروف بېنوا یو ښایسته شعردی، چې منوهر سنگهـ بتره په انگلیسي ژبه ژباړلی دی او د (LMES) په نامه یوه ورځپاڼه کې چاپ شوی دی.
دغه ورځپاڼه په ۱۹۲۳ز کال کې د دسمبر په ۲۲مه نېټه په دې ورځپاڼه کې چاپ شوې ده.(۸)

**۲-۴-۱۱- تش :**

دا د سید شمس الدین مجروح پښتو شعردی، چې منوهر سنگهـ بتره په انگلیسي ژبه ژباړلی دی او په یوه اثر کې چې له بده مرغه یې نوم موږ ته په لاس نه دی راغلی په ۱۹۸۲ز کال کې چاپ شوی دی.(۱۲)
داو د ښاغلي منوهر سنگهـ بتره هغه چاپ شوي آثار، چې ما د ښاغلي استاد هېواد مل او رفیع الله نیازي په مرسته تر خپل وسه پورې پیدا کړې وو او په دې تیزس کې مې ذکر کړل.
بتره په همدې ډول نورې هم زیاتې په پښتو، انگلیسي، هسپانوي، اردو او هندي ژبه لیکنې لري، چې په آثارو، ورځپاڼو او مجلو کې چاپ شوي دي.

**۲-۵- ناچاپ آثار:**

ښاغلی منوهر سنگهـ بتره چې د هندوستان له تکړه لیکوالانو او ژورنالیستانو څخه گڼل کېږي. نه یوازې دا چې چاپ شوي آثار لري، بلکې ډېرې ناچاپ لیکنې هم لري، چې تر اوسه په کوم اثر یا رسنۍ کې نه دي چاپ شوي او اوس ددې وخت را رسیدلی دی، چې زه یې په خپل تیزس کې راولم او چاپ یې کړم.
دا لیکنې ددې ښکارندیې کوي، چې ښاغلی بترا تر نن ورځې پورې چې د ناروغی په بستر کې پروت دی، قلم یې له لاسه نه دی غورځولی او خپل کوښښ یې کړی دی او دا په خپله دده مینه له قلم، کتاب او پښتو سره ښیي.نو دا ده اوس په ترتیب او په پرله پسې توگه یې دلته ذکرکوم اوراوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲-۵-۱- دافغانستان په بیا ودانۍ کې د هند برخه :

دا یوه انګلیسي لیکنه ده، چې په ۲۰۱۱ز کال کې د بترا په قلم لیکل شوې ده.
دا لیکنه په کوم اثر، ورځپاڼه او مجله کې نه ده چاپ شوې، خو یوازې د آل انډیا د بهرنیو نشراتو په ټولو څانګو کې ویل شوې ده(۱۰).

### ۲-۵-۲-په افغانستان باندې د ترهګرو توره وریځ :

دادمنوهر سنګهـ بتره په هندي ژبه یوه لیکنه ده، چې تر اوسه نه ده چاپ شوې او دا لیکنه دده په خپلو یادښتونو کې موجوده ده(۲).
نو اوس دلته د بتره ټولې هغه لیکنې را اخلو، چې چاپ شوې نه دي او په ترتیب سره یې یو تربله لیکو، چې په دې کې زیاتره هغه لیکنې دي چې په خپله له بتره صیب سره موجودې وې. تر څو تاسو هم ګټه ترې واخلې.

### ۲-۵-۳-دهندیانواوپښتنوترمنځ ټینګه دوستي:

د هندیانو او د پښتنو ترمنځ سیاسي او کلتوري مناسبات د تواریخ د اوږدو کې روان دي ددغو روابطو رڼې پلوشې تراوسه پورې ددغو ملتونو په زړونو باندې غورځېږي او روښانه کوي یې. په هند باندې ډېرو پښتنو پاچاهانو حکومتونه کړي دي او په دې ترڅ کې د خلکو ګډ کلتور منځ ته راغلی دی. د پښتنو زاړه آثار د هند د کلتوري میراث یوه شتمنه برخه ګرځېدلې ده.
قطب منار په ډيلي کې د پاچا قطب الدین له خوا جوړ شوی دی له هغه څخه مخکې محمد غوري د ډيلي په مهرولي کې قوت الاسلام نومي جومات ودان کړی و دا دواړه آثار نن ورځ هم قایم دي او د هندیانو او د پښتنو د روابطو نماینده ګي کوي.
له قطب الدین څخه وروسته د غوري کورنۍ هغه پښتانه پاچاهان تېر شوي دي، چې په هغوی کی ملکه راضیه بیګم هم شامله ده. هغه د هند په تواریخ کې یو لوړ مقام لري.
د سلطان شمس الدین شمس په مړینه هغه په قوت الاسلام نومي جومات کې ښخ کړی شو د هغه په دوره کې د حوض خاص او حوض شمسي او نورو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرد چاپېره لوی لوی باغونه او د تفريح ځايونه جوړ کړی شول، چې خلکو به ډيلي دعرب آباد په نامه ياداوه.

له سلطان ناصر الدين څخه وروسته دده يوه وزير غياث الدين بلبن په تخت کېښناست هغه د بيتي نظام الدين تر څنګ په کلا کې يو سور محل جوړ کړ، چې خلکو به دا ځای د غياث پور په نامه ياداوه.

د غلجي کورنۍ پاچا سلطان علاوالدين غلجي د سيري په نوم يو لوی ښار ودان کړ، چې دد غه ښار کې د ورانو او نړيدلو کنډرونو او کنډوالو آثار اوس هم ليدل کېږي.

له هغه سره نږدې د کلتوري پروګرامونو لپاره يو لوی تالارهم جوړ شوی دی، چې د سيري ښاريې يو نامتواو مشهورښارد يادولو وړ او لافاني ګرځولی دی.

دغه پاچا د قوت الاسلام علايي جومات دروازه هم جوړه کړه اود جومات په لمر پريواته خوا کې يې محل هم تيار کړو.

حوض خاص ددې پاچا يادګار دی ،چې اوس يې په هند کې د تروستانو دپاره د يوه ډېرښه په زړه پورې ځای په حيث وده موندلې ده اوترنن ورځې پورې نور ډېر پرمختګونه هلته کېږي.

تخلق پښتنو دريم ډيلي د تخلق اباد په نوم ودان کړی و. سلطان غياث الدين تخلق ددغه ښار ودانونکی و. دده مقبره اود کلا ديوالونه اوس هم د يادګار په توګه موجود دي.

څلورم ډيلي چې دجهان پناه په نامه يې شهرت وموند د تخلق پښتنو دويم پاچا محمد تخلق ودان کړی و چراغ ډيلي، مسجد بېګم پور او نورې ودانۍ د هغه ډيلي يادګارونه دي.

دفيروز شاه تخلق له خوا پنځم ډيلي فيروز آبادکې جوړ شو دا ډيلي د زاړه ډيلي د باړه هندوراو څخه تر نوي ډيلي پورې خپور دی. له ډيلي دروازې څخه د باندې کابلي دروازه ده. د فيروز شاه د کوټيلی کنډرونه اوس هم موجود دي. په باړه هندو راو کې قدم شريف د فيروز آباد يادګار دی ،چې هلته د فيروز شاه تخلق د زوی شهزاده فتح خان قبر هم موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم ډيلي دغياث الدين بلبن له خوا دنظام الدين اوليا له درګاه سره نږدې جوړ کړی شو ،چې دغياث پور په نامه يادېده.

اووم ډيلي هم غوري پښتنو ودان کړو. د پښتنو له خوا جوړ شوي ښارونه او يادګارونه زمونږ د دوارو هېوادونو نږدې مناسبات په ښه شان سره ښيي. قطب مينار ډېر مشهور يادګاردی دا ۳۳۸ فټه جګوالی لري.ددې مينار په لومړي منزل کې د قران کريم آيتونه کښل شوي دي. سلطان بهلول لودي دا مينار ترميم کړ. ددې په هر منزل کې ډول ډول نقشونه جوړ شوي دي.

له مهرولي سره نږدې د سلطان ناصر الدين محمود بن شمس الدين الشمس قبر دی د سلطان غياث الدين شانداره مقبره چې اوس ودانه شوې ده له مهرولي سره نږدې ده.

زمردپور اوس د نوي ډيلي برخه ګرځېدلې ده دا کلی دغوري پښتنو د وخت او عصر دی. په دې کلي کې له ډېرو او چونې څخه جوړ پنځه برجونه دي او په دغو برجونو کې ډېر قبرونه هم شته. د زمرد پور په څنګ کې د لنګرخان پښتون مقبره ده دا هم د غوري پښتنو يادګار دی .

د تخلق کلا ته نږدې هزارستون نومې عمارت پروت دی، چې سلطان محمد تخلق ودان کړی و د شارع بدر چهاچې په وينا دا يو ډېر ښکلی اونفيس عمارت و.

د حضرت نظام الدين اوليا مقبره سلطان محمد تخلق ودانه کړې وه ،چې په پښتني طرز جوړه شوې ده.

د شيخ نصيرالدين محمود روشن چراغ دهلوي په زيارت باندې سلطان فيروزشاه تخلق ډېره عقيده لرله ده ددغه يادګار ګنبد هم ودان کړو.

د ډيلي د پير روشن چراغ زيارت ته نږدې ست پلي نومې يو ځای دی، چې په اصل کې د فيروز شاه تخلق د ښکار ځای و.

ست پلي ته نږدې کړکۍ جومات دی، چې په پخوا زمانو کې دلته د کړکۍ په نامه يو کلی و ، چې نن هم په يوه کنج کې موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اساس دغه جومات د دغه کلي په نوم مشهور شوی دی.دا جومات مربع او څلور ګبندې لري .دريو اړخونو ته يې په دې جومات کې په نهو ځايونو کې نهه برجونه جوړ کړي دي.

نورې ډېرې زينې هم شته. په ۱۸۵۷کال کې د انګريزانو په ضد د هند د آزادۍ لومړۍ جګړې په سلسله کې ډېر خلک په دې جومات کې راټول شوي وو ؛ تر ډېرو وختو پورې دلته خلکو به اورونه بل کړل او پخلي به يې کول.

دفيروز آباد په ښار فيروزشاه دمسافرو د استوګنې دپاره يو سل و شل سرايونه ودان کړي وو. دغه پاچا ۱۹ کاله پاچاهي وکړه. د دې مينار جامع جومات او د هغه مينار ډېر شهرت درلود.

فيروزشاه تخلق د اشوکا مينار له کوم ځای څخه راوړ او د فيروز آباد په کلا کې يې ښخ کړ او مينار زرين نوم يې ور باندې کېښود.

د دې شهزاده په سينه يوه ډبره پرته ده ، چې په هغه باندې د رسول اکرم (ص) د مبارک قدم نخښه ده دا ډبره د بغداد د خليفه له خوا سلطان فيروز شاه ته د سوغات په توګه لېږل شوې و ؛په دې زيارت کې د هند قومي شاعر حضرت شيخ محمد ابراهيم ذوق زيارت هم دی.

د فيروز شاه وزير فيروز شاه جهان د ترکمان دروازې او سيتارام بازار په منځ کې يو عظيم الشان جومات جوړ کړی دی ،د خان جهان قبر هم په دغه جومات کې موجود دی.

دا جومات ډېر ښکلی دی دا ويل کيږي ،چې د زلزلې ، برق او تندر غونډې آفات هم دي ودانۍ ته زيان نشي رسولی د وزير خان جهان له خوا ډېر نور جوماتونه لکه :څنګه چې د کالو سرای مسجد ، د بېګم پور مسجد ، د چوبرجي مسجد او نقد هم ودان کړی شوي دي.

د فيروز شاه د زوی محمد شاه تفلق له خوا په حوض باندې يې د خپل پلار مقبره جوړه کړه چې اوس د کنډوالې په شکل بدله شوې ده .

دلودي پښتنو يادګارونه په ښه صورت اوس هم موجود دي. د سلطان سکندر لودي مقبره ډېره شانداره ده. د دې مقبرې تر څنګه د لودي خاندان نور نامتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشخاص هم ښخ دي دا ځای د لودي باغ په نامه یادېږي او ډېر خلک د سیل لپاره هلته ځي.

د شیر شاه سوري کلا جوړول د مغل پاچا همایون له خوا پیل شوه کلا تکمیل شوه دې کلا ته خلک زړه کلا هم وایي.

د دې کلا فوسیلونه سیلم شاه سوري په چونه پاخه جوړ کړل په دې کلا کې شیر شاه سوري بې ساري عمارتونه ودان کړل.

په ۱۹۰۷م کال د پښتون پاچا حبیب الله خان په وینا د دې کلا په صحن کې یوه ځاه وکیندلی شوه.

له زړې کلا څخه یو میل لرې د عیسی خان سوري کلی دی، چې هلته د عیسی خان سوري زیارت او جومات هم دی.

د شیر شاه سوري د پنځو کالو په حکومت کې دده د پاخه تدبیر او عدالت په برکت داسې کارونه سرته ورسول شول، چې په تواریخ کې یې مثال نه موندل کېږي .دده سیاسي شعور او باداري صلاحیت بې ساری دی.

شیرشاه د اسیا له ډېرو پوهو پاچاهانو څخه ګنل کېږي، دده د پښتونوالی خویونه او د انسانیت لوړ خصلتونه د ډېرې ستاینې وړ دي.د شیر شاه د عدالت او انتظام نښې نښانې لا تراوسه د دې هېواد په خاوره کې موندل کېږي.

هغه یو ډېر عادل، مدبر او منتظم پاچا و. هغه د بزګرانو د حالت ښه کولو ته یې ډېر پام و. هغه نهایت متین او انصاف ښوونکی پاچا و. شیر شاه له بنګال څخه تر اباسیند پورې لوی سړک وویست د سړک په غاړو یې هر ځای مسافر خانې جوړې کړې د پستې او ډاک تیاری یې ونیولو ، باغونه، شفاخانې او مکتوبه یې هم جوړ کړل.

د شیر شاه سوري تر مړینې وروسته هغه د بهار په ساسرام کې د خپل پلار قبر ته نږدې خاورو ته وسپارل شو او هلته یې ور باندې یوه ښکلې مقبره جوړه کړه دده د قبر ګومبت یو قسم مخصوص عظمت لري دده د مرګ نه وروسته دده کشر زوی بلال خان په تخت کېښناست او د سلیم شاه لقب یې غوره کړو هغه اته کاله حکومت وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډيلي سليم ګړهـ کلا دده له يادګارونو څخه ده ،د مړينې وروسته هغه هم په ساسرام کې ښخ شو.

له دغو خبرو څخه په واضح ډول معلومېږي، چې د دومره نږدو اړيکو او روابطو په برکت د هنديانو او پښتنو ترمنځه ډېره راکړه ورکړه وشوه اويو او بل په ثقافت او ژوندانه باندې ژورې اغېزې وشوې.

هنديانو او په خصوصي ډول د پنجاب خلکو د پښتنو کالي اوخواړه خپل کړل د دواړو خلکو ژبو هم په يو او بل اغېزه وکړه او ډېر زيات تفاوتونه په غير ارادي توګه خلکو په خپلو ليکنو او ويناګانو کې شامل کړل. د شمالي هند وګړي د پښتنو په شان مېړانه او زړه ور دي او د يو او بل په خويونو په ښه شان سره پوهېږي.دهنديانو او افغانانو ترمنځ د دوستۍ او ملګرتيا احساسات تل ژوندي دي.

## ۲-۵-۴-په سويلي اسيا کې دافغانستان نوعيت :

په جغرافيايي اوتاريخي ډول افغانستان د اسيا د څرخ په حيث پېژندل کېده. ددغې لرغونې خاورې بېلا بېلې منظرې د شلمې پېړۍ په فضا کې ډېرې دلچسپې او حيرانوونکې ښکارېدې.

افغانستان تل له ملګرو ملتونو سره مرسته، د غېر تحريک طرفداري او د استعمار او د نژادي توپير مخالفت کړی دی. افغانستان د بې وسلې کولو داصولو له حمايت کوونکو هېوادونو څخه دی او دا په بين المللي اقتصادي همکارۍ او له سولې سره په ګډ ژوند کې اعتماد لري. ددې خبرې په پېژندلو ، چې د بېلا بېلو هېوادو ترمنځه زياترې جګړې په اقتصادي علتونو کېږي، افغانستان له ټولو ممکنو منابعو څخه د دوستانه اقتصادي مرستې د ترلاسه کولو هڅې کړې دي.

ليکن دغه هېواد هېڅکله له مرستې تړلي کوم داسې شرطونه نه دي منلي، چې د هغه په عزت النفسۍ تجاوز وکړي او يا ددې له نيکو سياسي اصولو سره تضاد ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سربېره د منځنۍ اسیا له کومو هېوادو سره د نږدې مناسباتو په لړلو سترو افغان مشرانو د هند ، جاپان او نیپال په شان د ختیځې او د سویلي اسیا له هېوادو سره ډېر نږدې مناسبات را پیدا کړل.
فقید پاچا محمد ظاهر شاه په ۱۹۶۹ع کال د جاپان په رسمي مسافرت ولاړ او درې میاشتې وروسته د جاپاني انجینرانو یوه ډله د هریرود د پروژې د مطالعې په غرض افغانستان ته راغله او په دې پروژه کې یې له افغانستان سره مرستې پېل کړې.
د یوه اسلامي هېواد په حیث افغانستان له نورو اسلامي مملکتونو سره نږدې همکاري کړې دي، لیکن له بده مرغه تراوسه پورې د ډیورنډ د کرښې لانجه هماغسې ځای په ځای پاتې ده.
د یو څو لسیزو د ناکرارۍ سربېره افغانستان اوس د منځنۍ اسیا ،سویلي اسیا او د لویدیځې اسیایي سیمې ترمنځه د یوه ځمکني پل په حیث له خپل قدرت څخه د استفادې کولو توان ځانته پیدا کړی دی. د افغانستان دې ته چمتو دی، چې د خپل مرکزیت گټې له خپلو گاونډیانو سره شریکې کړي.
د سیمه ییزې همکارۍ په اړه د سویلي اسیا د اتحادیې د څوکۍ د مشرانو په څوارلسمه غونډه کې د افغانستان ولسمشر ښاغلي حامد کرزي وویل:- چې « نور د افغانستان سیاسي او اقتصادي جلاتوب نه دی په کار، ددې په ځای د سیمه ییزې اقتصادي او سیاسي استحکام په خاطر د زیاتې اقتصادي همکاری ضرورت دي».
په همدې ډول د بهرنیو چارو وزیر ډاکټر سپانتا د سارک د وزیرانو د قونسل په غونډه کې وویل:- چې « افغانستان له خپلو گاونډیو هېوادو سره د ترانسپورت په شبکو، د انرژۍ په وسایلو او د خلکو او د افکارو په ازادانه تگ او راتگ کې ژوره دلچسپي لري».
د ۲۰۰۵م کال په دسمبر کې په کابل کې د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ په اړه یوه کامیابه غونډه وشوه د ۲۰۰۲م کال په نوامبر میاشت کې همدا شان په نوي ډیلي کې یو کانفرانس جوړ شو، په دې کانفرانس کې د کانونو، صحت، د کارگرانو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انساني وسايلو او په وچو سيمو کې د تجارت او د ترانزيت مودې تر غور لاندې ونيولی شوې.

افغانستان د اقتصادي همکارۍ د انجمن يو فعال غړی دی او د دغه انجمن د هدفونو د ترلاسه کولو د پاره په شدت سره په کار کولو بوخت دی، ځو اقتصادي ودې ته دوام ورکړي او د خلکو د ژوند معيارونه او چت کړی شي.

د ۲۰۰۷ز کال د اپريل په مياشت کې د سارک په څوارلسمه غونډه کې افغانستان د اتم غړي په حيث ومنل شو. سارک په ۱۹۸۵ز کال کې تاسيس شوی و، چې په کې بنګله ديش، بوټان، هند، مالديوز، نيپال، پاکستان او سريلانکا شامل وو.

د ۲۰۰۵ز کال په نوامبر کې د سارک د سترو مشرانو په ډهاکه کې شوې غونډه کې افغانستان هم شامل شو دا ټول کار د هند د لومړي وزير ډاکټر منموهن سنګهـ په هڅوو شو او نورو ټولو غړيو ددې پيشنهاد تاييد کړو، ځينې هېوادونه دا فکر کوي، چې افغانستان يوازې د منځنۍ اسيا برخه ده. ليکن يو شمېر زيات هېوادونه افغانستان د سويلي اسيا برخه ګڼي. ځکه چې دا هېواد په تاريخي، کلتوري او جغرافيايي ډګرونو کې له سويلي اسيا سره ټينګې اړيکې لري. چين، جاپان، سويلي کوريا، ايران، امريکا او اروپايي يونين ته ددې انجمن د مشاورينو حيثيت ورکړ شوی دی.

په تاريخي تجزيه دا ورمعلومېږي، چې هند او پاکستان دواړه له افغانستان سره د ملګرتيا مناسبات غواړي د شلو کالونه په زياته موده کې د جنګ او جدل له کبله د زيان په نتيجه کې افغانستان چې له ترهګرۍ سره په مجادله کې کوم رول لوبولی دی، په سويلي اسيا کې د مصالحت او د امن د په ځای کولو د پاره ددغه هېواد له ګډون څخه غير هېڅ امکان نشته.

که د سويلي اسيا مملکتونه د همکارۍ په خپلو هڅو کې بريالي شي، نو ښايي چې سارک به د اروپايي يونين او د اسياغوندې انجمنونو په نسبت هم د نفوسو په لحاظ تر ټولو نه لوی وي او که دا سې وي، نو په دې سيمه کې به د همکارۍ نوي ودوانۍ پرانزي کوم، چې دا هېوادونه زيات اقتصادي، سياسي او نظامي قدرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته هم ورسوي. هر چاته معلومه ده، چې سارک په کرهنې، کليوالي ودې، صحت، نفوسو، د ښځو او د ماشومانو ښېګړې، چاپېريال، ساينس او تکنالوجي، ټرانسپورټ او د انساني انکشاف په معاملو کې ډېره فعاله برخه لري. د افغانستان د سارک د غړيتوب په برکت د سويلي اسيا او د منځنۍ اسيا د سيمو ترمنځه د يوه نوي حرکت قوت را پيښ شوی دی.

افغانستان ليواله دی، چې د تجارت په اړه ښه موقع منځ ته راولي، د سيمه ييزو د اورګاډو او د سړکونو په شبکو کې شرکت ومومي د سيمه ييزو د انرژۍ په بازارونو کې د يوه مهم انډيوال حيثيت ولري ،د مخدره شيانو تجارت له منځه وباسي او د طلايي عصر د ودې مقصدونه ترلاسه کړي.

په افغانستان کې تخميناً د طبيعي ګاز سل بليون مکعب مترو ته نږدې ذخيرې دي. په اوسني حال کې هېواد اټکلاً شل ميليونه مکعب متره ګاز په کال کې پيدا کوي او دا ټول هېواد دننه استهلاک کېږي.

د يوه او دبل هېواد د سړکونو دجوړېدو په واسطه به سيمه ييز تجارت پر مخ روان شي.

پاکستان نه پرېږدي چې هند د سړک له لیارې افغانستان ته صادرات وکړي نو دې قضيې سره به په جزي توګه د مجادلې دپاره هند د ديلارام او د زرنج ترمنځه له دوو سوو کيلومترو څخه زيات اوږد سړک جوړ کړ.

د سارک د غړيو هېوادوله خوا يوه داسې لوظنامه لاسليک شوې ده له کومې تر مخې چې به د تجارت يوه آزاده ساحه منځ ته راوستلی شي. ددې تر لاندې افغانستان به د منطقې يوه پراخ بازار ته ځان ورسولی شي ،چې په کې به د تجارت ترجيحي مواقع برابرې وي.

د سارک غړيوهېوادو يو لړ لوظنامې لاسليک کړې دي، چې د ترهګرۍ، د مخدره شيانو د تجارت، د ښځو او د ماشومانو د راوړلو وړلو او فعاليتونو سره مجادله وکړی شي. دوی د ترهګرۍ دپاره د پانګو د مخې نيولو اود هغو د چقولو په اړه يو اضافي پروتوکول هم امضا کړی دی. د سارک په واسطه اعتماد زياتېدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. سیمه ییزې اداري منځ ته راوستلی کېدای شي، اساسي چوکاټونه تیار کېدای شي او له انکشافي مؤسسو سره په ګډه کار کېدای شي.

که په سویلي اسیا کې د افغانستان په شمول د خلکو ترمنځه تماسونه او په تجارت کې اسانتیاوې زیاتې شي نو یو نیم بلیون نفوس ترې ګټه کولای شي ټوله نړۍ ددې نه استفاده کولای شي.

دلرغونو تاریخي زمانو راهیسې افغانستان د سویلي اسیا د سلامتیا لپاره ډېر ارزښت ورډی. په نولسمه پیړۍ کې تر بریتانوي پالیسۍ لاندې د افغانستان حیثیت په هندي نیمې قارې کې د یفرستېټ یعني د یوه بېطرفه هېواد په توګه ومنل شو.

لیکن کله چې د ثور انقلاب راغی نو له هغه وروسته په لوی شمېر کې د بې کوره شوو کسانو بهیر د پاکستان په لور روان شو او د مهاجرینو د حرکت په علت په پاکستان کې ډېر فشار را پیدا شو.

په افغانستان کې د مجاهدینو فدایي جملې زیاتې سختې او تندې شوي دي، د کومو له کبله چې ډېر ځاني تلفات کېږي د لویدیځو هېوادو ځواکونو هم په افغانستان کې موجود دي دهغوی او د مجاهدینو ترمنځه یو نه ختمېدونکي جګړه لا اوس هم روانه ده.

دا وضعیت یو شان د ټولې سویلي اسیایي دمنطقې د امن او سولې دپاره خطر دی.

په دې زمانه کې په سویلي اسیا کې د کرارۍ او د امن ضرورت دی. د پاکستان او افغانستان ترمنځه او ددغو هېوادو دننه د ترهګرۍ د فعالیتونو د مخې نیولو حاجت د میلیونو خلکو د ژوند د معیار د اوچتولو مسله د هر چا پام غواړي باید په دې منطقه کې سیاستمداران او مفکرین په ګډه کار وکړي او یو ځای تفاهم منځ ته راوړي باید زړه ور او پوه افغان ملت د پوهې او یووالي مثال وګرځي.

دافغانانو ورونو او خویندو، په ویاړ د هند حکومت اعلان کړی دی، چې په روانه میاشت کې یعنې په مارچ ۲۰۱۱ز کې افغانستان ته یو لک ټنه غله به په وړیا توګه ورکول کېږي. تل دې وي د هند او افغانستان وروالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۵-۵- د هند په علمي ادارو کې د پښتو تصنیفونه :

کله چې زه په ۱۹۲۳-۱۹۲۴ز کال کې د لومړي ځل لپاره مې د کابل مسافرت کړی و، نو له نورو نامتو ادیبانو څخه پرته د مشهور پښتو پوهـاو نومیالی شخصیت پوهاند ښاغلي صدیق الله رښتین سره هم معرفي شوی وم. د دې کتنې په دوران کې هغه ماته وویل، چې څه موده پخوا هغه د هند په ځینو علمي ادارو او کتابخانو کې پښتو نسخې کتلې وې هغه په دغو موندنو ډېر خوشحاله و. نوموړي زیاته کړه، چې هغه یوازې د رامپور په رضا کتابخانه کې د پښتو شلو ښښت قلمي نسخې موندلې وې. دغه شان د ډیلي د ملي میوزیم اټکلا او د کلکتې د ایشیایي ټولنې په کتابخانو کې او یا (۷۰)نسخې دده تر سترګو لاندې راغلې وې.

څو کاله وروسته یو بل روشنفکر ښاغلي زلمي هېواد مل هم د هند مسافرت وکړ، چې لومړی مقصد یې په بېلا بېلو کتابخانو کې د پښتو د ادبي مرغلرو لټول وو. هغه د ډیلي او رامپور څخه پرته د علیګړھ مسلم پوهنتون مولانا ابوالکلام ازاد لایبریري (کتابتون) د لکنهو ستېټ ارکایوز، د پټنې خدا بخش پبلک لایبریري(کتابتون)، د بنګال ایشیا ټک لایبریري(کتابتون)، د کلکتې وکټور یا میوریال، د کلکتې نیشنل لایبریري( کتابتون)، د حیدرآباد سالارجنګ میوزیم، د دکن اور ینټیل مینیو سکرپټ لایبریري او د تخلق آباد انډین انسټیټوت اف اسلامک سټډیز ته لاړ. له دغو ادارو څخه پرته د ډیلي د پوهنتون په کتابتون کې، د ټونک په اینډبک پرشین ریسرچ انسټیټوت او په ځینو نورو ادارو کې هم د پښتو علمي نسخې موندلی شوو.

د رامپور په رضا لایبریري کې تفیسر افضلیه چې مترجم یې افضل خان عمر خېل دی موجود دی، نسخه د درې کرښېزو سرو او آبي جدولونو ترمنځ په توره سیاهي کښل شوې ده، خو قرآني ایات یې په سره رنګ کښلي دي. د نسخې د لومړی پاڼې د الف مخ پر تندي یو مربع ګلدار مهر لګیدلی دی.

د تفسیرافضلیه د دویم ټوک خصوصیات کټ مټ د لومړي ټوک په شان دي.بله دعلي محمد مخلص په لیک یوه تصوفي رساله ده، چې منظومې برخې هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رساله د پېل او پای له خوا بشپړه ده. د نسخې په پای کې ځينې متفرق ياداښتونه هم راغلي دي.

رشيد البيان د عبدالرشيد د نظمونو مجموعه د هنري ارزښت لرونکو نسخو په لړ کې حسابېدلی شي. دا د ډيلي موزيم په کتابتون کې موجوده ده.

همدغه شان د عبدالرشيد پنځه نورې نسخې په هند کې پرتې دي، چې يوه ورځخه په رضا لايبريري (کتابتون) کې ده او يوه د تخلق آباد په انډين انسټيټوټ آف اسلاميک سټډيز کې ده.

فرحت المجتبی د بايزيد روښان نسخه چې د بادشاه فرخ سير په عهد کې ليکل شوې وه د ډيلي د ميوزيم په کتابتون کې موجوده ده.

ددې خطاط ګل محمد روښاني دی. په دې کې ځای په سره رنګ عبارات هم راغلي دي. نسخه د کاتب په خط د پانو نومرې لري.

د خوشحال خان خټک فصلنامه د رضا لايبريري (کتابتون) په پښتو کولکشن کې ده، چې عناوين يې په سره رنګ دي تر بسم الله وروسته پېل يې داسې دی:

که سل سل ثنا په هغه ښايي چې ثنا يې هر څوک وايي

که څوک کوزدي که څوک پاس دي

دده واړه په سپاس دي

پانې يې داسې دي:

که تر دا څوک ښه ووايي

مرګ يې مه وه تل يې پايې

و سلام خبره تم شوه

که په بيش وه که په کم شوه

داخوند قاسم تاليف، فوايد الشريعت د رضا لايبريري د پښتو کولکشن يوه برخه ده.

د لومړۍ پاڼې پر اول مخ يې ګلدار مربع مهر او بيا دکتابتون رياست رامپور مهرونه ځای په ځای لګيدلي دي.

پيل يې داسې دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجب نور دي پيدا شوي د حضرت له خاندانه
و افغان ته راختلی تر مذله پاکه کانه

او په پای کې وايي:

قاسمه واوره په زړه يې پند کړه
په دا ځای غافل شه مه پر عمل کړه
دا دې ځای نه دی ته مسافر يې
په دا لارو تلل کړه

<u>مخزان الاسلام</u>

دا د درويزه او د نورو تاليف دی او دا د دکن په سالار جنګ موزيم کې پروت دی د نسخې په لومړۍ پاڼه د سالار جنګ ميوزيم او د مستطيلي مهر او بيا د منيرالملک مهرونه لګېدلي دي.

د دې پېل دا سې دی:

تر بسم الله وروسته
په نامه د حق آغاز کړم
اوس له حق سره به راز کړم

د مقصود المومنين عربي ليکوال با يزيد روښان دی او د پښتو د مترجم نوم معلوم نه دی. دا کتاب د سالار جنګ د موزيم په عربي کولکشن کې موجود دی. د عربي متن تر هرې کرښې لاندې پښتو ترجمه په سره رنګ کښلې ده.

دارزاني روښاني د لوی ديوان څو ګډې وډې پاڼې د ميرزا خان انصاري له ديوان سره يو ځای چا ګډې وډې ګنډلې دي. په دې کې د ارزاني ټول رباعيات راغلي دي، چې ده خپلې څو نورې رسالې په دغه شعري قالب کې ويلې دي.

د ارزاني د ديوان دغه برخه په دې رباعۍ پای ته رسيدلې ده:

که په غره دي که په رغونه
که غر څه دي که مرغونه
واړه ښاد د حق په ياد دي
که شاهان دي په توغونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رضا لایبریري په پښتو کولکشن کې د بابو جان د کلیاتو مجموعه یونایاب شی دی، چې له ۳۱۲ پاڼو څخه جمله دي، د نسخې په منځ کې عناوین، نومونه او آیتونه په سره رنګ کښل شوي دي.

لومړی دفتر یې ۷۲ پاڼې دی په کوم کې چې الف نامه، حمد، نعت، د اصحابو کبار و محامد، مدرح شاه اورنګ، فصل توحید باري تعالی، باب در بیان ایمان او فرایض، فصل وصف رسولان و پادشاهان، قصه مریم اونور راغلي دي.

ددویم دفتر د ۷۲ مې پاڼې د (ب) مخ پای کې شروع شوی او د ۱۲۱ پاڼې د دویم مخ په نیمایي کې پای ته رسیدلی دی. په دې برخه کې د پیغمبرانو قصې ،فقهي او دیني مسایل د اشعارو په بڼه بیان شوي دي. د ۱۲۱ پاڼې د دویم مخ په نیمایي کې قصیده سریاني پیل شوې او په ۱۲۹ پاڼه کې پای ته رسیدلې ده اوداسې متفرق اشعار او حکایات راغلي دي ،چې یو هم په کې د یوسف–زلیخا لنډه قصه ده پیل یې تر ( بسم الله ) وروسته داسې دی:

د الف له برکته مرحمت کړه
ب ، بندګي مې کړه مقبوله عنایت کړه
ت ، تایب مې کړه له غیره
ث، ثواب مې فضلیت کړه
ج، جمال راته جلوه کړه
ح، ح لم مې خاصیت کړه

پای یې داسې دی:

قناعت توکل نقش د فقیری دی
بل هماشی رحلت نه کاله کړنګه
قدم په ( سمه ) لار ږده بابو جانه
ګوندې خدای دې خاتمه نه کاندي ړنګه

دحمید الله دیوان د ډیلي په میوزیم کې پروت دی: چې په اتیاو پاڼو کې پای ته رسیدلی دی خطاط یې ګل محمد پېښوری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوشحال خان خټک کليات ( لومړی ټوک ) په رضا کتابخانه کې موندل کېږي نسخه د تذهيب او هنري ښېګڼو له پلوه لوړ معيار لري د نسخې تر ۲۸۲ مخ پورې رباعيات ليکل شوي دي. په نسخه باندې ثوځايه د کتابخانې رياست مهرونه لګيدلي دي.

تر بسم الله وروسته يې پېل دا سې دی:

که وا ړه خلق ثنا د خدای کا
نور هر څه پرېږدي خو د های های کا
ثنا يې ډېره ده تر حسابه تېره ده
څوک به يې کومه ثنا په ځای کا

پای دادی:

په يوه نفس الوځي چې عنقا دروميي ثو کاله
دی ميوه د هغه باغ خوري چې يې ونه
چې په دا مشکل خبر شي نانهاله
ځان به خلاص کا له جنجاله

د خوشحال خان خټک د کلياتو دويم ټوک هم په رضا کتابخانه کې موندل کېږي. د نسخې پېل له غزلو شوی دی د نسخې په حاشيو کې هم په ډېر ښکلي هنري نستعليق خط د خان ټوټې او غزلې ليکل شوي دي. پر نسخه د کتابخانې رياست رامپور مهرونه لګېدلي دي.

تر بسم الله وروسته يې پېل دا سې دی:

صورت ګر چې شه صورت په ديوال ساز کا
کل عالم يې په صفت زبان دراز کا

پای يې دا سې دی:

پاک دی که ناپاک دی د خپل ځان ثنا صفت کا
خوش له خپله ځانه په خپل کار کې فراغت کا
هېڅوک محتاج نه دي چې به غوږ په نصيحت کا
خپل غرض ته ګوري کار د زړه په مصلحت کا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې فضولي کړی دم بخود او سه خوشحاله

دخوشحال خان ختـک د کلیـاتو نسـخه پـه دوو برخـو کـې تنظیم شـوې ده. پـه لومړۍ برخه کې غزلیات، مربع، مخمسات، ترکیب بند او نور متفرق اشعار دي په دویمه برخه کې قصاید ، مثنوي او رباعیات راغلي دي.

ددولت دیـوان نسـخه یې هم پـه رضـا کتابخانـه کـې سـاتلې شـوې ده. دا پـه دوو دفترونو کې ترتیب شوې ده. د پېل له خوا بشپړه ده خو د پای له خوا ناقصه ده.

پېل یې تر بسم الله وروسته داسې دی:

ای کریمه، ای رحیمه، ای رحمانه
ای ستاره، ای غفاره، ای سبحانه
ای خالقه، ای رازقه، ای مالکه
ای روفه، ای معروفه مستعمانه

پای یې داسې دی:

ښه عمل به یې شاهد مه روی دلبر کا
تر ابده به یې مل همدم غمخور شي
په دیدن به یې خوښ ناست اوسي بیغم تل
پرې مشفق به تر فرزنده هم ترمور شي

د هند پـه کتابخانو کې د پښتو دادب ډېرې مرغلرې پرتې دي. که موقع را برابره شوه ؛نو دداسې نورو الماسو او جواهراتو نمونې به تاسـو پـه خدمت کـې وړانـدې کړم. زه د ښاغلي زلمی هېواد مل د هڅو ستاینه کوم چا چې د داسې ارزښت نـاکو ادبي نسخو پـه اړه پلټنه کړې ده او نسخې یې نړۍ ته وړاندې کړې دي.

## ۲-۵-۲- دآل انډیا راډیودپښتوپروګرامونودشپیتوکلونوسفر:

دتـاریخ پـه اوږدو کـې دهند او افغانسـتان ډېـر نـږدې مناسـبات تېـر دي ددغـو دواړو هېوادونو ترمنځه د فن او کلتور پـه ډګـر کـې همکـاري او نـږدې والـی د دوو ملتونـو د خوښـۍ او خوشـحالۍ موجـب ګـرځېـدلی دی. ددواړو هېوادونـو ملـي ارمانونـه یـو شـان پـاتې شـوي دي. دواړه د خـارجي غلبـې او اسـتعمار پـه ضـد لـه مجادلې څخه پرتـه د خپلو ملتونو د اقتصـادي ودې او پرمختـګ پـه کـارونو کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوخت پاتې شوي دي. د هند په نیمه قاره کې ځای په ځای د پښتنو بې شمېره آثار او یادګارونه موندل کېږي.

په افغانستان کې هم د بوډا ډېر زاړه آثار د دواړو هېوادونو د ګډ میراث یاد تازه کوي. آریانا د افغانستان بل نوم دی او په هغه خاوره زمونږ ګډ کلتور بنسټ کېښودل شو.

ښایي چې د دغو ټینګو اړیکو په علت او د نړدې دوستۍ په پېروۍ د آل انډیا راډیو د خارجي نشریاتو په څانګه کې تر ټولو نه اول په پښتو پروګرامونو پېل وشو، فعلاً د پښتو د پروګرامونو له معرفي کولو سره په دې هېواد کې د خارجي نشریاتو پېل وشو. دا په ۱۹۳۹ز کال کې وه، چې پښتو پروګرامونه د آل انډیا راډیو له سټوډیو ګانو څخه د افغانستان او د پښتونخوا په پیاوړي سیمه کې زمونږ پښتنو ورونو غوږونو ته ورسېدل او دا کار تر اوسه پورې په سپېڅلو احساساتو او نیکو ارمانونو په درنه توګه روان دي.

د دغو خپرونو په برکت زمونږ ګډ ثقافت او ژوندانه باندې ژورې اغېزې شوي دي. زمونږ دواړو ملتونو له یوه او بل سره د انسان دوستۍ، تراحم، سولې او شرافت په اساس کړه وړه کړې دي. او د آل انډیا راډیو پښتو څانګې د همدغو احساساتو ترجماني کړې ده.

د دغو خپرونو د هند د پښتنو د پاره د دوستۍ تلوسو د هنداري کار کړی دی د تېرو نهه پنځوسو کلونو راهیسې د آل انډیا راډیو د پښتو څانګې د افغانستان د خیر او عافیت دعاګانې کړې دي.

آل انډیا راډیو د خبرونو په ډګر کې ډېر شهرت ترلاسه کړی دی. د دې شبکې له خوا نشر کړی شوي خبرونه تل ریښتني او اتحاد وړ منل شوي دي. د پښتو څانګې په هڅو خپلو پښتنو ملګرو او ورونو ته د حقیقي او ریښتني پېښو احوال ورکول د دې څانګې لویه وظیفه ګڼل شوې ده. له خبرونو څخه پرته په روانو واقعاتو څېړنې او تبصرې د پروګرامونو مهمه برخه پاتې شوې ده.

یوه بله د پاملرنې وړ خبره، د مجلو او ورځپاڼو د سرمقالو په اساس له اخباري تبصرو سره اړه لري. د هندي او اسلامي اخترونو نمانځنې، په دیني او روحاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

مضامینو دافکارو څرګندونې او د قران کریم تلاوتونه د پښتو څانګې له عادي او جدي کارونو څخه دي.

د پښتو پروګرامونو د خپرونو په ساعتو کې څو ځله تبدیلۍ راغلې دي، لیکن اوس هره ورځ د سهار او ماښام له خوا دوه ساعته خپرونې کېږي له یو څو کالو راهیسې همدغه مهال ویش روان دی، په دغو خپرونو کې موسیقۍ ته مخصوص ځای ورکړل شوی دی. د هندي فلمي سندرو او بزمي اشعارو سره سره پښتو سندرو هم لوړ مقام حاصل کړی دی.

پښتو څانګه د هنر او ادب او نور تربیوي او اختصاصي او معلوماتي پروګرامونه هم لري، چې زیاتره د پښتو څانګې غړي په خپله لیکي.

کله چې زه په ۱۹۵۴ز کال کې د آل انډیا راډیو په خارجي نشراتو کې شامل شوم نو زما په یاد دي ،چې د پښتو څانګې مشري د ښاغلي انوارالحق ګران په غاړه وه، چې یو صلاحیت لرونکی او تحرک سړی و. ښاغلي سراج الحق ګران او عیسی خان جاله وان دده له مرستیالانو څخه وو. د نورو غړیو په جمله کې ښاغلي جمناداس تلوار، کشوري لال تلوار، چکرورتي کپور، تریبیني لال کپور، هر بهګوان ملهوترا، اجرج سنګهه هوړه، ولي محمد بابر، وزیر چند او ځینې نور سړي هم وو، چې چا خپل ژوند پښتو پروګرامونو ته وقف کړی و. دوی ټولو د پښتو ژبې او ادب په غني کولو کې لویه برخه اچولې وه. د ښاغلي ګران او دده خپلوانو له هند څخه له تګ څخه وروسته ښاغلو ننګ یوسفزی، غلام غوث خیبري، ضامن مومند، عبدالعلي ارغنداوي، عبدالکریم محب، ثنا الله خان، مالیا، سیار او نورو د آل انډیا راډیو په پښتو څانګه کې وظیفه په ځای کوله.

له نیکمرغه زه په ۱۹۲۳ز کال کې د هند حکومت له خوا د پښتو زده کړې لپاره کابل ته واستول شوم، چېرته چې ما په یوه کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځۍ کې ددې درنې ژبې علم ترلاسه کړو او د پښتو ژبې او کلتور د مینې په دریاب کې لاهو شوم. د پښتو علمي کارونه زما د ژوند لویه برخه وګرځېدله.

د پوهنتون له خوا ټاکل شوو معلمینو څخه پرته چا چې زما سره د پښتو د زده کړې په کار کې مرسته وکړه، په هغو کې ځنې لوړ او سپېڅلي پښتنانه ادیبان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالمان وو ، چې د هغو له جملې څخه ښاغلی صدیق الله رښتین، قیام الدین خادم، ګل پاچا الفت، عبدالروف بېنوا ، عزیز الرحمان صیفي، میرحسین شاه، محمد ارسلان سلیمي، مجاور احمد زیار، سعدالدین شپون، بهاوالدین مجروح او عبدالحی حبیبي ډېر د قدر وړ او ستاینې وړ شخصیتونه وو.دوی سره زما اړیکې د پښتو او پښتونولۍ پورې محدودې وې. د دوی یادونه ما له دې لپاره کړې ده ،چې له دغو څخه هر چا چې وروسته د هند مسافرت وکړ، هغه د آل انډیا راډیو په پښتو خپرونو کې د خپل علم او قابلیت برخه واچوله.

ما به له هغوی سره مرکې کولې اوخپرولې به مې او د دوی د افکار د خوندي ساتلو لپاره به مې ثبت کولې.

ډیلي ته په راستون کله چې د پښتو څانګې مشري ما ته راوسپارلی شوه،نوما د اوریدونکو دخطونو او فرمایشونو پروګرام پیل کړو. اورېدونکو ډېر جوش اوخوښي ښکاره کړه او هره میاشت په زرګونو لیکونه رارسیدل. دا لیونتوب د دواړو خواوو څخه پیل شو.

اورېدونکو به پوښتنې کولې او مونږ به په هفته کې درې ځله د ځوابونو پروګرام جوړکړ. د لیکونو یو داسې سیلاب راغی، چې تر قابو لاندې راوستل مشکل شول. وروسته ما د اورېدونکو داستفادې لپاره د اردو ژبې د یو سلو نه زیات درسونه خپاره کړل دوی لپاره به اورېدونکو ډېرې ښې خاطرې څرګندولې.

دآل انډیا راډیو په پښتو پروګرام کې کیسې، نمایشنامې یعنې فیچرونه، ډرامې، هنري او ادبي مضامین، اشعار، د ماشومانو ادبیات، معلوماتي مقالې اوتفسیرونه نشر کېږي. زیات ارزښت د هندي وګړو او د افغانستان د نفوسو ترمنځه د دوستۍ د جذبې له ټېنګولو ته ورکول کېږي. څه موده پخوا د علامه رابندر ناتهـ ټاګور د لیکنو په اساس به پروګرامونه ترتیب کېدل د سنسکریت د آثارو تربیتي پروګرامونه به هم وړاندې کېدل دمعاصرو هندي ادیبانو آثارو ته به مناسب ځای ورکېدل اواوس هم ورکول کېږي.

په هند باندې کومو افغان پاچاهانو پاچاهي کوله او د چا مقبرې ،مسجدونه او نور یادګارونه دلته موجود دي، دهغو په باب څو ځلې پروګرامونه نشر شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، له هغو سره سره د هندي جامعې عنعنوي اخلاقي ارزښتونه هم په دغو پروګراموونو کې راوړل کېږي.

د پښتو څانګې په ارشيف کې په سوونو د هندي اولسي ادبياتو د کيسو ژباړې موجودې دي. د دغې څانګې الماری د هندي فلمونو له قيصو څخه ډکې دي د افغانستان او پښتونخوا د نوميالو شاعرانو، ليکوالانو او قهرمانانو احوال هم په ډېرو متنونو کې ليدل کېدای شي.

د آل انډيا راډيو پښتو څانګې يو ډېر اوږد ژوند کړی دی او اوس هم په خپل مسافرت روان دی. ډېر بريالیتوبونه د دې څانګې په برخه شوي دي. له ډېرو محدوديتونو او مشکلاتو سربېره دغه څانګه د هند او افغانستان د نږدې دوستۍ او ښو مناسباتو بېرغ پورته ساتلی دی. په تېرو شلو کلونو کې ګران دوست هېواد افغانستان له ډېرو ستونزو او ربړونو سره مخامخ شوی دی هلته ډېرې وينې توی شوي دي. د خارجي مداخلت او لاسوهنې له کبله ډېر زيات زيان خلکو ته رسيدلی دی. د آل انډيا راډيو د پښتو څانګه د هغې مبارکې ګړۍ انتظار باسي، کله چې په افغانستان کې سوله بيا ځای په ځای شي، خلک به بيا په خندا، هوساينې او خوشحالۍ ژوند وکړي، په فضا کې به بيا د خوږو سندو او انګازې پورته شي او د ملي اتڼ جوش او ذوق به ليدل کېږي. متيقين يم، چې د هغې خوښۍ او ښادۍ انعکاس به د آل انډيا راډيو په پښتو پروګرامونو کې په ښه شان سره کېږي.

د دغې څانګې مستقبل د ځلمي روښن لال ملهوتره په لاس کې ځلاند او روښانه ښکاري خلک به راځي او ځي، نړۍ به استخدام کېږي او وبه ووځي ليکن دغه څانګه به د هند او افغانستان د ښو مناسباتو په توګه به قايمه وي او ډېر پرمختګ به وکړي.

## ۲-۵-۷- دهنداوافغانستان مناسبات دتاريخ په منځنۍ دوره کې:

د هند او افغانستان ترمنځه مناسبات له پېړيو پېړيو راهيسې روان دي. د هند په بېلا بېلو ځايونو کې د افغانانو تاريخي آثار د هغې زمانې ياد تل تازه ساتي، چې هغوی په هند کې د خپلې هستوګنې په دوران کې قايم کړي وو. تر ټولو نه اول مونږ د هغو آثارو ذکر کوو، چې اوس هم د ټولو خلکو پام خپلې خواته را کاږي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې دورې څخه مخکې د افغانستان په بېلا بېلو برخو کې د هندي پاچاهانو لکه چې د کنشک او د نورو آثار او س هم ليدل کېږي.

په ۱۱۹۲ز کال کې سلطان محمود غوري په هند باندې دويمه حمله وکړه او له دې هېواد څخه دورستنيدونه مخکې يې قطب الدين ايبک د ډيلي د سپه سالار په حيث وټاکه.

کله چې محمود غوري ووژل شو نو قطب الدين ايبک خپل ځان د تاريخ په پاڼو کې د پاچا په حيث اعلان کړو ،چې د تاريخ په پاڼو کې د غلام پاچا په نامه يادېږي.

د قوت الاسلام جومات يې ودان کړو ، چې په هند کې لومړی جومات و. قطب مينار په ډيلي کې د پاچا قطب الدين له خوا جوړ شوی و .دا دواړه آثار نن هم شته او د هنديانو او د پښتنو د روابطو نمايندګي کوي.

له قطب الدين څخه وروسته د غوري خاندان نهه پښتانه پاچاهان تېر شوي دي، چې په هغوی کې ملکه راضيه بېګم هم ده ،هغه د هند په تاريخ کې يو لوړ مقام لري.

د سلطان شمس الدين الشمس په مړينه دی په قوت الاسلام جومات کې ښخ کړی شو. دده په دوره کې د حوض خاص او حوض شمسي او له نورو آثارو څخه ګرد چاپېره لوی لوی باغونه او د تفريح ځايونه جوړ کړی شول، چې خلکو به ډيلي د طرب آباد په نامه يادا وه.

له سلطان ناصر الدين څخه وروسته دده پوه وزير غياث الدين بلبن پر تخت کېښناست هغه د بستي نظام الدين تر څنګ په کلا کې يو سور محل جوړ کړو ، چې خلکو به دا ځای د غياث پور په نامه يادا وه.

د غلجي کورنۍ پاچا سلطان علاوالدين غلجي د سيري په نامه يو نوی ښار ودان کړو ، چې د غه ښار د ورانو او نړېدلو او کنډوالو آثار اوس هم ليدل کېږي له هغه سره نږدې د کلتوري پروګرامونو لپاره يې يو لوی تالار جوړ، چې سيري يې اوس لافاني ګرځولی دی.

دغه پاچا د مسجد قوت الاسلام علايي دروازه هم جوړه کړه.ده د جومات په لمر پريواته خوا کې خپل محل هم تيار کړو. حوض خاص ددې پاچا يادګار دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې اوس هند ته د تورستانو د پاره د يوه ډېر په زړه پورې ځای په حيث وده موندلې ده او ډېر پرمختګونه هلته کېږي.

د تخلق افغانانو دريم ډيلي د تخلق آباد په نامه ودان کړ. سلطان غياث الدين تخلق د دغه ښار ودانونکی و دده مقبره او د کلا ديوالونه اوس هم د يادګار په توګه موجود دي.

ځلورم ډيلي چې د جهان پناه په نامه شهرت وموند ، د تخلق کورنۍ د دويم پاچا محمد تخلق ودان کړی و. چراغ ډيلي جومات بېګم پور او نورې ودانۍ د هغه ډيلي يادګارونه دي.

د فيروز شاه تخلق له خوا پنځم ډيلي فيروز آباد جوړ کړی شو. دا ډيلي له زاړه ډيلي څخه تر نوي ډيلي پورې غزيدلی دی، ددې ډيلي له دروازې څخه د باندې کابلي دروازه ده د فيروز شاه د کوټلی کنډرونه اوس هم ليدل کېږي. په باړه هندوراو کې قدم شريف د فيروز آباد يادګار دی ،چې هلته د فيروز شاه تخلق د زوی شهزاده فتح خان قبر هم پروت دی.

شپږم ډيلي دغياث الدين بلبن له خوا د نظام الدين اوليا له درګاه سره نږدې جوړ شو ، چې د غياث پور په نامه ياديده اووم ډيلي هم غوري پښتنو ودان کړو.

د پښتنو له خوا جوړ شوي ښارونه او يادګارونه زمونږ دواړو هېوادو نږدې اړيکې په ښه شان سره ښايي. قطب مينار ډېر مشهور يادګار دی دا ۳۳۸ فټه جګوالی لري ددې مينار په لومړي منزل د قران کريم ايتونه کښل شوي دي.

سلطان بهلول لودي دا مينار ه ترميم کړ، ددې په هر منزل کې يې ډول ډول نقشونه جوړ کړي دي.

له مهرولي سره نږدې د سلطان ناصر الدين محمود بن شمس الدين الشمس قبر دی د سلطان غياث الدين شانداره مقبره چې اوس ودانه شوې ده، له مهرولي سره نږدې ده.زمرد پور اوس د نوي ډيلي برخه ګرځېدلې ده دا کلی د غوري پښتنو د وخت او عصر کلی دی.په دې کلي کې له ډېرو او چونې څخه جوړ پنځه برجونه دي او په دغو برجونو کې ډېر قبرونه هم شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زمرد پور په څنګ کې د لنګر خان پښتون مقبره ده ،دا هم د غوري پښتنو یادګار دی.

د تخلق کلا ته نږدې هزارستون نومي ودانۍ پرته ده، چې سلطان محمد تخلق جوړه کړې وه. د شاعر بدر چهاچي په وینا دا یوه ډېره ښکلې ودانۍ وه.

د حضرت نظام الدین اولیا مقبره سلطان محمد تخلق ودانه کړې ده، چې په پښتني طرز جوړه شوې ده. د شیخ نصر الدین محمود روشن چراغ دهلوي په زیارت باندې سلطان فیروز شاه تفلق ډېره عقیده لرله ده د دغه یادګار ګنبد هم ودان کړو.

د ډیلي د پیر روشن چراغ زیارت ته نږدې ست پله نومي یو ځای دی، چې په اصل کې د فیروز شاه تخلق د ښکار ځای و. ست پلي ته نږدې د کړکۍ جومات دی په پخوانو زمانو کې دلته د کړکۍ په نامه یو کلی و، چې نن هم په یوه صورت موجود دی.

په دې اساس دغه جومات د دغه کلي په نوم مشهور شوی دی دا جومات مربع او څلور ګنبدې لري دربیو اړخونو ته یې درې دروازې دي او د قبلې اړخ ته یې کومه دروازه نشته. په دې جومات کې په نهو ځایونو کې نهه برجونه جوړ شوي دي او د هر برج لاندې څلور څلور ستنې لګول شوي دي.

په دې جومات کې ډېرې ستنې هم شته په ۱۸۵۷ز کال کې د انګریزانو په ضد د هند د آزادۍ د لومړۍ جګړې په سلسله کې ډېر خلک په دې جومات کې راټول شوي وو تر ډېرو وختو پورې دلته خلکو به اورونه بلول او پخلي به یې کول.

دفیروز آباد په ښار کې فیروز شاه د مسافرو د استوګنې دپاره یو سل و شل سرایونه ودان کړي وو. دې پاچا ۲۹ کاله پاچاهي وکړه.

د دې ښار جومات او مینار ډېر شهرت درلود فیروز شاه تخلق د اشوکا مینار له کوم ځای څخه راوړو او د فیروز آباد په کلا کې یې ښخ کړو او مینار زرین نوم یې ورباندې کېښود.

په باره هندو راو کې فیروز شاه تخلق یو زیارت جوړ کړی و، چې په کې دده د ځوی شهزاده فتح خان قبر دی دده شهزاده په سینه یوه ډېره پرته ده، چې ورباندې د رسول اکرام (ص) د مبارک قدم نخښه ده دا ډېره د بغداد د خلیفه له خوا سلطان

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیروز شاه ته د سوغات په توګه لیږل شوی و. په دې زیارت کې د هند د نوي شاعر حضرت شیخ محمد ابراهیم ذوق زیارت هم دی.

دلودي پښتنو یادګارونه په ښه صورت کې اوس هم موجود دي د سلطان سکندر لودي مقبره ډېره شانداره ده. ددې مقبرې تر څنګه د لودي کورنۍ نور نامتو کسان هم ښخ دی. دا ځای په نوي ډیلي کې د لودي باغ په نامه یادېږي او ډېر خلک هلته د ګرځېدو لپاره ځي.

شیر شاه سوري د مغل پاچا همایون له خوا چې کومه کلا پېل شوې وه سرته ورسوله دې کلا ته خلک زړه کلا وایي، په دې کلا کې شیر شاه سوري بې ساري ودانۍ جوړې کړي.

له زړې کلا څخه یو میل لرې د عیسی خان سوري کلی دی، چې هلته د عیسی خان سوري زیارت او جومات دی.

د شیر شاه سوري په حکومت کې دده د پاخه تدبیر او عدالت په برکت داسې کارونه سرته ورسول شول، چې په تاریخ کې یې مثال نه موندل کېږي. دده سیاسي شعور او اداري صلاحیت بې ساری دی. دده افغاني خویونه او د انسانیت لوړ خصلتونه د ډېرې ستاینې وړ دي.

هغه د بزګرانو د حالت ښه کولو ته ډېره توجه لرله شیر شاه له بنګاله تر اباسیند پورې لوی سړک وویست.

د سړک په غاړو کې یې هر ځای مسافر خانې جوړې کړې او داسې نور کارونه یې وکړل، چې د غه انسان دوستي او متانت په ښه شان سره ښیي. شیر شاه سوري تر مړینې وروسته د بهار په ساسرام کې خاورو ته وسپارل شو.

له دغو خبرو څخه په واضح ډول جوتېږي، چې د تاریخ په منځنۍ دوره کې دهند او افغانستان تر منځه د ثقافت او د فنونو په ډګر کې ډېرې ژورې او ټېنګې اړیکې وې، چې انګازې یې مونږ په موجوده عصر کې هم اورو.

### ۲-۵-۸- دهندیانواوډپښتنوترمنځ یووالی:

هندیان او پښتانه په ډېرو ډګرونو کې سره یووالی لري. له ډېرو پېړیو راهیسې د دوی ترمنځه سیاسي، اجتماعي او کلتوري اړیکې روانې پاتې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه ملتونه د ایمانداری، ملي غرور، مساواتو، د وطن د مینې، دفاع او ساده‌ګۍ په شان صفتونو باندې ویاړي. استقامت او ملي استقلال د دواړو قومونو لوی میراث دی دواړه اجتماعي عنعناتو، دودونو او مقرراتو ته ډېر ارزښت ورکوي.

په ځانګړې ډول د شمالي هند د خلکو او د پښتنو ترمنځه په احساساتي او روحاني سویه ډېر نږدې والی ښکاره کېږي. په دې ګډون کې هغه ټول شیان پراته دي، چې د دوی د فرهنګي عظمت او ملي روایاتو اساس ګڼل کېږي.

که د ژبو اړخ واخلو نو ګورو به، چې هندي او پښتو ژبې د یوه او بل سره څومره ورته والی لري او څومره یو شان لغتونه او متلونه لري. پښتو د پښتنو د ملي ژبې نوم دی او د دوی د وطن نوم دی پښتونخوا یا پښتونستان. د هندیانو ملي ژبه هندي ده او د دوی ملک دی هندوستان د دواړو قومونو خلک تور ویښته او غنمي رنګ لري او د هغو له سترګو څخه د شجاعت، زړورتیا، ملي برم او د سخا رڼا ځلېږي. که څه هم د نورو قومیتونو عناصر د پښتنو او هندیانو سره ګډ شوي دي، لکه څنګه چې له ژوندیو او محرکو ټولنو سره پېښېږي، بیا هم د دوی په قامي روح او سیاسي افکارو کې هېڅ تغیر نه دی راغلی دا د دغو دواړو قومونو د استقلال او روحي استحکام مستقله ښه ده.

هندیان او پښتانه دواړه د عزت، شرف او شخصي حریت اعلي معیار ساتي له ذلت سره هېڅ ته سر نه ټېټوي، لیکن دواړه د خپلو مشرانو ډېر عزت او احترام کوي. د هغوی اطاعت قبلوي او په ډېره عاجزۍ یې امر مني. مشرانو ته خپل حق ادا کوي او له خپلې وظیفې څخه هېڅکله ځان نه ژغوري.

د مهربانۍ او خواخوږۍ په مخ کې خپل ځان قربانوي او د هر شي له لاسه ورکولو ته حاضر وي. د هندیانو او د پښتنو په زړونو کې د ملي غرور احساس کلک او ټینګ دی، په دوی باندې ملت او وطن له هر شي نه ګران دی دوی د خپل ملي حریت د ساتلو په لاره کې د هېڅ ډول فداکارۍ صرفه نه کوي.

د استقلال د ساتنې د هدف د ترلاسه کولو لپاره دوی سختو او پېچومو لارو څخه تېرېږي. هندیان او پښتانه په خپل ملیت خورا نازان دي. دواړه د هېچا سلطه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه مني او د حاجت د مخې نيولو لپاره هر وخت مجادلې ته چمتو وي.د پښتنو ملي شاعر خوشحال خان خټک د خپل ملت په نازېدلو ويلي وو.

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالی د زمانې خوشحال خټک يم

هماغه شان يو هندي شاعر ويلي دي:

سب سی پیاری مجھی وطن کې ابرو هی
تلوار میری هاتهو می چلتی هر سو هی
جو بهی اس پر بد نظر ډالی گا
وه صد یو تک اپنی دردو کو پالی گا

شرافت او غيرت د هنديانو او د پښتنو شيوه ده.
يو افغان شاعر ليکلې دي:

مغرور شو مه په دې چې افغان يمه زه
اګاه نه يمه هېڅ چې نادان يمه زه
د ځانه نه يم خبر، نه له بده حاله
والله خزان وهلی، ګلستان يمه زه

د علامه اقبال دا شعر ډېر ښکلی دی:

هندی هی هم وطن هی هندوستان همارا

د يوه هندي شاعر افکار د ملت له مينې څخه ډک له دې شعر څخه څرګندېږي، چې د يوه پښتون له دې احساساتو سره ورته والی لري.

مجهی خبر هی نه دین اور نه دنیا کی
می تو جیتا هو بس وطن کی لی
میری جان اور ایمان هی اس په نچهاور
ایثار کی ګهونټ پیتا هو بس وطن کی لی

هنديان او پښتانه د عاجزانو، فقيرانو، غريبانو او د حاجتمندانو خارنه کوي. له معيوبانو سره مرسته او مهرباني کوي، د مېلمنو هر کلی کوي. دواړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنګ، لوړ همت او ټینګ عزم ښتنتان دي ،لیکن دوی تکبر نه کوي او عجز له لاسه نه ورکوي د لوړ همت انسان له هر چا سره په ورین تندي غږېږي.

شګفته کړه لکه لمر تندی هر چاته
چې په تله دې سیا پوش تمام جهان شي

په هندي ژبه کې دا شعر دی:

خنده پشیانی سی هر ایک سی بات کرو
کهلی دل سی مسکراو اور ملاقات کرو

هندیان او پښتانه د هیچا غلامي نه مني دواړه په شخصي سویه د شرافت، نرمۍ او له انسانیت څخه کار اخلي، لیکن هېڅوک خپل ثقافت او ملي برم ضرر رسولو ته نه پرېږدي. په خپل ځان اعتماد لري لیکن که ځینې غلطۍ ورڅخه پېښېږي، نو ددې اعتراف کوي.سمدستي خپله خطا مني، تل د ترقۍ په لیاره پر مخ ځي پر هېچا ظلم نه کوي او د ظالمانو مخه نیسي دواړه ملتونه په مساواتو کې یقین لري، هر انسان ته په درنه سترګه ګوري له خلکو سره عزیزانه سلوک کوي او له بې تکلفۍ څخه کار اخلي.

ما څو ځلې د پښتونخوا مسافرت کړی دی او له بې شمېره پښتنو سره مې کتلي دي.ما تل دا فکر کاوه ،چې هندیان او پښتانه سره یو شان خلک، یو شان افکار، احساسات او عادات لري.

یوازې د ژبې فرق و هندیان هندي او نورې ژبې وایي پښتانه زیاتره پښتو وایي نور د دوی ټول خصلتونه یو شان دي په پښتونخوا کې د ځینو مشکلاتو له کبله یو شمېر زیات پښتانه هند ته مهاجرت کولو ته اړ شول.

ځکه زموږ خوراک یو شان و زمونږ کالي یو شان، پښتني او هندي ښځې یو شان شرم او احیا لري، زمونږ کړه وړه یو شان دي، زمونږ افکار او نظریې یو شان دي، زمونږ ماشومان هېڅکله خپل ځانونه بېګانه یعنې نابلده نه ګڼي ټول پښتانه په هندي ټولنه کې د خوښۍ او خپلوی حس کوي ؛پښتانه وایي، چې سلامت اوسی، هندیان او په ځانګړي ډول پنجابیان وایي: «رکهه سائیی دی» پښتانه وایي دا ستاسو خپل کوردی هر کله راشئ هندیان وایي «آپ کا اپنا ګهر هی، پهر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرور آیی ګا» پښتانه وایي « خدای دې مل شه» هندیان وایي « ایشور آب کې رکهشا کری» یعني خدای دې محفوظ ساتي.

په هند او افغانستان کې د انساني ورورولۍ حس ډېر زیات لیدل کېږي. په پښتنو کې د جرګې روایت دی په هندیانو کې د پنچایت دستور دی جرګه او پنچایت چې کومې فیصلې کوي، د کلي خلکو ته هغه منظورې وي ټول وګړي د هغو تصمیمونو احترام کوي. دا د جمهوریت یو ځلاند مثال دی هندیان او پښتانه دواړه جمهوریت او انصاف خوښونکي خلک دي. دوی د ژوند تر اخري سلګۍ پورې د خپل وطن دفاع کوي.

هندیان د خپل ټاټوبي هند لپاره ځانونه قربانوي پښتانه د خپل مسکن پښتونخواه لپاره د غازیانو په شان دتورې په ترڅلو پرله پسې مجادله کوي دواړو ته خپل وطن تر ټولو فضیلتونو لوړ دی دوی د خپل مملکت د ګټې لپاره د هر څه نه تېرېږي.

ددوی دپاره وطن یوه داسې کلمه ده، چې پرې ځانونه قربانوي د دفاع په لیاره کې په سرومال لوبې کول د هندیانو او د پښتنو فطرت دی.

زلمي ولاړ توري تر ملا دي
غزا له ځي پر خپل وطن سر ور کوینه
جانان مې سر په وطن کېښود

## ۲-۵-۹- دفخرافغان خان عبدالغفارخان په یاداوویاړکې :

کله چې پادشاه خان خان عبد الغفار خان په ۱۸۹۰م کال کې له پېښور سره نږدې داتمانزو په اشنغر کلي کې زوکړه وکړه، چاته نه وه معلومه، چې دغه هلک به یوه ورځ په نړۍ کې دانساني آزادۍ او دپښتني برم په آسمان کې دیوه ستوري په حیث وځلېږي. هغه خپل ټول ژوند دخلکو دخدمت او ښېګړې لپاره وقف کړ. هغه دهند دنیمې وچې د سرنوشت په بدلولو کې داسې برخه لرله، چې تراوسه پورې په میلیونونو خلک دهغوی یادته خپل سرونه ټیټوي اودیوه لوی رهبراوزعیم په حیث دهغوی احترام کوي. زه په یقین سره ویلی شم، چې څومره ایثاراوقرباني پاچا خان په خپل اوږد ژوند کې وکړه. هغه په ټوله نیمه وچه کې دبل کوم قومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشـرپه برخـه ونـه شـوه.دانګلیس اسـتعمارچیانوله منګولوڅخـه دنیمـې وچـې دخلکودآزادولولپاره په مبارزه کې فخرافغان نه یوازې میړانه ښکاره کړه، بلکې ټول ملت یې لـه ژورخوب څخـه راویښ اومتحد کړو.پښـتنوورته دفخرافغـان یـا دپاچا خان خطاب ورکړواوهندیان چې تراوسه پـورې دسرحدي ګاندهي پـه نامـه یادوي.هغوی دلوړواخلاقوخاوند اوخپلووطنوالوته یې دلوړهمت ،ننګ اوغیرت اواسـتقلال لارښـوونه کوله.هغـه نـه یـوازې پـه پښـتونخوا کـې دخـدایي خدمتګارانوتحریک شـروع کړ، بلکـې دهندلـه ملي کـانګرس سـره یـې یوځـای کړو.دکوم په نتیجه چې انګریزي استعمارچیان دهند لـه نیمې قـارې څخـه دخپـل ټغرراټولولوته اړشول.

پاچـا خـان دهنـد دنیمـې وچـې دسیاسـي اوروحـاني مشـرپه توګـه ومنـل شو.نوموړی دعدم تشدد دعلمبرداریه حیث مشهورشو. دی دسولې اودهم آهنګی مرستیال اودهنددآزادۍ دجنګ سترسالارمهاتماګاندي صمیمي ملګری و.دوی دواړو دیوه اوبل لپاره ډېره مینه او احترام درلود.هرکله چې دهندملي کـانګرس لـه ګاندهي جي سره په کومه معامله موافقه نه درلوده، نوپاچاخـان تـل دګاندهي جي په پړه ولاړپاتې شواوورسره یې مکمله مرسته وښودله ،کله چې پـه ۱۹۳۱م ع کـال کې پاچاخان تـه دکـانګرس دګونـد دریاست دقبلولو پیشـنهاد وشو.نوهغه دده پـه وینـا دهغـه لـه منلوڅخـه انکـاروکړ، چې هغـه یـوازې دخلکوخدمتګاردی اوورتـه ددې عهـدې ضـرورت نشـته ،لـیکن هغـه دیـوې اوږدې مـودې لپـاره دکـانګرس دکـارکوونکې کمیټې دغړي پـه توګـه پـه کـارکې بوخت پـاتې شو .دګاندهي جي اودپاچـا خـان ترمنځـه اخـلاص اودزړه درنښـت دومـره زیـات و ، چـې هغـوی دواړودوطن دآزادۍ په مجادله کې اوږه په اوږه دامپراتوریانوله وحشت سره ډک فعالیتونه په ځان زغمل.

خـان عبـدالغفارخان صـاحب دهنـد دنیمـې وچـې دویـش پـه بـاب دمسـلم لیـګ دغوښتنې سخت مخالفت کاوه.کله چې دکانګرس ګوند دویش پلان ومنلونوپاچا خان ورته وویل ،چې تاسوموښ‌لیوانوته اچولي یو ،هغوی لـه شروع څخه ترآخره پـورې دیـوه متحـد اوسیکولرهند ارزولرله.همدغـه مقصـد دپـوره کولـولپـاره یـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخدای خدمتګارانو تحریک منځ له راوستی واوورته یې ویلي وو ،چې زه ورته یوه داسې وسله ورکوونکی یم ،چې پولیسان او عسکران به ددې په ضد درېدلی نشي.دادرسول اکرم وسله ده،چې تاسوورسره بلد نه یی.هغه وسله دتحمل اودصداقت ده.دنړۍ هیڅ قوت ددې په ضد نشي درېدلی.

په دې تحریک کې دیولکونه زیات ځوانان شامل شول اوهغوی په سړه سینه دانګریزانو ترکنترول لاندې دقواوو ظلمونه وزغمل.دخدایي خدمتګارانو له خوادا اعتصابونو په نیولو اوعدم تشدد په اساس دناوړه فعالیتونولاس ته راوتل.دپاچاخان مشر وروړډاکټرخان صاحب ددغه تحریک سیاسي مشري کوله ،لیکن دمسلم لیګ دمشرښاغلي محمد علي جناح له خوا دده حکومت ړنګ کړې شو.

د۱۹۳۰ م ع کال داپریل په درویشمه نیټه پاچا خان دمالګې دسیته اګره په علت داحتجاجونو په دوران کې دپولیسو له خوا ونیول شو.دخدایي خدمتګارانو یوه ډله دپېښور په قصه خوانۍ بازار کې راټولېدل .انګریزانو خپلو عسکروته امروکړ،چې په راټول شویو خلکو باندې دماشین ګڼو په واسطه ګولۍ وچلوي.په هغه ساحه کې دوه نیم سوه بې وسلې مظاهره کوونکي کسان له ډېرې بې رحمۍ څخه په ګولیوو ویشتل شول.خدایي خدمتګارانو چې دپاچاخان له خوا دعدم تشدد په اصولوروزل شوي وو،بې له تشدد دعکس العمل هغه بې انصافي وزغمله.

پاچاخان په پښتنو باندې غږوکړ،چې ستاسو کوربربادۍ ته ولیدلی دی.ودرېږئ اودا یاد وساتی ،چې تاسوله کوم نسل سره اړیکې لرئ ،کله چې دکانګرس دګوند له خوا دهند دنیمې وچې دویش دمنع کولو دپېشنهادونوله منلو څخه یې انکاروکړ،نو پاچاخان اودهغوی پیروان دپاکستان اوهند دواړو څخه خوابدي شول.لیکن کله چې له پاکستان سره شاملیدوپه باب دریفرېنډم اعلان وشو ،نو پاچا خان دهندملي کانګرس دواړودریفرېنډم بیکاټ وکړ.په دې علت په ۱۹۴۷ ع کال کې دخیبرپښتونخوا له پاکستان سره شاملیدنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډېرلږ اکثریت پـه اسـاس ممکنـه شـوه.په دې ریفرېنـډم کـې یـوازې ۵۰،۱ فیصد خلکو درایو په ورکولو کې برخه واخېسته.

خـان عبـد الغفار خان صـاحب د ۱۹۴۸ ع کـال د فبـرورۍ پـه درویشـمه نیټـه د پاکسـتان د نـوي مملکت دوفـاداری لوړه وکړه، ځکـه چې هغـه وخت د پاکسـتان د اساسي قـانون د جوړلو د اسمبلۍ اجلاس کیده.د هماغـه کـال د مۍ پـه اتمـه نیټـه پاچاخان لـومړی قـامي مخالفت ګونـد جوړکړ،چې نوم یې د پاکسـتان آزاد ګونـد کېښودل شو.هغه د غیرفرقه دارانه فلسفې د خپلولو تصمیم ونیولو.

لـیکن د پاکسـتان د حکومـت لـه خـوا پـه فخر افغـان بانـدې هماغـه شـان شـک اوبـد ګمانۍ دوام درلـوده او د غـه عظـیم مشـرد ۱۹۴۷ م څخـه تـر ۱۹۵۴ م پـورې پـه کـورکې بند وسـاتلی شو.له بند څخه په خلاصیدو هغه په اساسي قـانون سـازه اسـمبلۍ کـې بیـا وینـا وکړه، پـه دې وینـا کـې پـه بـابره کـې د هغـه د مرستیالانو د وژلو غند نه شوه.

پاچاخـان د لویـد یځ پاکسـتان د یـوه یونټ د جوړلو د مخالفت لـه کبله څوځلې و نیول شو.د هغه د وروړه اکټر خان صاحب لـه قتـل څخه وروسـته د حکومت لـه خـوا سرحدي ګاندهي ته د یوه وزیرپه حیث پـه حکومـت کـې د شاملیدو پیشـکش وکـړی شو،لیکن هغه ونه منلو.نو موړی تر ۱۹۵۷ م پورې په بندي خانه کې و اوپـه بـل کـال کـې بیـا ونیـول شو.لیکن په ۱۹۶۴م کې دی دومره ناروغـه شـو،چې حکومـت یـې خوشې کولو ته اړ شو.

د خپلو ناروغیو په باب پاچاخـان پـه خپـل پیغـام کـې وویـل:«زه چې کله د عـلاج لپـاره لـه ملـک نـه بهـرتلم نو هغـه وخـت د پاکسـتان د جوړیـد وا تلس کالـه تیرشوي وو او پـه دې اتلسـو کالو کـې مـا پـنځلس کالـه پـه جیـل کې تیرکړي وو او پـاتې درې کالـه پـه نظربنـدۍ کـې.زه لـه کـوره د عـلاج لپـاره نشـوم وتلی.د قـام او ولـس خدمت خولو یه خبره وه،زه یو خدایي خدمتګاریم او له خپل خدای سره مې دا وعـده کړې ده،چې د هغه د مخلوق خدمت به کـوم او ترمرګه به یې کـوم.نو چې کلـه زمـا عـلاج مکمل شو نو ما ځان سره فکروکړو،چې پـه پاکسـتان کـې خو مالـه څوک د خدمت موقع نه راکوي نو دا مې بهتره وګڼله،چې زه افغانستان ته لاړشم ولې،چې هغه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ ورونه دي اودا باقي عمرمې له هغو ورونو سره تیرکړم نوځکه تاسو ته معلومه ده، چې ما دغه ۸ کاله هلته دافغانستان داولس سره په خدمت کې تیرکړل اوداسې علاقه اوکلی مې پرې نښود، چې ما هلته دوررولی اوقامولی پیغام دهغوی غوږونو ته نه وي رسولی.

کله چې پاچاخان په سپتمبر ۱۹۶۴م کې دپاکستان له بندي څخه خلاص شو .نوهغه دخپل علاج لپاره بریتانیا ته لاړ ،لیکن دوه میاشتې وروسته بیرته کابل ته راورسېدو.هلته دډېرو افغانانو له خوا يې تود هرکلی وشو.دپښتو دغه سترزعيم تر۸کالو پورې په افغانستان کې هستوګنه لرله چیرته چې ددغه درانه هېواد له خلکو سره يې مناسبات نورهم نږدې اوپراخ شول.

پاچاخان صاحب په دسمبر۱۹۷۲ م کې بیا پاکستان ته لاړ، چېرته چې خیبرپښتونخوا اوبلوچستان کې دنیشنل عوامي ګوند ایالتي حکومتونه جوړشوي وو.هغه ۱۹۷۳ م ع کال په نوامبرمیاشت کې دصدراعظم ذوالفقارعلي بهټو دحکومت له خوا ونیول شو اوفخرافغان ورته ترټولونه ناوړې حکومت په توګه بیان شو.بادشاه خان په ۱۹۸۵ م کې دهند دملي کانګرس دسلمې کالیزې په نمانځلو کې دګډون لپاره هند ته تشریف یووړل اوبیا یې په ۱۹۸۷م کې دهند ترټولونه لوی اعزاز بهارت رتن په ورکېدو سره وویاړل شول.خلکو د سرحدي ګاندهي دامسافرت دیوه جشن په توګه ونمانځلو.

په ۱۹۸۸م کال کې کله چې دهند اوپاکستان دنیمې قارې اودافغانستان دعوامو ترټولونه زیات درانه اوپیاوړي مشرله دې فاني دنیا څخه رخصت شو ،نوهغه وخت په پېښور کې په کورکې بندي و.ددوی په رضا دی دختیځ افغانستان په جلال آباد کې ښخ کړی شو اودده هدیره زمونږټولو لپاره دزیارت ځای ګرځېدلی و.دفقید ستر مشرداعقیده وه، چې دافغانستان په خاوره کې دهغوی دتدفین له کبله دخیبردداړو خواووپښتانه به کم ترکمه په احساساتي اوروحي ډول یوشي اودهغوی لرغونی تهذیب به په راتلونکي کې دلمرپه شان په ټوله نړۍ باندې وځلیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هند کې د پاچاخان په باب يو شمېر کتابونه چاپ شوي دي ، چې په کې د نيمې وچې له استعمار څخه دآزادۍ د سترمشر د برخې و یاړنه هم شوې ده. په دغو کتابونو کې د ښاغلي ايک ناتهه اليمورن ،راجموهن ګاندهي ،چې د مهاتما ګاندهي لمسی دی ،پیاري لال ډي جي تندوګراو د نهرو یادګاري موزيم اوکتابتون له خوا چاپ شوې نسخې ډېرې مقبولې دي .لکه څنګه چې هرچاته معلومه ده د مهاتما ګاندهي او د سرحدي ګاندهي خان عبدالغفارخان صاحب ترمنځه ډېرنږدې والی او د يوه او بل لپاره ډېر احترام و .

په ۱۹۳۸ م ع کال کې پاچاخان مهاتما ګاندهي له ځان سره د اتمانزو په خپل کلي او د ایالت نورو ځايونو ته هم بوتلو. څلورورځې په کلي کې له تېرېدو څخه وروسته دوی پېښوراونوښهره ته لاړل .هلته د اتمانزو او د پېښور په شان ګاندهي جي د خدای خدمتګارانو له سالارانو سره يوه غونډه وکړه. سالارانو ورته په يوه تحريري استقباليه بيان کې وويل :چې مونږ ستاسو څخه متشکريو ، چې تاسو مونږته د عدم تشدد يوه داسې وسله راکړې ده ،چې له پولادو څخه د جوړشوو وسلو په نسبت زياته اغيزه ناکه ده. هغوی مهاتما ته يقين ورکړو ،چې په عدم تشدد کې زمونږ اعتقاد مستقل او بې له شرطه دی او مونږ به تل په دې ټينګ ولاړ پاتې کيږو. ګاندهي جي ورته مبارکي وويله او ورته يې توصيه وکړه، چې که هغوی په دې عمل عقيده وکړي نو هغوی به يو نوی تاريخ جوړ کړي .

ګاندهي جي د خدای خدمتګارانو د نظم او نسق ډېره ستاينه وکړه ويې ويل :چې «ما په خپل ژوند کې داسې خاموشه او منظمې جلسې ډېرې کمې ليدلې دي .»د فخرافغان په خپلو تورو کې د ګاندهي جي دااميد پيدا شو ،چې د دې د رنو او تورزنو پښتنو په ذريعه د خپل ژوندون مقصد حاصل کړي اولکه وايي:«زما دعا ده ،چې پښتانه دې نه يوازې دا چې هندوستان ته آزادي وګټي بلکې د دغه آزادۍ په برکت ټولې دنيا ته د عدم تشدد دازرين اصول ورمعرفي کړي .»يو شمېر خدايي خدمتګارانو ګاندهي جي ته وويل :مونږمنو ،چې مونږ خپګان په يوه پوره ډول له خپلو زړونو څخه لرې کولای نه شو. په پوره توان لګولو هڅه به کوو ،چې داسې ناتواني لرې کړو. ګاندهي جي په دې وينا خوشحاله شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاندهي جي او فخر افغان خان عبد الغفار خان دیوه او بل په ملګرتیا د صوبه سرحد د ډېرو نورو ځایونو مسافرت هم وکړ او د بېلو بېلو راېو لرونکو شخصیتونو او له نورو خلکو سره د افکارو تبادله وکړه.هرځای ته چې دوی لاړو.د هغوی هر کلي وشو او په خصوصي ډول ګاندهي جي د پښتنو په خیالاتو پوه شو او ورته یې وویل چې هغوی ته په کار دي ،چې د خپل ملک خدمت ته ملا وتړي.

فقید ښاغلی صادق علي د کانګرس یو لوی مشر او د هند له آزادۍ څخه وروسته د مهاراشترا او د تامل ناډو د ایالتونو والي و ،د پاچا خان د بې ساري خصوصیتونو په باب د لیکلو په ضمن کې ویلي دي ،چې سرحدي ګاندهي د هند د نیمې قارې د انګلیسانو له جنګ څخه د آزادولو د خپلو هڅو په وخت د خلکو په عمومي ویښتیا کې اغېزه ناکه برخه درلوده.د هغوی تر مشرتابه لاندې خدایي خدمتګارانو ډېرزړه ورکارونه وکړل.محترم پاچا خان یو سپېڅلی مسلمان وا و ګاندهي جي یو نیک هندو و.لیکن د دغو دواړو مشرانو افکار او نظریې یو شان وې،چې مقصد یې د ټولې نیمې وچې د خلکو د اخلاقو او له وطن سره د مینې د احساساتو ټینګول وو.د پاچا خان خپل ساده ژوند شجاعت ،نه ویرېدنه ،له شان وشوکت څخه پرهیز ،له کړاونو څخه د تیرید و چمتووالی د اسې صفتونه وو ،چې هغوی په اسانۍ سره خپلو ګړوته د جدوجهد الهام ورکولی شو.پاچا خان چې خپل ځان لپاره کومه سمه او ټینګه لارغوره کړه هغوی کولی شول ،چې په هغه د خپلو خلکو د انساني ورورولۍ ،مساواتو ،زغم ،رښتیا او د عدم تشدد خویونه لا هم ټینګ کړي.

ښاغلي خورشید عالم خان چې د هند د خارجه وزارت مملکتي وزیر او بیا د کرناټک د ایالت والي و.د پیاوړي مشر خان عبد الغفار خان په ویاړ کې لیکلي دي ،چې هغه د خلافت د غورځنګ په دوران کې د لومړي ځل لپاره له مهاتما ګاندهي سره په تماس کې شوی و.هغوی تر ډېره حده پورې د مولانا ابو الکلام آزاد ،علي ورونو او د حکیم اجمل خان ګوندي مشرانو سره ورننږدې شول ،چې د هغوی ټولو معزز قامي مشران وو.د پاچا خان د نا راحته اجتماعي او سیاسي جدیت له کبله مقامات و د رېدل.وربانـدې محاکمه وشوه او هغوی د ۱۹۲۱م کال د سپتمبر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوولسمه نیټه د دریو کالو تر با مشقت جزا لاندې بندي کړی شو. کله چې په ۱۹۹۲م ع کال کې د خدايي خدمتګارانو په غورځنګ پیل وکړ نو هغه خپل ځان د الله پاک د خدمتګارانو په حیث وګاڼه. هغه به تربګنی ختمې کړي ، خپلو ماشومانو ته به تعلیم ورکړي ، خپلو ښځوته د مهربانۍ په سترګه ګوري، دواده مصرف به کم کړي. د ظالمانو په ضد به مجادله وکړي او په مکمل ډول د عدم تشدد لاره اختیار کړي. پاچاخان د پښتنو په زړونو کې د داسې تعمیري پروګرامونو د تعقیبولو جذبه راپیدکړه ، چې په واسطه یې خپل اقتصادي ، ټولنیز او علمي حالات ښه کړی شي.

ښاغلي خورشید عالم خان لیکلي دي، چې پاچاخان یو پاک دیني انسان واو له دې سره سره هغه یو پوه معقول او با سیرته مشرهم و. هغه ډېر رحم دله ، زړه ور، تخیلي او نجیب شخصیت درلوده او له دې کبله هغه نه یوازې د فخر افغان بلکې د فخر هند د بللو مستحق هم دی. مونږ ته لازمه ده ، چې د پاچاخان دافکارو ، عملونو او د اجتماعي ، اقتصادي فلسفې مطالعه وکړو او له هر ډول جګړو او مخالفتونو څخه غاړه وغړوو.

میرمن سعیده سید بن حمید لیکلي دي ، چې کله خان عبدالغفارخان صاحب زوکړه کړې وه ، نو پښتنو له هغې څخه مخکې له انګریزانو سره په مجادله کې پنځوس کاله تېرکړي وو. پاچاخان د یوې نامتوکورنۍ فرزند و ، چې دوه هدفونه یې درلودل. یو د خپلو خلکو ترمنځه دیووالي او بل له انګریزانو څخه د خلاصون. سربیره پردې د خپلو هڅو له امله برتانیوانو ونشول کولی ، چې پښتانه ترخپل لاس لاندې راولي او یا هغوی د ډیورنډ د کرښې په ختیځ او سویلي برخو کې مستقیما ترخپل کنترول لاندې راولي.

د خان عبدالغفارخان صاحب له انګریزانو سره مجادله وه او د کومې په واسطه چې هغه خپله سلطه قایمه کړې وه. قبایل وو. هغه وخت په ډېرې نا آوازۍ کې ژوند کاوه. د هغه کرهنیز تولیدات ډېر کم وو او تجارت یې د صفر برابرو. پښتنو نشول کولی ، چې د هند د ملي کانګرس په شان خپل کوم سیاسي ګوند وچلوي. ښاغلي عبدالغفارخان صاحب په یوه ملوک الطوایفي کلتور کې له خدايي خدمتګارانو څخه له انګریزانو څخه د آزادۍ د ترلاسه کولو او د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو دا وچتولو لپاره د عدم تشدد عقیده خپله کړه.پاچا خان وویل:دیوه مسلمان یا د پښتون لپاره په عدم تشدد باندې اعتقاد کول بیخي د حیرانۍ خبره نه ده.دفخرافغان په خپل ځان کنترول او له ځانه د تېرویدو لاره غوره کړه، چې د خپلو خلکو د ښه والي او ښېګړې موقعې را پیدا کړي.

دفخرافغان فرزند خان عبدالولي خان صاحب د خپل ګران پلار په باب دلیکلو په ترځ کې د هغه د لومړي ځل د ګرفتارۍ کیسه دا سې بیان کړې ده:دلومړي لوی جنګ په ختمیدو د انګریزانو حکومت د هند په مرکزي قانون سازه اسمبلۍ کې درولټ د قوانینو مسوده وړاندې کړه.هندې قام پرستانو دغې مسودې د ملک دجارا یستلو په حیث هغې وګڼلې ،ځکه چې انګریزانو ژمنه کړې وه، چې د جنګ پای ته رسیدو ځخه وروسته به هیواد ته یو رقم خود مختاري ورکړی شي.په ټول هند کې احتجاجي جلسې وشوې.یوه جلسه د پاچا خان په کورنۍ کلي اتمانزو کې وشوه ،کوم صدارت چې پاچا خان په خپله وکړو.نوموړی ونیول شو او هتکړۍ پرې ولګولی شوې. نوموړی له چارسده ځخه

تر پېښوره پورې ۱۲ میله پلې تلو ته اړ کړی شو، کله چې د هغه له لاسونو ځخه وینې څڅېدلې.کله چې د خلافت غورځنګ شروع شو ،نو دهغه په اجلاس کې افغانستان ته دهجرت غږو شو.پاچا خان افغانستان ته په راتلو د غازي امان الله خان سره وکتل چا چې له برتانیې سره په جنګیدو هغه استعماري قدرت ته له افغانستان سره دیوې لوزنامې کولو ته اړکړی شوی و.افغانستان دیوه آزاد او خپلواک هیواد په څېر د منل شو او دې نورو هیوادو سره ډیپلوماتیکي مناسباتو د قایمولو حق درلود.

پاچا خان لیوالـه و ،چې پښتانه دې تربګنۍ او دښمنۍ پرېږدي او خپل اختلاف د ټوپک په ځای د خبرو اترو او د وروروليٰ او د مینې له لیارې حل کړي.له دې ځخه پرته دوی د آزادۍ اسلامیه سکول (ښوونځی )دبنسټ تیږه هم کېښودله او دوخت په تېرېدو سره نور مکتبونه هم له دې سکول سره شامل شول.متعلمین به تشویقیدل ،چې هغوی دې د حضرت رسول الله دژوند او تعلیماتو ښوونه هم ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګریزانو به زیرزبر کتل، چې ځلمي پاچاخان څنګه د پښتنو په ژوند کې اصلاح ګانې کوي، دزړو دردونو رسمونو یاد کموي، دوطنوو الو په ژوند کې سادګي راپیدا کوي او وړې وړې دښمنۍ له منځه وړي.
د پښتنو ځلمي مشر د اسلامي مکتبونو په واسطه دیوې روغې، خوشحاله او سرې غونډۍ ټولنې د تاسیس آرزو هم لرله. انګریزان په دغه مهمه او حساسه سیمه کې په دغو بدلونونو ډېر شکمن او خپه شول. هغوی د اسیمه له افغانستان څخه جلا کړې وه او دلته د دغه سرې ترافغانستان له بادشاه سره د ملګرتیا اړیکې ټینګې کړې، هغه بادشاه چې د بریتانوي معیارونو د هغې لوی دښمن شوروي اتحاد سره ډیپلوماتیکي مناسبات قایم کړي وو. یوې خوا انګریزانو هڅې کولې، چې د کتابونو په لیکلو د افغانانو او پښتنو په منځ کې نسلي بې اتفاقي راپیدا کړي او له بلې خوا د دغه ځلمي لګیاو، چې د ټولو پښتنو دیو والي تلقین کوي او وایي، چې د املت هیڅکله سره جلا کیدای نشي. انګلیسان د بېلوبېلو قبایلو لپاره دبیلوبیلو ایجنسو په قایمولو د هغو په منځ کې د بې اتفاقۍ په راپیدا کولو کې بوخت وو او له دې برعکس دوی دیوې ونې د تنې په شان دي او بېلې بېلې قبیلې د وه ښاښونه دي. له دې کبله انګریزان افغانستان په سیاسي ډول دویشلو په خپله ناوړه لوبه کې په اداري سویه هم پاتې شول.
ښایي چې د فخرافغان مخې ته تر ټولو نه لویه مسأله د پښتني ټولنې د غه قند مزاجي وه، چې هغوی په ډېرې وړو کې پاړوني هم ټوپک په لاس کې ونیو، پاچاخان خلک دیوه او بل لپاره احترام، انساني خواخوږي او په ځانګړې ډول د عدم تشدد په مقدس اسلامي اصولوپوه کړل او ددې په نتیجه کې په پښتني ټولنه کې ډېرتغییرراغی او په خلکو کې له پیړیو راهسې د روانو دښمنیو د پرېښودلو تمایل وغوړېدل، ځکه چې انګریزانو دغه وضیعت نشوزغملی، هغوی پاچاخان بندي کړو او ددریو کالو لپاره یې د تورو تنبو په شا واچاوه، چېرته چې دهغه ځان په عذاب کې و.
پاچاخان په بندي خانه کې حس کړل، چې پښتنو ته دیوې ورځپاڼې او یا دجریدې ضرورت دی. له همدې کبله دوی د پښتون نومي جریدې آغازوکړ، ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي چې غازي امان الله خان هم په دې ګام ډېر خوشحاله شو. کله چې پاچاخان بنګال ته لاړو نو انګریزانو هغه ونیولو او د عیسویانو یوې غونډې ته دوینا کولو په الزام د دوو کالو لپاره په جیل کې واچول شو.

د ۱۹۳۵ م کال کې په سرحدي صوبه کې انتخابات وشول په کومه کې چې خدايي خدمتګارانو لوی بریالیتوب خپل لاس ته راوړ. هغه نوابانو، خانانو، خطاب لرونکو جاګیردارانو او نورو ته ماتې ورکړه. انګلیسانو صاحبزاده عبدالقیوم دوزیراعظم په چوکۍ کېښناوه، لیکن کله چې کانګرس د حکومت واګې په خپل لاس کې د نیولو تصمیم ونیولو. د صاحبزاده دوزارت په ضد د عدم تشدد قرارداد تصویب وشو او ډاکټرخان صاحب دوزیراعظم عهده سنبال کړه. له انتخاباتو څخه وروسته فخرافغان خان عبدالغفارخان صاحب ته صوبه سرحد ته د راتلو اجازه ورکړې شوه. بریتانوي مقاماتو الزام ولګاوه، چې یوازې د پاچاخان صاحب د موجودیت له کبله د صاحبزاده وزارت ماتې وخوړله، کله چې پاکستان منځ ته راغی نو ګورنر جنرال ښاغلی محمدعلي جناح د ډاکټرخان صاحب وزارت رنګ کړو او د هغه په ځای د مسلم لیګ حکومت وټاکل شو. د غه خبره بیخي له نظره وغورځولی شوه، چې ډاکټر خان صاحب ته په ایالتي اسمبلۍ کې د ۳۳ غړو مرسته وه او د مسلم لیګ یوازې ۱۷ غړي وو. بادشاه خان او د دوی ډېر همکاران ونیول شول او بیا په چارسده کې دباړه پېښه وشوه په کومه کې چې ۲۰۰ تنه په بې رحمۍ سره په ګولیوو ویشتل شول. بادشاه خان صیب بې له کوم عدالت له محاکمې څخه د شپږو کالو تر اوږدې مودې پورې په بندي خانه کې وساتل شو او هغه ډېر وسختو او کړاونو ښکار شو.

د تاریخ له پلوه به دا خبره هیڅکله نشي هېره، چې د پاچا خان غوندې یو سپېڅلی مسلمان، د پاک زړه انسان، رښتونی وطن پالونکی او د الله پاک نیک بنده د خپل ملک د سیاستمدارانو له لاسه دومره ظلمونه او ستمونه په ځان باندې زغملو ته اړ شي. دا د خواشینۍ خبره ده، چې د هند او پاکستان په نیمه وچه، په قبايلي سیمو او د ګران هېواد افغانستان په ځینو سیمو کې اوس هم د تشدد او د ترهګرۍ پېښې د وینو د تویولو فعالیتونه دې بند شي او په دې ټوله سیمه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

امن او سوله په ځای کړی شي او په دې ساحه کې میشته ټول وګړي په امنیت او خوشحالۍ کې ژوند وکړی شي.دا سې دعا ګانې به دپاچاخان پاک روح ته تسکین ورکړي اوزما بلـه دعا دا وه ،چې دالله پاک دې رحم وکړي، چې دهند او افغانستان اولسونه دې دتل لپاره په نړۍ کې دورونو په شان و اوسیږي.دیوه اوبل لپاره په خواخوږۍ ژوند وکړي او په هرډګرکې په سیاسي ،اقتصادي، کلتوري، معاشرتي ،تعلیمي او احساساتي ډول سره نورزیات نږدې شي ،چې په اوسني او په راتلونکي زمان کې هم ددوو ملګرو هېوادونو په شان وګڼل شي.

## ۲-۵-۱۰- دهند دفن اوکلتورپه ارتقا کې دپښتنوبرخه :

د هندیانو او پښتنو ترمنځ د فن او کلتور په ډګر کې نږدې مناسبات د تواریخ یوه روښانه پاڼه ده پښتنو دهندي ژوند په هره برخه کې لوی رول لوبولی دی، چې نښې نښانې یې تر اوسه پورې موجودې دي او د هغو وختونو یاد تازه کوي، کله چې ددغو دوو لویو قومونو ترمنځه مثبته همکاري په محرک ډول روانه وه.

آریانا د افغانستان بل نوم دی او په هغه خاوره زمونږ ګډ کلتور بنسټ کېښودل شو. ریګ ویدا دانسان تر ټولو نه پخوانۍ اثر دی او دا لوی کتاب یوازې د هند او افغانستان میراث نه دی ،بلکې ټولـه نړۍ پرې ویاړي د هغو ورځو ګندهارا – عصري افغانستان د هغو اریاوطن و چا چې له هندیانو سره ګډ اعتماد کړی ،اداري او ګډ عنعنات یې درلودل.

کله چې لوی ( بودا ) خپل پیغام نړۍ ته ورکړو هغه د هندیانو او د هغه وخت پښتنو لپاره د مساوي تسکین باعث وګرځېد اوس هم د افغانستان په بېلا بېلو برخو کې دهغې زمانې بې شمېره زاړه آثار موندل کېږي په دنیا کې د بوډا تر ټولو نه جګه مجسمه په بامیانو کې ده په بګرامو کې د ډېرو او د فیل په غاښونو ښکاري اوس هم د هند او پښتونخوا د ګډ میراث یو په زړه پورې مثال دی. د تواریخ په اوږدو کې د پښتنو او د هندیانو ګډ سرنوشت د یادونې وړخبره ده.د سکندر اعظم د راتګ له کبله یوناني کلتور د افغانستان له لیارې هند ته رسېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

و د باختري پاچاهانو د وخت د بلخ ښار ذکر په سنسکريت کې د باهلک په توګه راځي.

دافغانستان اودهند په ژوند کې ډېر داسې شيان چې اوس عادي ګڼل کېږي، له قديم يونان څخه د مسافرو، فيلسوفانو، ليکوالانو او د مفکرينو په واسطه په دغه سيمه کې رسيدلي وو. د کالي او د قلم په لغتونو مونږ ټول پوهېږو، ځکه چې دا د افغاني او د هندي ژبو برخه ګرځېدلي ده. هر څوک چې د ښلا ښېلو آريايي ژبو دجوړښت مطالعه کول غواړي، هغه ته لازمه ده، چې په افغانستان او په شمالي هند کې د هغو د مروجو ښو له يو او بل سره مقايسه وکړي په دې ډګر کې هم مونږ د پېړيو پېړيو راهيسې د ګډ کلتور او ميراث ثبوت ګورو.

يوه عظيم شخصيت جمال الدين افغاني د اسيا او د افريقا قارو ته يو نوی فکر او فلسفه وښښله د هغې په برکت د لويديځ د غلبې ښې ښانې له ختيځې نړۍ څخه لګيا دي. په نولسمه پېړۍ کې د آزادۍ لپاره د پښتنو والي ګولی د اسيا د خلکو لپاره د يوه روښانه مثال په توګه ثابتې شوې. هغوی به په داسې حال کې د ژوند ديموکراتيکي ښې ساتلې، له کومو سره چې داروپا د سياست زده کونکي بلد نه وو. په جرګو کې او د سرو د آزادۍ په مفکوره کې او د قبايلو په ژوند کې همدا ديموکراسۍ تخم په ښه توګه ساتل شوي دي. په ټوله نولسمه پېړۍ کې د پښتنو د آزادۍ مبارزې د اسيايي هېوادونو د ولسونو لپاره دتشويق او د الهام باعث ګرځېدلی.

له لومړي لوی جنګ څخه وروسته افغانستان بيا د يوې آزادې هستۍ په توګه په خپلو حقوقو ټېنګار وکړ په هغه وخت کې هندي خلک هم د غلامۍ له خوب څخه د آزادۍ رڼا ته راويښ شول هند په يو څو کالو کې د آزادۍ ناوې وګټله اوس موږ د يوې نوې ټولنې په حيث په يوه نوي اجتماعي نظام کې له پاتې نړۍ سره يو ځای پر مخ ولاړ يو. اوس هر څوک د مساواتو په اساس د خپل سرنوشت د ټاکلو په کار کې بوخت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هندي کلتور له پښتونخواه څخه د صوفي بزرگانو او زلميانو په راتگ ډېر بډای شو د چشتيه صُوفي سلسلې باني غريب نواز حضرت خواجه معين الدين د افغانستان يو سوغات دی، چې په هند کې يې د يوه نوي روحاني ژوند اغاز وکړ.

ددې هېواد په زرگونو او لکونو خلک د هغوی د نېک ژوند او تعليم تر اغېزې لاندې راغلل لا تر اوسه پورې بې شمېره وگړي بېله د مذهب او دين امتياز په اجمېر شريف کې د هغوی مزار ته زيارت کوي او د خپلو آرزوگانو د پوره کولو لپاره دعاگانې ورته کوي هماغه شان بابا شيخ فريد الدين گنج شکر هند ته د پښتونخوا تحفه ده هغوی هم د صوفيانو له چشتيه سلسلې سره اړه لري. هغوی د خواجه قطب الدين بختيار کاکي مريد او د حضرت نظام الدين اوليا مرشد و، چې په ټوله نړۍ کې يې ډېر شهرت ترلاسه کړو د بابا شيخ فريد دومره لوی او پاک شخصيت و، چې کلام يې د سکهانو په مقدس کتاب سری گورو گرنتهـ صاحب کې هم ثبت دی او د ټولې نړۍ سکهان په ډېر احترام د هغه عبادت کوي.

له دغو صُوفي زعيمانو څخه پرته ډېر نور لوی او پاک شخصيتونه له پښتونخوا څخه هند ته راغلل او د يوه گډ کلتور په ارتقا کې يې ونډه ورکوله.

پښتنو په هند کې د ودانيو په جوړلو ډېرې مظاهرې کولې سلطان محمد غوري په ډيلي کې قوت الاسلام نومي جومات جوړ کړ. دده جرنيل قطب الدين د قطب مينار په ودانی پېل وکړو دا دواړه آثار تراوسه پورې موجود دي او د نړۍ له بېلا بېلو هېوادونو څخه د تورستانو د دلچسپۍ مرکزونه دي.

د قطب مينار د جوړولو کار شمس الدين الشمس پای ته رسولی و د الشمس په دوره کې د حوض خاص او حوض شمسي څخه گرد چاپېره لوی لوی باغونه او د سيل د پاره داسې ښه د تفريح ځايونه جوړشول، چې خلکو به ډيلي د طرب آباد په نامه يادا وه.

سلطان ناصر الدين د جمنا د سيند په غاړه يوه سپينه ماڼۍ ودانه کړه، چې نوم يې هزارستون کېښود. غياث الدين بلبن د ډيلي د بستي نظام الدين تر څنگ په کلا کې يو سور محل جوړ کړ، چې خلکو دا ځای د غياث پور په نامه هم يادا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هند کې د اردو ژبې باني امير خسرو و ، چې هغه په دې هېواد کې زېږېدلی ولیکن دده نیکه د افغانستان د بلخ له مربوطاتو څخه د یوه کلي و. اردو ژبې د هند د بېلا بېلو قامونو ترمنځه د لساني او کلتوري یووالي په ټېنګولو کې بې ساری رول لوبولی دی. امير خسرو د غیاث الدین بلبن د دربار شاعر چې اصلاً افغان و او نیکه یې له بلخ څخه و ،هند ته راغلی و.

دغلجایي کورنۍ سلطان علاو الدین غلجي په ډیلي کې د سیري په نوم یو نوی ښار ودان کړو ، چې کنډرونه یې اوس هم لیدل کېږي.

دې پاچا د زړې کلا هزارستون ترمیم کړ او د مسجد قوت الاسلام علایي دروازه یې هم جوړه کړه .هغه د علایي مینار په ودانولو هم پېل وکړ، چې جګوالی یې تکیمل ته ونه رسیدو. دا مینار لا تر اوسه د قطب مینار په احاطه کې د ننه موجود دی. د نظام الدین اولیا د درګاه اکثر ځایونه د همدې پاچا په وختو کې ودان شوي دي.

د فیروز شاه تخلق په دوره کې څو برجې مسجد ، د ترکمان ګېټ لوی مسجد ، د کوټلې مسجد ، د کالو سرای مسجد ، د بېګم پوري مسجد او د مالویه نګر په خنګ کې کړکۍ مسجد ، دا ټول جوړ او ودان شول. د فیروز شاه کوټله د همدې پاچا کلا وه ، چې اوس د هغې کلا ځېنې وراني کنډوالي پاتې دي.

پاچا سکندر لودي د اګرې په خوا کې سکندر نومي ځای ودان کړو د اګرې قلا هم همدې پادشاه جوړه کړې ده ، چې دغه کلا مغلو ترمیم کړه او د پښتنو د دورې نه وروسته یې دغه کلا په خپل نوم کړه د ډیلي په لودي باغونو کې د لودي خاندان د ډېرو پاچاهانو مقبرې دي ، چې ډېر خلک هلته ځي او د لودي سلاطینو یاد تازه ساتي.

پاچا شېرشاه سوري د شېر ګړه په نامه یوه کلا او یو ښار ودان کړو ، چې آثار یې د یوه جګ فصیل او شانداري دروازې په شکل کې موندل کېږي. شېر شاه سوري له بنګاله تر پېښوره پورې لوی د پاچاهی سړک تېر کړو ، چې په هر پړاو کې یې د مسافرو لپاره ښه سرایونه ودان کړای شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ازې دا سړک د پښتنو او هندیانو ترمنځ د تګ راتګ او راکړې ورکړې لویه وسیله وګرځېده او دا شان پښتنو له هند سره فرهنګي او اجتماعي اړیکو د لا ټینګولو لپاره لوی سامان مهیا کړو.

شېرشاه سوري به هولي او اختر یو ځای نمانځل هغه دواړه یې یو شان ګڼل او هر چا ته یې ترغیب ورکړ، چې هغه دې په دواړو کې له خوښۍ سره ګډون وکړي. ددې تفصیل د شېر شاه سوانح نګار ناظم خان په ښه شان بیان کړې دي. شېر شاه دا هڅه کوله چې د هند له ټولو قامونو څخه د هېواد یو متحد قومیت جوړ کړي. همدغه راز یې پښتنو ته تل د دې خبرې تلقین کاوه ،چې ټول سره یو شی او قبایلیت په افغانیت کې مدغم کړی.

په هند کې د پښتنو له خوا جوړ کړی شوي ډېر زیات جوماتونه، کلاګانې، زیارتونه، مقبرې، باغونه، سړکونه او سرایونه موجود دي. دا د هغو فرهنګ او کلتور ته د پښتنو پایېدار سوغاتونه او یادګارونه دي ،چې په هره یوه مانۍ د پښتنو د فن او هنر چاپ پروت دی. هغوی د هند ګډ میراث په بډای کولو کې شتمنه برخه اخېستې ده. په تاریخي ډول دا دوه قومونه د یو او بل سره ډېر نږدې شوي دي.

په ادبي ډګر کې هم پښتنو په هند کې د ستاینې وړ کار کړی دی، چې ثبوت یې د پښتنو خطي نسخو کې موندل کېږي ،چې د هند په بېلا بېلو کتابخانو کې پرتې دي ددغو قلمي نسخو موجودیت زموږ دواړو هېوادو د فرهنګي همکارۍ علامه ده.

ددغو خطي نسخو مراکز د ډیلي ملي موزیم، رامپور رضا لایبریري او د بنګال ایشیا ټک سوسایټي دي. دا نسخې په علیګړهـ، لکنهو ، پټنه، کلکته، حیدراباد ، تونګ او نورو ځایونو کې هم پیدا کېږي.

د پښتنو لوی شخصیت خوشحال خان خټک له هند سره نږدې اړیکې درلودې. د هند په اړه یې ډېر څه لیکل او د اسې له هند سره یې فرهنګي او ادبي روابط ډېر زیات ټینګ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو په هر ډګر کې له دې هېواد سره مینه او علاقه ښکاره کړه او په دې کې به هېڅ مبالغه نه وي، چې د پښتنو او هندیانو کلتوري او فني علایق دومره نږدې دي، چې په دې ډول نور هېوادونه په دې سویه خپلې اړیکې نشي ساتلی، په وروستیو ورځو کې د ښاغلي سرآهنګ غوندې د موسیقۍ فنکار د دې هېواد په فرهنګ کې د یادونې وړ کار کړی دی.

په تېرو څو کلونو کې چې ګران افغانستان له ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شوی دی په دغه وخت یو شمېر زیات پښتانه له خپلو کډو سره هند ته راغلي دي او ډېر دلته میشت شوي دي.هغوی خپل کلتور او هنرونه له ځانه سره راوستلي دي او د یو او بل اغېزې په هر چا باندې کړې دي د فرهنګي کړه وړه او اجتماعي ژغم عمل پرله پسې روان دی.

## ۲-۵-۱۱- دهنداوافغانستان ترمنځ لرغوني مناسبات :

د نړۍ په دغه سیمه کې چې هند او افغانستان نومېږي ،د تېرې پېړۍ په اوایلو کې له تاریخ پر مخ آثار لټونې د لویدیځو علمي هستونوله خوا شروع شوې وې.له دغو علمي لټونو څخه دا نتیجه لاس ته راځي، چې د هند او افغانستان په خاورو کې د شپږو زرو کلونو په شاوخوا کې هندیانو مدنیت درلود.دهړپه دې سیمه کې ترتاریخ دمخه د دې سیمې مدنیت د کچهـ تر جزیره نما پورې هم غځېدلی و او د هغه ځای له زیاتو غونډیو څخه دا سې آثار موندل شوي دي، چې دد هړ د مدنیت آثارو ته بیخې ورته دي او د کشفیاتو دا ساحه د راجکوټ د ښار سویلي خواته پرته ده.

ددوه نیم زره کاله قبل مسیح په شاوخوا کې د آریایي سپین پوستو انسانانو یولوی جمعیت په آریانا نومي هېواد اودآمو په شمالي غاړو کې دکوچنیتوب اومالدارۍ ژوند تېراوه او شمېر یې چې زیات شو، نو د آمو سویلي سیمو او د باختر ورشو ته راغلل او د هندوکش په شمالي او سویلي لمنو کې مېشته شول.

دغو خلکو د نفوسو او قبیلو د زیاتوالي په سبب لمر ختیځې خواته هجرت وکړ او د هند شمالي ارتو سیمو ته تېر شول او دلته یې یو مدنیت جوړ کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه مدنیت د ویدا په پخوانیو څلورو کتابو کې انعکاس لیدل کېږي. په همدې دلیل ورته ویدي مدنیت وایي، چې د څوارلس سوه قبل مسیح په شاوخوا کې موجود و څلور ویده دي: دیګ وید، سام وید، اتهرو وید، میجر وید، تر ټولو پخوانی وید زیګ ویدا دی، چې په کې د افغاني قبیلو، پاچاهانو، نومیالیو خلکو، غرو او جغرافیایي ځایونو ډېر نومونه راغلي دي.

دآرین خلکو تاریخي دوره د ویدي سرودو سره شروع کېږي او له همدې تاریخي منبع څخه د آرین خلک افکار، عقاید، د ژوند طرز او د افغانستان له خاورې څخه د دوی مهاجرت څرګندېږي د ژبپوهنې له مقایسو څخه دا ښکارېږي، چې د افغاني ژبو او د ویدي او د سنسکریت د ژبو ترمنځ ډېر ژبني مشترکات موجود دي دا هم ویل کېږي، چې د ویدي د لرغونو ورک شوو سرودونو راتلل همدا د افغانستان او د باختر ورشو ده، چې ددې او سنیو موجوده سرودو نویوه برخه به هغو ورکو شوو سرودو نوې بڼه وي له لرغونې افغانستان سره د ویدي مدنیت ډېره ټېنګه رابطه له دې څخه څرګندېږي، چې د ویدي او سنسکریت پخوانۍ ډېرې کلمې په پښتو او دري ژبو کې ریښې لري.

دریګ ویدا په سرودونو کې د افغاني خاورې د ډېرو سیندو یادونه شوې ده په اتهرو ویدې کې د بلخ نوم د ببلګې په شکل یاد شوی دی. وروسته یې د مهابهارت په کتاب کې ببلګه راغلې ده.

په ویدي سرودو کې د لسو آریایي قبیلو جګړه یاده شوې ده، چې د روایت د سیند پر غاړه شوې وه او په دغو قبیلو کې د افغانستان د خلکو هم ډېر نومونه شته. لکه الینا (د الیشنګ او الینګار خلک) او بهالانه (د بولان ددې خلک او پکتهه (پښتون) له دې جملې څخه د ریګ ویدا په دویم ټوک کې د پکتهه د قبیلو او د هغو نومیالي کسانو او پاچاهانو څو وارې یادونه شوې ده له هغو څخه پکتهه نامتو پاچا توروهوني یعنې شمشرباز نومېده.

هنداو افغانستان یو ډېر لرغونی او ګډ تاریخ لري، چې په کې د یونان د پاچا سکندر اعظم ذکر هم راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه پاچا په ۳۲۶ قبل مسیح کال کې له خپل لښکر سره په هغه پله د هند خواته تېر شو، چې اوسني اټک ته نږدې یې د اباسین پر سیند تړلی و. هغه د ټېک سلا پلو لاړ او بیا جهلم خواته وخوځېد. ده د پنجاب له پاچا پروس سره جګړه شروع کړه د جګړې په پای کې سکندر خپل رقیب ته ټولې فتح کړې سیمې بېرته ورکړې او دی یې له خپلو دوستانو څخه وګاڼه سکندر او ده د لښکرو یوه لویه برخه د افغانستان له سویلي خوا څخه د فارس لوري ته ولاړ.

د سکندر تر مړینې وروسته د ده جنرال سیوکوس د بابل حکمران شو او له هغه ځایه یې اسیا ته مخه وکړه هغه د افغانستان لمر ختیځو سیمو ته وخوځېد څو چې هند ته د سکندر د تګ لاره تعقیب کړي په ۳۰۵ ق م کې سیوکوس د کابل له لارې د سند او هند خواته ولاړ تر اباسین تېر شو خو د اباسین په لمر ختېځه غاړه کې د چندر ګپت له لښکرو سره مخامخ شو، څنګه چې د چندر ګپت لښکر ډېر غښتلی و نو سیلوکوس روغه ورسره وکړه او ډېر ولایتونه یې چندرګپت ته پرېښودل په دې ډول د آریانا نیمه خاوره د هندوکش تر سویلي برخو پورې د چندر ګپت لاس ته ورغله او دا لومړی ځل و، چې د هندي آریایانو فرهنګي او سیاسي اغېزه د اندوس له لمر ختېځې خوا څخه د اندوس لمر لویدیځ پلو ته را تېر شو.

د چندر ګپت له مړینې وروسته د ده زوی بندو سار پر تخت کېښناست د سیوکوس تر مرګ وروسته د ده زوی انیاکوس پاچا شو او د موریا د پاچا بندوسار سره یې ډېر ښه دوستانه مناسبات درلودل بندوسار په ۲۷۳ قبل مسیح کې وفات شو او ده پر ځای د ده نامتو زوی اشوک پر تخت کېښناست. اشوک د هند له لوري سترو او نامتو پاچاهانو څخه و، چې ځلوېښت کاله یې د هند له بنګاله د افغانستان تر ارغنداوه په ډېر برم پاچهي وکړه.

په ۲۶۰ ق م کې د کالنګا په جګړه کې اشوک یو لک تنه خلک ووژل او یو سل وپنځوس زره تنه یې بندیان ونیول تر سلو زرو پورې انسانان هم له لوږې مړه شول دغه خونړیو پېښو د اشوک پر شخصیت ژوره اغېزه وکړه او ده په روحي وضع کې څرګند بدلون راغی. ده د مهاتما بدهو وفات او امان دین ومانه او د یوه راهب او مذهبي سړي بڼه یې اختیار کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشوک دري تنه بوډايي مبارزان د کندهار، کشمير او د لمر ختيځې آريانا ( افغانستان ) نو رو سيمو ته ولېږل.هغوی د بدهـ د تعليم په خپرولو ګوتې پورې کړي، چې همدې پلوه اوس د ګندهارا په ناوه او د افغانستان په لمر ختېځه سيمه کې ډېرې بوډايي نښې ليدلی کېږي او هم دا وايي چې اشوک د خپل هېواد په شمال کې څلور لوېې ستوې يې جوړې کړې وې، چې يوه يې د پېښور د بالاحصار پر غونډۍ وه د فرانسوي موريس فوشه په خوله ښايي دا به هم هغه ستوپه وي، چې د « ستر ګې د سوغات» په نامه ياد ېدله او هغه ځای و، چې د بوډايانو په ګروهه بدهـ خپله ستر ګه قرباني کړې وه.

د ۱۲۰م کال په شاوخوا کې د کوشانيانو خورا نامتو او ډېر واکمن امپراتور د افغانستان د کوشاني پاچاهانو د دويمې کورنۍ موسس کنيشک پاچا شو، چې لقب يې د ګندهارا پاچا و او په سکو کې يې ځان د پاچاهانو پاچا باله. دده د امپراتوری لحن تر لرغونې آريانا او اوسني افغانستان د باندې په هند کې هم خبره شوه .دده د هېواد وېش لمر لويديځ پلو ته د خراسان سره نښتې و او په شمال کې يې کاشغر او يارکند هم فتح کړ او د چين له امپراتور څخه يې يرغمل اخېستي و د امپراتورۍ مرکز يې په ګندهارا کې و او دا هغه سيمه ده، چې د کابل سيند په کې بهېږي او چې له دې سيمې تېر شي، نو بيا د سند په سيند ګډېږي.

کنشک دوه پايتختونه درلودل د دوبې پايتخت يې په کاپيسا کې او د ژمي پايتخت يې په پېښور کې و .کنشک د ۱۵۱م کال په شاوخوا کې مړ شو او تر دده وروسته دده د امپراتورۍ ارت هېواد دده د زامنو ترمنځ ووېشل شو.

د ۱۲۹م کال په شاوخوا کې هووېشکا، د کنشک زوی په هند کې پاچا او خداوند زاده شهنشاه په نامه وباله شو. يوولس کاله وروسته يې د امپراتورۍ لمن د افغانستان تر لمر ختيځو سيمو پورې را ورسيدله دده سيکې د پروان په بګرام کې ډېرې موندل شوي دي، چې ور باندې په يوناني رسم الخط ليکل شوي وو. « شائن شا اووسپتکی کوشان، رهوويشکا زوی واسوشکا نږدې پنځه ويشت کاله پاچهي وکړه او دده د واکمنۍ په وخت کې دافغانستان ځينې برخې له کوشاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

امپراتورۍ څخه ورو ورو بېلې شوې او د اسوشکا واکمني زياتره د هند په سيمو کې پاتې شوه.

د ۲۲۰م کال په شاوخوا کې يو بل سړی کېداد چې د کوشانيانو له کهول څخه و، په باختر کې پاچا شو ،هغه د کوچنيو کوشانيانو د کهول موسس بلل شوی دی.

دده امپراتوري د ملکو الطوايفۍ بڼه غوره کړه له واکمن سلطنت څخه بېل بېل کوچني کوچني حکومتونه منځ ته راغلل د آمو سيند له شال څخه کوچي قبيلو د باختر پر «کېداريانو» په يرغل لاس پورې کړ او د آمو له هغې غاړې څخه يې پردې غاړه څو وارې ودانګل.

د پنځه سوم ميلادي کال په شاوخوا کې د زابلستان له نوميالیو پاچايانو څخه يو پاچا چې توره من يعنې شمشيري نومېدو ، د هند خواته په بريالیتوب تللی او د هند د ګوپتا دولت يې لړځولی او د هند په ساکالا يعنې سيالکوټ کې يې خپل هندي پايتخت وټاکه. د توره من نوم د هند په دوو کتيبو کې ياد شوی دی. دده ذکر د «زاولي شاه مهاراجا توره من» په حيث مشهور شو.

ده په هند کې له بهانو ګپتا او د ولابهي پاچا او دهند د ډېرو نورو محلي اميرانو او له شهزاده ګانو څخه جاج واخېست.

دده د مړينې وروسته کله چې دده زوی ميراکولا په تخت کېښناست نو دده پاچاهي د ګواليار په کتيبه کې ياد شو.

پوهاند عبدالحي حبيبي دده نوم هم پښتو بللی ،چې هير« د لمر معنا او کول» د پښتو « کهول» ، « خاندان» دی، يعنې « د لمر کهول» او ځينو څېړونکو خولا « مهرګلی» ګڼلی دی.

ميرا کولا په هند کې هندي منابعو په وحشتناکه خونړيو پېښو تعبير کړی دی. دهند شهزادګان يو ځای شول او ټول په ګډه له ميراکولا سره وجنګېدل، څو چې تر يوې سختې جګړې وروسته د لومړي ځل لپاره مېراکولا ماته وکړه او کشمير ته رهي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا دهند ټولو راجګانو په یوه اتفاقي «میراکولا» ته پاځېدل، چې په نتیجه کې د افغانستان د یفتلي دولت اغېزه ورو ورو له زاړه هند څخه راټوله او یوازې د کشمیر په سیمه کې محدوده پاتې شوه.

د یفتلیانو د هغو سکو له مخې چې په هډه، کابل، غوربند او نورو ځایونو کې پیدا شوي دي، د یفتلي پاچهانو بڼې د پښتنو د غلجیو کوچیانو بڼو ته ډېر ورته دي.

د هغه وخت له سکو او بوتانو څخه ثرګندېږي، چې یفتلیانو د بوډا مذهب منلی نه و بلکې د لمر رڼا او آتشکدې یې لمانځلې، ځکه چې د دوی پېر یوه سکه باندې د اتشکدې شکل د دوو نرو لرونکو ساتونکو سره کېندل شوي دي.

د تاریخ له دغو پېښو څخه څرګندېږي، چې هند او افغانستان د لرغونو وختونو راهیسې ګډ تاریخ او کلتور لري په نورو ویناګانو کې به ددغو دواړو هېوادو د سیاسي او فرهنګي اړیکو په اړه نور په زړه پورې معلومات وړاندې کړی شي.

### ۲-۵-۱۲- دشلمې پېړۍ دپښتوعظیم شاعرښاغلی ګل پاچا الفت :

ښاغلی ګل پاچا الفت د افغانستان د ادب د اسمان یو ځلانده ستوری دی، چې ساری نه لري.هغه یو داسې لوړ شخصیت دی، چې پرې ټول افغانان ویاړي هغه اوس زمونږ په منځ کې نشته او درې لسیزې مخکې له دې فاني نړۍ څخه رخصت شو، لیکن ده د خپل لیاقت او شعور دومره رڼا په دې نړۍ کې خورولې ده، چې هغه په خپله اوس هم ژوندی ښکاري او دده آثار زمونږ لپاره یو لوی وراثت غوندې دی. ښاغلي ګل پاچا الفت د یوه ګل په شان و، چې په خپل ژوند کې یې ښه خوشبویي کوله هغه په فطرت فیاض او پاچا و او دده په زړه کې د نورو لپاره د ژور محبت او الفت دودونه بهېدل.

په لغمان کې زیږیدلی ګل پاچا د پښتو د ادب یو بهترین شاعر او لیکوال وګرځېد.هغه په نظم او نثر دواړو باندې ډېر نفوذ درلود هغه په خپلو لیکنو کې د فطرت ډېر نازک دقایق څرګند کړي دي.دده هر یو شعر د یوې مرغلرې په شان دی هغه به هر نظم ته ډېر ښکلی او زړه ښکوونکی رنګ ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښاغلي ګل پاچا الفت له خوا ليکل شوی نثر او نظم دواړه، له غريبانو سره دده د خواخوږکی او ميني عکاسي کوي. دا سې معلوميږي، چې دده ټول آثار د مظلومانو او بې کسو خلکو په بدبختی او نيکو تجاوزاتو ته ګوته نيسي او خلک د بې انصافی په ضد اخلاقي مجادلې ته اماده کوي.

په شخصي ډول دا زما نيک مرغي ده، چې د نن نه پنځه څلويښت کاله مخکې د کابل د لومړي مسافرت په دوران کې زما پيژندګلوي ددغه عظيم شخصيت سره وشوه. زما هغه مسافرت د کابل د پوهنتون دادبياتو په پوهنځی کې د پښتو ژبې د زده کولو لپاره و. د زده کړې د هلو ځلو په وخت کې مې د ښاغلي الفت او له نورو پوهانو سره مې وليدل. له الفت صاحب څخه مې د يو څو معياري پښتو کتابونو لپاره پوښتنه وکړه، هغه وخت هغه د قبايلو د مستقل رياست رييس واو له پښتو سره زما په علاقه ډېر قايل شول په پراخ تندي او سړه سينه هغوی ماته يو شمېر زيات کتابونه راکړل، چې ما د يوې قيمتې سوغات په توګه له ځانه سره هند ته راوړل.

څه موده وروسته مې د پښتو اشعاروا ړول انګليسي ژبې ته چې زما يوازيني هيله وه، پېل کړل او په هغه وخت کې مې د هغوی ځينې غوره اشعار ترجمه کړل.

زما ټولې ترجمې په انګليسي ورځپاڼه کابل ټايمز کې خپرې شوې او د تاريخ د انجمن په درې مياشتنی مجله افغانستان کې هم ورته ځای ورکړی شو، هغه کال زما لپاره ډېر ګټور او سودمند ثابت شو، ځکه چې د ښاغلي ګل پاچا الفت غوندې له لوړو شخصيتونو سره مې په پښتو کې د ګړېدو تمرين کاوه او ګټه مې ترې اخېسته.

ښاغلي الفت يو لوی محب الوطن و دده په هره ساه کې د خپل ټاټوبي مينه وه. له وطن سره مينه او وفا دده لپاره يو عبادت و، کله چې د رنځ په حال کې نومو ړی د تداوی لپاره ډيلي ته راغلو نو يو څو ورځې له هغوی سره د ملګرتيا شرف زما په برخه شو ماته معلومه شوه، چې د هغوی په هره وينا کې له خپلې خاورې سره د محبت موسيقي غږېدله د هغوی له خوا ويل شوې هره جمله د افغانانو د هوسايني لپاره دعا وه په اصل کې د هغوی په رګونو کې د وينو رنګ د پښتونوالی رنګ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالفت صاحب د آثارو جدول لوی دی ،لیکن دهغه له آثاروڅخه «د زړه وینا» زما ډېر خوښ شو ادبي بحثونه، غوره اشعار، غوره نثرونه، لوړ خیالونه او ژور فکرونه د پسرلي نغمه او عالي افکار نور داسې آثار دي، چې ډېر اغېز لرونکي دي. په «د زړه وینا» کې د ښاغلي الفت ځینې اشعار لکه چې مینه او دوستي، صلح کل، دهقاني، وطن خاوره، ګرانه وطنه، ملت او مملکت، د وطن ترانه، زخمي زړه او همدردي او نور هم ډېر اغېزناک او په زړه پورې دي. یو ځای هغه وایي:

وطن دې کور زمونږ د سترګو تور زمونږ
او به یې دي لکه شودې د خپلې مور زمونږ

او بیا :

د وطن په محبت باندې قسم خورم
چې د ځان له غمه زیات د وطن غم خورم
د وطن د شرفت سپریم نه وبریږم
که د تورو ګزارونه دم په دم خورم

شاعر «د امید رڼا» نومي نظم کې دا وایي:

نوی دود دی راغلی یوه نوې رڼا وینم
دا زوړ خیال نه پاتې کېږي چې د وخت تقاضا وینم
توره شپه په ختمېدو ده رڼا یې د سبا وینم
نوی ژوند راځي هر ګوره نوې نوې هوا وینم
تحول دی چې دا درومي د افغان او پښتون کور ته
ښه موسم د تکامل دی، ځي چې ځو د کمال لور ته
زمانه راوړي هر وخت کې نوي نوي پیغامونه
معلم د زمانې تل راکوي نوي درسونه
دا دنیا یو پوهنتون دی شاګردان یې ولسونه
تا څه زده کړه له دې عصره ای افغانه ای پښتونه
امتحان دې ډېر نږدې دی، چې به څه درنه جوړېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ورځ ده اوس راغلې چې احوال دې معلومېږي

ګرانه وطنه

ګرانه وطنه څومره زیبا یې
جنت د ځمکې زړه د دنیا یې
ښاغلي تاج ته د ایشیا یې
ورړ د ستایلو ته په رښتیا یې
لعل او ګوهر شته ستا بدخشان کې
تمدن خور شو ستا په جهان کې
نیکیالي تا دي هر وخت روزلي
ښه ښه ځوانان دي تا زیږولي
کارنامې ستا دي تاریخ ساتلی
ستا فرزندان دي څومره غښتلي
زمریان پراته دي ستا په لمن کې
تل پسرلی وي ستا په چمن کې

په غوره نثرونه، تالیف کې ښاغلي الفت د خپلې پاکیزه روح قیمتي عکس وړاندې کړی دی د عقل په باب هغه وایي چې:

عقل هر کله زموږ خیر او ګټه رانښیي

عقل د اخلاقو تابع دی، که اخلاق ښه وي، عقل هم ښه کېږي، که اخلاق بد و، عقل هم په بدو لارو روانېږي او بده لاره ښیي.

مؤلف په جبر او اختیار کې وایي چې:

د دنیا ډېر پوهان په دې عقیده دي، چې د انسان ډېر کارونه په ظاهره ارادي او اختیاري معلومېږي. مګر په حقیقت کې د مجبوریت اثر وي او خبره له اختیاره وتلې وي.

په خپل اثر «ادبي بحثونه» کې ښاغلي الفت د ادب تعریف، د ادب تقسیم، شعر د خوشحال په نظر کې، د حمید، شیدا، د علیخان په نظر کې، او په ژوند کې د شعر او ادب اغېزه غوندې ډېر ښه ښه مضمونونه زمونږ لپاره پرېښودلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي الفت د خوږې وینا څښتن و ، یو لوړ شخصیت یې درلود په وطن مین و ، د لاچارو خلکو دوست او همدرد و ، یو سوچه پښتون و ، د یوه اعلي اخلاقو انسان و ، په رښتینې مانا کې یو سپېڅلی مسلمان و ، یو عظیم شاعر و ، د مثبتو افکارو لیکوال و. له فطرت سره اشنا و ، د قادر کریم د کایناتو سندرغاړی و ، یو لوی مفکر او فیلسوف و ، هغه د ستاینې وړ شخصیت خاوند و ،هغه د صفاتو مجسمه وه او د سادګۍ او عاجزۍ سرچینه وه.

مونږ د دغه لوړ شخصیت یاد ته خپل سر ټیټوو او دده پاک روح لپاره له لوی خدای څخه رحم او برکت غواړو.

## ۲-۵-۱۳- دهند دآزادۍ په جداوجهد کې دپښتنو اودبلوڅانوبرخه :

له انګلیسي استعمارچیانو څخه د هند د نیمې وچې د آزادۍ په جدوجهد کې د پښتنو او د بلوڅانو هلې ځلې او قربانۍ د تاریخ په پاڼو کې په سرو زرو لیکلې شوي دي. په هغو قهرمانانو کې پوهان، عالمان، لیکوالان، شاعران او عام خلک ټول شامل وو ، که څه هم د هغو مشرتابه د دوو لویو مشرانو په لاس کې و ، چې د فخر افغان خان عبدالغفار خان صاحب او د ښاغلي عبدالصمد خان صاحب په نامه یادېدل.

دغه دواړه زعیمان د هند کانګرس د ګوند د مشرانو ، په خصوصي ډول د مهاتما ګاندهي او له ښاغلي جواهر لال نهرو سره ډېر نږدې وو او دواړو د کانګرس د عدم تشدد عقیده خپله کړې وه او دا ځکه چې د آزادۍ د تحریک مشران په دې خبره پوهېدل، چې رښتیا او عدم تشدد د دروا غو او د تشدد په نسبت زیات پیاوړي او اغېزه ناک دي.

پاچا خان د یوې اوږدې مودې لپاره د کانګرس د کارکوونکو کمېټې د غړي په توګه په کار کې بوخت پاتې شول د ګاندهي جي او د پاچا خان ترمنځه اخلاص او د زړه د رنښت دومره زیات و ، چې هغوی دواړو د وطن د آزادۍ په مجادله کې اوږه په اوږه د امپراطوریانو له وحشت سره ډېر فعالیتونه په ځان زغمل.

پاچاخان له شروع څخه ترآخره پورې د یوه متحد او سیکولر هند آرزو لرله همدغه مقصد د پوره کولو د پاره یې د خدایي خدمتګارانو تحریک منځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوستاو ورته يې وويل، چې دا د تحمل او د صداقت وسله ده او د نړۍ هېڅ قوت د دې په ضد د رېدلی نه شي.

په دې تحريک کې د يو لک نه زيات ځوانان شامل شول او هغوی په سره سينه د انګريزانو تر کنترول لاندې د قواو ظلمونه په ځان زغمل د پاچا خان مشر وررور ډاکټر خان صاحب د دغه تحريک سياسي مشري کوله.

د ۱۹۳۰ز کال د اپريل په درو يشتمه نېټه پاچا خان د مالګې د سيته اګره په علت د احتجاجونو په دوران کې د پوليسو له خوا ونيول شول د خدايي خدمتګارانو يوه ډله د پېښور په قصه خوانی بازار کې راټولېده.

انګريزانو خپلو عسکرو ته امر وکړ، چې په ټول شويو خلکو باندې د ماشين ګنو په واسطه ګولۍ وچلوي په هغه ساحه کې دوه نيم سوه بې وسله مظاهره کوونکي کسان له ډېرې بې رحمۍ ځخه په ګوليو وويشتل شول. خدايي خدمتګارانو چې د پاچا خان له خوا د عدم تشدد د عکس العمل پرته هغه بې انصافي په ځان وزغمله، پاچا خان په پښتنو باندې غږ وکړ، چې تاسو کور بربادۍ ته لويدلی دی ودرېږئ اودا بيا ودان کړئ او دا ياد ساتي، چې تاسو له کوم نسل سره اړيکې لرئ.

کله چې په ۱۹۳۸ز کال کې پاچا خان، مهاتما ګاندهي له ځان سره اتمانزو خپل کلي او د ايالت نورو ځايونو ته بوتلو، نو ګاندهي جي د خدايي خدمتګارانو له سالارونو سره يوه غونډه وکړه په هغه غونډه کې سالارونو ګاندهي جي ته په يوه تحريري استقباليه بيان کې وويل ،چې مونږ ستاسو ځخه مننه کوو، چې تاسو مونږ ته د عدم تشدد يوه داسې وسله راکړې ده، چې له پولادو ځخه د جوړ شوو وسلو په نسبت زياته اغېزناکه ده. هغوی مهاتما ته يقين ورکړو، چې په عدم تشدد کې زمونږ اعتقاد مستقل او بې له شرطه دی او مونږ به تل په دې ټېنګ ولاړ پاتې کېږو.

ګاندهي جي ورته مبارکي وويله او توصيه يې ورته وکړه ،چې که هغوی به په دې عقيده عمل وکړي او يو نوی تاريخ به جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاندهي جي د خدايي خدمتګارانو د نظم او نسق ډېره ستاينه وکړه ، ويې ويل «ما په خپل ژوند کې داسې خاموشه او منظمې جلسې ډېرې کمې ليدلې دي» دفخر افغان په خپلو تورو کې، د ګاندهي جي دا اميد پيدا شو ، چې ددې درنو او تورزنو پښتنو په ذريعه د خپل ژوندون مقصد حاصل کړي او لکه وايي زما دعا ده ، چې پښتانه دې نه يوازې دا چې هندوستان له آزادي وګټي، بلکې ددغه آزادۍ په برکت ټولې نړۍ ته د عدم تشدد دا زرين اصول ور معرفي کړي.

ګاندهي جي او پاچا خان د يوه او بل په ملګرتيا د صوبه سرحد د ډېرو نورو ځايونو مسافرت هم وکړ او د بېلا بېلو رايو لرونکو شخصيتونو او له نورو خلکو سره د افکارو تبادله وکړه ګاندهي جي ورته وويل، چې هغوی دې تل د خپل ملک خدمت ته ملا وتړي.

سرحدي ګاندهي يعنې پاچا خان خان عبدالغفار خان د هند د نيمې قارې د انګليسانو له منګولو څخه د آزادولو د خپلو هڅو په وخت د خلکو په عمومي ويښتيا کې اغېزه ناکه برخه درلوده.

دهغوی تر مشرتابه لاندې خدايي خدمتګارانو ډېر زړه ور کارونه وکړل. د پاچا خان خپل ساده ژوند ، شجاعت، نه وېرېدنه، له شان څخه پرهيز، له کړاونو څخه د تېرېدو چمتوالی داسې صفتونه وو ، چې هغوی په اسانۍ سره خپلو وګړو ته د جدوجهد الهام ورکولی شي.

کله چې په ۱۹۲۱ز کال په فخر افغان باندې محاکمه شوې وه نو هغه د دريو کالو بامشقت جزا لاندې په بندي خانه کې اچول شوی و انګليسانو نشو کولای، چې پښتانه تر خپل لاس لاندې راولي.

پاچاخان لېوالـه و ، چې پښتانه دې تربګنۍ او دښمنۍ پرېږدي او خپل اختلافات د ټوپک په ځای د خبرو اترو او د ورورولۍ له لياري حل کړي؛ چېرته چې انګليسان د بېلا بېلو قبايلو ترمنځه د نااتفاقۍ په را پيدا کېدو کې بوخت وو ، پاچا خان په جګ آواز اعلان کاوه، چې پښتانه د يوې ونې د تنې په شان دي او بېلا بېلې قبيلې ددې ښاخونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې کبله انګريزان افغانستان په سياسي ډول د وېشلو په خپله ناوړه لوبه کې په اداري سويه هم پاتې شول . کله چې پاچا خان بنګال ته لاړو نو انګريزانو هغوی ونيولو او د عيسويانو يوې غونډې ته د وينا کولو په تور د دوو کالو لپاره په جېل کې واچول شول.

د ۱۹۳۵ز کال تر قانون لاندې په سرحدي صوبه کې انتخابات وشول په کومو کې چې خدايي خدمتګارانو لوی بريالیتوب خپل لاس ته راوړو هغوی نوابانو ، خانانو ، خطاب لرونکو ، جاګيردارنو او نورو ته ماتې ورکړه.

په تاريخ کې به دا خبره هېڅکله نه شي هېره ،چې د پاچا خان غونډې يو سپېڅلی مسلمان د پاک زړه انسان، رېښتونی وطن پالونکی او د الله پاک نيک بنده د خپل ملک پاکستان د سياستمدارانو له لاسه د دومره ظلمونو په ځان باندې زغملو ته اړ شو ، ليکن د هغوی تر لارښوونې لاندې پښتنو بشرتوب ته يوه نوې معنې ورکړه.

د فخر افغان پاچا خان په شان د بلوچستان لوی مشر خان عبدالصمد خان صاحب هم د هند د نيمې وچې د آزادولو په جدوجهد کې يوه صميمي او زړه ورزړه پيدا کړی و. بلوڅانو هم د قامي تحريک مخ ته بوتلو په لياره کې ډېر زحمتونه په غاړه اخېستل او د تاريخ په پاڼو کې يې يو ژور چاپ پرېښود.

لکه څنګه چې خان عبدالغفار خان صاحب د سرحدي ګاندهي په نامه مشهور شو ، هماغه شان خان عبدالصمد خان صاحب د خپلو قربانيو په برکت د بلوڅ ګاندهي په حيث وپېژندلی شو هغوی د پنځويشتو کالو په عمر کې د څو بلوڅو ځلميانو په ملګرتيا د انجمن وطن په نامه د يوه ګوند ډبره کېښودله ،چې په هغه کې پښتانه او بلوڅ غړي شامل شول. د يوه نه ستړکېدونکي مجاهد په حيث دوی په بلوڅو وګړو کې سياسي ويښتيا راوستله.

خان عبدالصمد خان صاحب د يوه قام سرپرست مشر په حيث خپل اجتماعي نهضت له هند قامي تحريک سره يو ځای کړو. هغوی په انډين نيشنل کانګرس کې شامل شول. خپل انجمن يې د وطن ګوند په کانګرس پورې مربوط کړ د هند له قام پرستو مشرانو سره يې رابطه ټينګه شوه. کله چې د شمالي هند د يوه انقلابي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنظیم د نوجوانان بهارت سبها سره یې له ډېر نږدې نه په تماس کې شو. نو په ۱۹۲۸ او ۲۹ ز کلونو کې ډېر امتیازات یې په برخه شول.
په ۱۹۲۹ ز کال کې د کانګرس د لاهور په غونډه کې خان شهید په بلوچستان کې د امپراتورۍ حکومت د ظالمانو فعالیتونو په اړه وینا وکړه، هغوی په ۱۹۳۰ ز کال کې د انګلیسي رژیم له خوا د دوو کالونو په جزا محکوم کړی شول، لیکن له خوشې کېدو څخه وروسته یې بیا خپل پخواني سیاسي فعالیتونه او قامي تحریکات پېل کړل.
په ۱۹۳۴ ز کال کې خان عبدالصمد خان صاحب بیا د درېیو کلونو لپاره په بند کې واچول شو. د دویم لوی جنګ له پېل کېدو څخه وروسته د بلوڅانو سیاسي فعالیتونه زیات شول د ۱۹۴۲ ز کال د اګست په میاشت کې خان شهید د درېیو کلونو لپاره په بندي خانه کې واچول شو، لیکن د جزا پوره کولو وروسته یې بیا په خپل سیاسي کارونو لاس پورې کړ.
د ۱۹۴۶ ز کال په پای کې کله چې دا خبره څرګنده شوه، چې بریتانوي حکومت د نیمې وچې د ویستلو لپاره د مسلم لیګ د غوښتنې منلو ته چمتو دی، نو پاچا خان او خان شهید د پښتنو او د بلوڅانو د خپلواکۍ لپاره غږ پورته کړو.
د پاکستان د منځ ته راتلو څخه وروسته خان شهید په مېړانه ډول د یوه خپلواک بلوچستان لپاره مبارزې ته دوام ورکړو. هغه د پاکستاني مقاماتو تر امر لاندې ونیول شو، لیکن ۱۹۵۴ ز کال کې خوشې شو. په ۱۹۵۸ ز کې بیا ونیول شو او لس کاله وروسته آزاد شو.
خان عبدالصمد خان صاحب یو سپېڅلی انسان او سوچه قام پرست مسلمان و، چې له فرقه دارانه اختلافاتو څخه باندې و هغوی د هند د آزادۍ په هڅو کې یو لوی رول لوبولی و او ددې نیمې وچې ټول خلک د فخر افغان او د خان شهید په قربانیو ویاړي او د زړه له کومې یې احترام کوي. دا د دوی د لارښوونې نتیجه وه، چې پښتنو او بلوڅانو د هېواد د آزادۍ په لیاره کې دومره قربانۍ ورکړې او په اخره کې امپراتوریان له نیمې وچې څخه د خپل ټغر راټولو ته اړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۵-۱۴- دډېرې مودې راهیسې افغانستان دمنځنۍ اسیا یوه مهمه برخه ګڼل کېده:

دادلویدیځ له خوا په هند باندې د یرغلونو او بریدلویه لاره وه او همدغې سیمې په واسطه به مذهب منځنۍ اسیا او چین ته خپرېدو. په جغرافیایي او تاریخي توګه افغانستان د اسیا د څرخ په حیث پېژندل کېده. ددغې لرغونې خاورې ډراماتیکه کیسه ډېره لویه ده خو ددغه ډرام ببلا ببلې منظرې د شلمې پېړۍ په ستېج باندې نه یوازې دلچسپې بلکې سپېڅلې او حېرانوونکې ښکارېدې. له نولسمې پېړۍ څخه د شلمې پېړۍ تر لومړیو لسیزو پورې افغانستان د لوبې لوبې، یوه بې کسه او بشپړه برخه پاتې شوې وه په کومې کې چې بریتانیا او سوویت یونین په حقیقي توګه رقیبان او حریفان وو.

افغانستان د فرنګیانو په ضد په درېیم جنګ کې د بري په موندلو د خپلې آزادۍ ناوې وګټله. له هغې راهیسې د افغان مشرانو سیاست د هېواد د یوې طرفۍ په ماتولو او په اقتصادي او اجتماعي ودې مرکوز پاتې شو.

افغانستان تل له ملګرو ملتونو سره مرسته، د غیر منسلک تحریک طرفداري او د استعمار او د نړۍ تو پېر مخالفت کړی دی افغانستان د بې وسلې کولو د اصولو له حمایت کوونکو هېوادونو څخه دی او دا په بین المللي، اقتصادي، همکارۍ او له سولې سره په ګډ ژوند اعتقاد لرونکی دی. ددې خبرې په پېژندلو چې د ببلا ببلو هېوادونو ترمنځه زیاتره جګړې په اقتصادي علتونو کېږي، افغانستان له ټولو ممکنو منابعو څخه د دوستانه اقتصادي مرستې د ترلاسه کولو هڅې کړې دي. لیکن دغه هېواد هېڅکله له مرستې سره تړلې کوم داسې شرطونه نه دي منلي، چې د هغه په عزت النفسۍ تجاوز وکړي او یا ددې د نیکو سیاسي اصولو سره تضاد ولري.

له سوویت یونین سره د نږدیوالي له کبله افغانستان په طبیعي ډول د ازبکستان او د تاجکستان غوندې د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره نږدې مناسبات درلودل. لیکن هېڅ د یوه او د بل هېواد په کورنیو چارو او یا په قامي کلتور کې هېڅ مداخلت نه کاوه. له دې سره سره سترو افغان مشرانو د هند، جاپان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نیپال په شان د ختیځې او سویلي اسیا له هېوادونو سره ډېرنږدې مناسبات را پیدا کړل.

د غیر منسلکو هېوادونو سره د دوو اړخیزې او درې اړخیزې همکارۍ په اساس په سلا مشورو او په ورکړه راکړه پېل اوو پالل شو.

زما په یاد دي، چې فقید پاچا محمد ظاهر شاه د ۱۹۶۹ز کال په اپریل کې د جاپان په رسمي مسافرت او درې میاشتې وروسته د جاپاني انجینرانو یوه ډله د هربروډ د پروژې د مطالعې په غرض افغانستان ته راغله او په دې پروژه کې یې له افغانستان سره مرستې پېل کړې.

د یوه اسلامي هېواد په حیث افغانستان له نورو اسلامي مملکتونو سره له نږدې همکاري کړې ده او یو وخت یې په فرانسه باندې زور اچولی و، چې هغه دی الجیریا، مراکو او تیونیسیا ته خپلواکي ورکړي. لیکن تر اوسه پورې د پښتونستان د مسالې حال نه دی موندل شوی او د ډیورنډ د کرښې لانجه هماغسې په ځای پاتې ده.

د یو ځولسیزو د ناکرارۍ سربېره افغانستان اوس د منځنۍ اسیا، سویلي اسیا او د لویدیځې اسیایي سیمې ترمنځه د یوه ځمکني پل په حیث له خپل قدرت څخه د استفادې کولو توان ځانته پیدا کړي. په ستراتیژیکه توګه په دې مهم هېواد کې سوله او سوکالي به ورته نوي اقتصادي مواقع برابرې کړي. دا کار د افغانستان په اوږو د بر مسولیتونه هم اچوي، چې هغه دې داسې پالیسۍ او اداري میکانیزم منځ ته راوړل دي، چې د هغه له مخې خپلو صلاحیتونو په واسطه مشخصې سیمه ییزې پروژې سرته ورسوي. افغانستان دې ته چمتو دی، چې د خپل مرکزیت ګټې له خپلو ګاونډیانو سره شریکې کړي. د افغانستان د قامي ودې ستراتیژۍ دا خبره په ښه شان سره جوتوي، چې سیمه ییز اقتصادي تعاون د افغانستان د حکومت لومړی هدف دی.

د سیمه ییزې همکارۍ په اړه د سویلي اسیا د اتحادیې د څوکۍ د مشرانو په څوارلسمه غونډه کې د افغانستان ولسمشر ښاغلي حامد کرزي په ډاګه وویل:، چې « نور د افغانستان سیاسي او اقتصادي جلاتوب نه دی په کار ددې په ځای د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمه ییز اقتصادي او سیاسي استحکام په خاطر د زیاتې اقتصادي همکارۍ اړتیا ده».

په همدې ډول د بهرنیو چارو وزیر ډاکټر سپنتا د سارک د وزیرانو د کونسل په غونډه کې وویل، چې «افغانستان د خپلو ګاونډیو هېوادونو سره د ترانسپورت په شبکو، د انرژۍ په وسایلو او د خلکو او د افکارو په ازادانه تګ او راتګ کې ژوره دلچسپي لري».

داسې ډېر بین المللي اعلانونه شوي دي، چې په واسطه یې د منځنۍ، سویلي او لویدیځې اسیایي سیمو ترمنځه، د اقتصادي همکارۍ او د یووالي لپاره د افغانستان ارزښت منل شوی. په دغو کې د ۲۰۰۲ز کال د ښه ګاونډیتوب د مناسباتو اعلان، د ۲۰۰۳ز کال د دوبۍ اعلان، دهمدغه کال د برلن لوظنامې، د ۲۰۰۴ز کال د بشکیک کنفرانس، د ۲۰۰۵ز کال د کابل کنفرانس او د ۲۰۰۶ز کال د ډیلي کنفرانس هم شامل دي.

د ۲۰۰۵ ز کال په دسمبر کې په کابل کې د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ په باب یوه کامیابه غونډه شوې وه او د ۲۰۰۶ز کال د نوامبر په میاشت کې همدا شان په نوي ډیلي کې یو کنفرانس جوړ شوی و. د پاکستان د حکومت له خوا د یوه بل سیمه ییز کنفرانس په اسلام اباد کې د کولو پیشنهاد د افغانستان د حکومت له خوا ومنل شو. د نوي ډیلي په کنفرانس کې د دریمې غونډې لپاره په منل شوو مودو کې د کانونو، صحت، د کارګرانو او د انساني وسایلو او په وچو سیمو کې د تجارت او ترانزیت مودې هم شاملې وې.

دافغانستان دبهرنیو چارو د وزارت له خوا له ګاونډیو هېوادونو سره سیمه ییزې همکارۍ ته زیاتې اداري ګټې د ورکولو په غرض یوه کمېټه تاسیس کړی شوه، د کومې په غونډه کې چې د سیمه ییزو هېوادو سفیرانو او نورو نماینده ګانو د جي ۸ هېوادونو او د اسیا د ودې د بانک، عالمي بانک، دملګرو ملتو انکشافي بانک او د اغا خان د ودې د انجمن د نماینده ګانو له خوا ګډون شوی و. افغانستان لګیا دی د دوه اړخیزو او ډېر اړخیزو تجارتي او اقتصادي تړونونو تر مخې له خپلو ډېرو ګاونډیو هېوادونو سره اړیکې ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د اقتصادي همکارۍ د انجمن یو فعال غړی دی او د دغه انجمن د هدفونو د ترلاسه کولو لپاره په شدت سره په کار کولو بوخت دی. څو اقتصادي وده جاري وساتلی شي او د خلکو د ژوند معیارونه اوچت کړی شي.

د ۲۰۰۷ز کال د اپریل په میاشت کې د سارک په څوارلسمه غونډه کې، افغانستان د اتم غړي په حیث ومنل شو. له دې ګران هېواد څخه هیله کېږي ،چې دا به د دغې ادارې په تخنیکي کمېټو او د کار په ډلو کې خپله ونډه اخلي. ځکه چې هر چاته معلومه ده سارک په کرهنې، کلیوالي ودې، صحت، نفوسو، د ښځو او د ماشومانو ښېګړې، چاپېریال، ساینس او تکنالوجي، ترانسپورت او د انساني انکشاف په معاملو کې ډېره فعاله برخه لري. د افغانستان د سارک د غړیتوب په برکت د سویلي اسیا او د منځنۍ اسیا د سیمو ترمنځه د یوه نوي حرکت قوت را پیدا شوی دی.

افغانستان د شنګهای د همکارۍ د انجمن په تماس ډلې کې هم شرکت لري دا په دې انجمن کې هم د یوې مهمې برخې هیله لري. دا هېواد د منځنۍ اسیا د سیمه ییز اقتصادي تعاون غړیتوب لري. دا د منځني او د سویلي اسیا د ترانسپورت او د تجارت د فورم غړی هم دی.د دغو په واسطه افغانستان د زیاتې سیمه ییزې همکارۍ سره اړه لرونکو پروژو او فعالیتونو باندې خپل پام مرکوز وي.

افغانستان لېواله دی، چې د تجارت په اړه ښه موقع منځ ته راوړي، د سیمه ییزو د اورګاډو او د سړکونو په شبکو کې شرکت ومومي د سیمه ییزو د انرژۍ په بازارونو کې د یوه مهم انډیوال حیثیت ولري، د مخدره شیانو تجارت له منځه وباسي او د طلایي عصر د ودې مقصدونه ترلاسه کړي.

سارک په ۱۹۸۵ز کال کې تاسیس شوی و ،چې ورکې بنګله دیش،بوټان، هند، مالدیوز، نېپال، پاکستان او سریلانکا شامل وو.

د ۲۰۰۵ز کال په نوامبر کې د سارک د سترو مشرانو په ډهاکه کې شوې غونډه کې افغانستان هم په دې کې شامل کړی شو. دا ټول کار د هند د لومړي وزیر ډاکټر منموهن سنګهـ په هڅو وشو او د پاکستان په شمول نورو ټولو اوه غړیو ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشنهاد تایید وکړو. ځینې هېوادونه دا فکر لري، چې افغانستان یوازې د منځنۍ اسیا برخه ده.

لیکن یو شمېر هېوادونه افغانستان د سویلي اسیا برخه ګڼي ځکه چې دا هېواد په تاریخي، کلتوري او جغرافیایي ډګرونو کې له سویلي اسیا سره ټېنګې اړیکې لري چین، جاپان، سویلي کوریا ، ایران، امریکا او یورپین یونین ته ددې انجمن د مشاهدینو حیثیت ورکړ شوی دی.

ځیني سیاسي مفکرین دا حس کوي ،چې په تاریخي تجزیه دا ور معلومېږي، چې هند او پاکستان دواړه له افغانستان سره د ملګرتیا مناسبات غواړي ددې علت دادی ،چې افغانستان په منځنۍ اسیا پورې تړلی هېواد دی ،چې هغه سیمه په طبیعي منابعو غني ده حقیقت دادی ،چې د سارک د یوه غړي په توګه افغانستان ته د ودې د پانګې یوه برخه ترلاسه کوي. په ځینو ساحو کې دا فکر چې د امریکا حکومت ددې لپاره د افغانستان د سارک د غړیتوب لېوالتیا درلوده، چې دغه جنګ ځپلي هېواد ته په یوه اداري چوکاټ کې ځای ورکړ شي ،لږ څه خوشي ښکاري.

یوه خبره داده ،چې هند او پاکستان دواړه دا هیله لري ،چې افغانستان به ورته له منځنۍ اسیا څخه د انرژۍ د ترلاسه کولو لپاره د ترانزیت اسانتیاوې ورکړي .بله دا چې د شلو کلونو د جنګ له کبله د تباهۍ په نتیجه کې افغانستان چې له ترهګرۍ سره په مجادله کې کوم رول لوبولی دی، په سویلي اسیا کې د مصالحت او د امن د ور په ځای کولو لپاره ددغه هېواد له ګډون څخه غیر هېڅ امکان نشته.

که د سویلي اسیا مملکتونه د همکارۍ په خپلو هڅو کې بریالي شي، نوښایي چې سارک به د یورپین یونین ( اروپايي ) او د اسیاغونډې انجمنونو په نسبت هم د نفوسو په توګه تر ټولو نه لوی وي او که داسې وي نو په دې سیمه کې به د همکارۍ نوي ورونه پرانزي، کوم چې دا هېوادونه زیات اقتصادي، سیاسي، او پوځي ځواک ته هم ورسوي دا به په دغو هېوادو پورې اړه لري، چې دوی تر کومه حده پورې پرمختګ خوښ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سارک یو خصوصیت دا دی، چې په دې کې په دوه اړخیزه معاملو غور نشي کېدای؛ لیکن په څنګ لاره دد غو په لړ کې خبرې اترې کېدای شي.
په دې انجمن کې جمهوریتونه، ولسي حکومتونه او پاچاهي شامل دي. دد غو هېوادونو نفوس د نړۍ پنځمه برخه کېږي د دنیا نیم نادار خلک په دې سیمه کې اوسېږي ایران او چین دواړه د سارک د غړیتوب لپاره لېوالتیا ښکاره کړې ده. چین او جاپان اوس د شاهدینو په حیث شامل کړی شوي دي.
هند او پاکستان چې د سارک د انجمن لوی غړي دي او د دوی ترمنځه د اوږدې مودې راهیسې اختلافات دوام لري، نو له همدې کبله سیمه ییزه سوداګري همکاري د اروپایي یونین او د اسپان په مقابل کې کمه ده دا خبره د لومړي وزیر ډاکټر منموهن سنګهـ له خوا وکړی شوه. ښایي چې په سارک د افغانستان په ګډون په وچه کې دغه ګران هېواد ته لاس رسېدنه اسانه شي او د تجارت ستونزې به یې لرې شي.
د سارک د سترو مشرانو کالنۍ غونډه د ۲۰۰۷ز کال د اپریل په دریمه نېټه په لوی ډیلي کې پېل شوه. په کومه کې چې د افغانستان ولسمشر ښاغلي حامد کرزي هم ګډون کړی و. د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي سپنتا د اپریل په دویمه دوزیرانو غونډې ته خطاب وکړو او وویل: چې افغانستان به په هېواد کې دننه له خارج څخه پانګې غواړي، دغه هېواد به د سویلي او د منځنۍ اسیا د هېوادونو ترمنځه د تجارت لپاره لاره برابروي او تر ټولو نه مهمه خبره داده، چې افغانستان د سارک له غړیو هېوادونو څخه د ترهګرۍ په ضد په ساحو کې د شمولیت هیله لري.
ډېر خلک اعتراف کوي ،چې سارک به افغانستان ته ګټور ثابت شي او دا به سیمه ییز استحکام کې خپله ونډه ترسره کړي. افغانستان کولای شي، چې د ترهګرو د پاکستان له سیمې څخه د ورننوتلو په اړه د سارک د غړیو هېوادونو څخه مرسته وغواړي.
افغانستان مخکې د اقتصادي همکارۍ د انجمن او د اسلامي هېوادونو د انجمن غړی و. لیکن سارک یوه داسې موسسه ده ،چې د افغانستان له سرحداتو سره نږدې پراته هېوادونه ددې غړیتوب لري. دا هېواد له پاکستان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴۳۰ کیلو متره ګډه سرحدي پوله لري او د چین او ایران غونډې هېوادونه هم د افغانستان په سرحد کې پراته دي، چې د سارک مشاهدین دي.

د نړیوال بانک له خوا سپارښتنه شوې ده ،چې په پېل کې د انرژۍ د تجارت لپاره دوه ځایونه وټاکل شي: « لومړی د هغې سیمې لوېدیځه خوا چې په کې افغانستان ، پاکستان او شمال لوېدیځه خوا ته هند شامل دي دا سیمه به د منځنۍ او لوېدیځې اسیا څخه انرژي اخلي د انرژۍ د تجارت بل ځای د دې سیمې ښي خواته وي، چې په هند ، نېپال، بوټان، بنګله دیش او سریلانکا شامله ده. په دغو کې به د هند انرژي د وارداتو لوی اړخ وي».

په افغانستان کې د طبیعي ګازو سل بیلیون مکعب مترو ته نږدې ذخیرې لري او س مهال دا هېواد اټکلاً شل میلیونه مکعب متره ګاز په کال کې پیدا کوي او دا ټول به د هېواد دننه استهلاک کېږي.

د سارک په اوسنۍ ستره غونډه کې د ترانسپورت ښه سیستم تضمین کړی شوی دی. د اسیاسي ودې د بانک له خوا د ترانسپورت له بېلا بېلو سیستمونو څخه جوړ د یوه بشپړ سیستم په اړه مطالعه مکمله شوې ده. په دې کې به افغانستان هم شامل کړی شي.

د سارک د بېلا بېلو حکومتونو څخه جمله د ترانسپورت په اړه ډله موظفه ده ،چې سیمه ییزې پروژې وپېژني او دا سې لوظنامې تیاري کړي د کومو هدف چې بالاخره سویلي اسیا له منځنۍ سره ونښلوي له لوېدیځې اسیا سره د ترانسپورت په واسطه نښول وي.

هند له مخکې څخه د ډېلارام اود زرنج ترمنځه له دوو سوو کیلو متره څخه زیات اوږد سړک جوړ کړی دی.

د یوه او د بل هېواد د سړکونو د جوړېدو په واسطه به سیمه ییز تجارت پر مخ روان شي.

د سارک دغړیو هېوادو له خوا یوه داسې لوظنامه لاسلیک شوې ده، د کومې تر مخې چې به د تجارت یوه آزاده ساحه منځ ته راوستلی شي او هلته په ټولو شیانو باندې هېڅ ګمرک نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تردي لوظنامې لاندې به تر ۲۰۱۲ز کال پورې ګمرک کم کړی شي، لیکن د افغانستان، نېپال، بوټان او مالدیف غوندې هېوادونو ته به د ګمرک د کم کولو لپاره درې کاله نور وخت ورکړی شي.

ددې معاهدې تر لاندې افغانستان به د منطقې یوه پراخ بازار ته ځان ورسولی شي، چې په کې به د تجارت ترجیحي مواقعې برابري وي.دا وخت د افغانستان زیاته تجارتي انډیوالي له امریکا ، هند او پاکستان سره ده د تجارت لپاره مهم شیان تازه او وچې مېوې، غالۍ، وړۍ، مالوچ، پوست، وریښن پوست او قیمتي او نیمه قیمتي غمي دي.

دا سې ویل کېږي ،چې په نړۍ کې تر ټولو نه زیات اپین ( افیون ) په افغانستان کې تیارېږي، له کومو موادو څخه چې هیروین (Heroin) جوړېږي.اروپا په سلو کې له اتیاوو څخه تر نوي برخو پورې له افغانستان څخه وړل کېږي.

په دې اړه د ملګرو ملتو د مخدره شیانو او د جرایمو په اړه دا هم ویل کېږي ،چې اداري له خوا ویل شوي دي ،چې د طالبانو په وخت کې څومره اپین تیارېدل، د هغه څخه ۳۳ زیات اپین اوس تیارېږي.

په سارک کې د افغانستان له شاملېدو سره به ددغه هېواد حکومت ته د بغاوت په ضد د نورو غړیو هېوادو مرسته ترلاسه شي ځکه چې د مخدره شیانو له تجارت څخه پانګې د ترهګرو عناصرو لاس ته ورځي.

د سارک غړو هېوادو یو لړ لوظنامې لاسلیک کړي دي ،چې د ترهګرۍ، د مخدره شیانو د تجارت، د ښځو او د ماشومانو د راوړلو وړلو له فعالیتونو سره مجادله وکړی شي دوی د ترهګرۍ لپاره د پانګو د مخنیولو او د هغو د چقولو په اړه یو اضافي پروتوکول هم امضا کړی دی.

دا سې دستاویزونه له غړیو هېوادو سره مرسته کوي، چې هغوی یو شان اصولونه خپل کړي، مثبت قوانین جوړ کړي او یو او بل ته معلومات وړاندې کوي .د سارک د یوې قوې د جوړولو پیشنهاد هم تر غور لاندې دی.

لیکن دا د یادوړ خبره ده ،چې سارک تراوسه پورې دومره پرمختګ نه دی کړی څومره چې ورڅخه هیله کېده له بده مرغه د هند او پاکستان ترمنځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختلافات د مخکې په شان موجود دي ،بلکې دا د دهشت ګردۍ له کبله لا هم زيات شوي دي.

بله خبره داده، چې د پاکستان حکومت هند ته لاره نه ورکوي ،چې افغانستان د انساني خواخوږۍ په اساس د مرستې شيان راولېږي. د ډېرو کلونو راهيسې پاکستان، د هند او افغانستان ترمنځه په وچه د تجارت لاره بنده کړې ده او هند اړ دی، چې د مرستې شيان يا خو په هوايي لاره او يا د ايران په لاره افغانستان ته ورسوي.

ليکن دا چې بېلا بېلو هېوادونه يو ځای په کېښناستو د يوه او بل سره خبرې کولو ته چمتو دي، د ډاډ وړ خبره ده ،چې د سارک په واسطه خپل منځنۍ اعتماد زياتېدای شي سيمه ييز اداري منځ ته راوستل کېدای شي، اساسي چوکاټونه تيار کېدای شي او له انکشافي موسسو سره په ګډه کار کېدای شي د اشيان او د اروپايي يونين غونډې اداري له سارک سره د تعاون لېواله ده که په سويلي اسيا کې د خلکو ترمنځ تماسونه او په تجارت کې اسانتياوې زياتې شي نو يو نيم بليون نفوس ګټې ترې اخېستلی شي او ټوله نړۍ ددې نه استفاده کولای شي.

دلرغونو تاريخي زمانو راهيسې افغانستان د سويلي اسيا د سلامتيا لپاره ډېر اهميت لري په نولسمه پېړۍ کې تر بريتانيوي پاليسۍ لاندې د افغانستان حيثيت د هندي نيمې قارې کې د بفرسټېټ يعنې د يوه بې طرفه هېواد په توګه ومنل شو. ليکن کله چې په ۱۹۷۸ز کال د ثور انقلاب راغی او پاچاهي ختمه شوه ،نو يو نوی بحران پېل شو. ددې اغېزه په پاکستان باندې ډېره زياته شوه ،ځکه چې په لوی شمېر کې د بې کوره شوي کسانو بهير په پاکستان پلو روان شو د روسي عسکرود راننوتلو له کبله او د مهاجرينو د حرکت په علت په پاکستان کې ډېر فشار را پيدا شو.

په هماغه وخت کې د امريکا په سترګو کې د پاکستان ستراتيژيک اهميت ډېر زيات شو ،ځکه چې پاکستان د شوروي مداخلې په ضد د آزادۍ لپاره جنګېدونکو افغانانو ته وسلې او نوره مرسته ورکړه .په دې کار کې پاکستان ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا سیاسي، مالي، او عسکري ملاتړ ترلاسه شو. کله چې په دسمبر ۱۹۷۹ز کال کې شوروي سلطه بشپړه شوه نو پاکستان د جنګ د لومړي صف هېواد شو.

ددې په نتیجه کې امریکا له خوا هغه بندیزونه چې د سایي منګتن د ترمیم د خلاف ورزي له کبله لګول شوي وو ژر لرې کړی شول. د افغانانو له خوا په مجادله کې د اسلام مهم رول و، په مجاهدینو کې زیات شمېر د پښتنو و یوې خوا پاکستان له امریکا سره عسکري او ستراتیژیک تړون درلود او له بلې خوا هغه هېواد له جنګېدونکو کسانو سره مذهبي او نږدې اړیکې لرلې.

په دغه علتونو پاکستان د مقاومت په تحریک کې اخته شو د پاکستان د پټ اژانس آی ایس آی له خوا مجاهدینو ته د رقمونو او د وسلو په برابرولو کې مهم رول ولوباوه.

د پاکستان ستر مشر په پنځو کلونو کې د امریکا له حکومت څخه تقریباً دځلور بلیونو ډالرو اقتصادي او عسکري مرسته ترلاسه کړه ،بیا چې کله طالبان منځ ته راغلل، هغوی زیاتره په پاکستان کې د افغانانو پناه ګیرانو اولادونه وو، چې په مدرسو کې یې روزنه او ښوونه وشوه.

اوس په پاکستان کې د هغه هېواد د حکومت او ترهګرو ترمنځه شخړې روانې دي د پاکستان له سیمې څخه ترهګر سویلي او خیتځ افغانستان ته په ورننوتلو امنیت ته خطر رسوي. د امریکا او د ناټو د غړیو هېوادونو عسکر په افغانستان کې موجود دي او د هغوی او د مبارزینو ترمنځه د تېرو شپږو کلونو راهیسې یو نه ختمېدونکی جنګ روان دی.

دا وضعیت یو شان د ټولې سویلي اسیا سیمې دامن او سولې لپاره خطر دی امریکا تر اوسه پورې د افغانستان او پاکستان په سیمو کې د خپلو هدفونو په پوره کولو کې پاتې ده هغه پاکستان ته د راتلونکو پنځو کلونو لپاره هر کال د یو نیم بلیون ډالرو د ورکولو لوظ کړی دی. د پاکستان له خوا له امریکا څخه وسلې هم پېرودلی شي.

ددې کال د مارچ په میاشت کې په ماسکو کې د افغانستان په اړه د شنګهای دهمکارۍ د انجمن یوه ځانګړې غونډه وشوه، چې په کې د دغه انجمن شپږ واړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غـړي حاضـر وو. د څلـورو مشـاهدو هېوادونو نماينـده ګـان چـې لـه هنـد ، ايـران، پاکستان او منګوليا څخه جمله وو ،هم په دې غونډه کې ګډون وکړ. پـه دې کـې د هنـد اسـتازي غوښـتنه وکـړه، چـې بايـد افغانسـتان تـه د شـنګهای د همکـارۍ د انجمن غړيتوب ورکړی شي ،هغه وويـل:چـې د سـارک او د شـنګهای د همکـارۍ د انجمـن د غړيتـوب پـه وسـيله بـه افغانسـتان د دې منطقـې لـه هېوادونـو سـره خپلـې اړيکې بيا ن کړي او د قدرت خاوند به شي.

هندي استازي وويل، چې افغانسـتان بـه ۲۰۰۷ز کـال کـې پـه سـارک کـې شـامل شوی و ، ليکن تر اوسه پورې د غه هېـواد د شـنګهای د همکـارۍ د انجمـن نـه غـړی دی او نه مشاهد.

څلـور ورځـې وروسـته د مـارچ پـه يـو د پرشـمه نېټـه د افغانسـتان پـه اړه د ملګـرو ملتونو له خوا هند کې هم يوه غونډه شوې وه.

اوس بـه هنـد پـه راتلـونکې مياشـت يعنـې پـه اګسـت کـې د افغانسـتان پـه انتخاباتو کې ورسره مرسته وکړي.دافغانستان د مامورينو يوې ډلې په نوي ديلي کې د هند له انتخاباتي کميسيون سره ليدنې کتنې کړي دي.

د سويلي اسيا د هېوادو د يوه او بل سره د اړيکو د لا هم ټينګولو په غرض هند د ملګرو ملتو د تعليمي، ساينسي او کلتوري موسسې يونسکو ته پيشـنهاد کـړی دی ،چې په ډيلي کې دې د سولې، ودې او د جګړو د حل کولو د مطالعـاتو لپـاره د علي درجې يو پوهنتون جوړ کړی شي. دا به د امن او د سـولې پوهنتـون وي، چـې د ټولې سويلي اسيا عالمانو او پلټونکو ته د استفادې وړ وي.

په دې زمان کې په سويلي اسيا کې د کرارۍ او امـن ضـرورت دی. د پاکسـتان او افغانسـتان ترمنځـه او د دغـو هېـوادو دننـه د ترهګرۍ د فعـاليتونو د مخـې نيولـو حاجت دی. په هند کې په يو څو ځايونو کې اخ و ډب په ليدو کې راځي.

په نيپال، سريلانکا او بنګله ديش کې تشدد او ځاني تلفات شوي دي تـر ټولـو نه اول امن او سوله په کار ده، د ميليونو خلکو د ژوند د معيار د اوچتولو مسـاله د هر چا پام غواړي بايد د ودې او انکشاف په لاره کې د ستونزو د لـرې کولـو لپـاره د ټولـو هېوادونـو سياسـتمداران او مفکـرين پـه ګـډه بـډې ووهـي او د خپـل منځـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفاهم لپاره کار وکړي .باید په افغانستان کې بله میاشت کېدونکي انتخابات د زړه ور افغان ملت د پوهې او یوالي مثال وګرځي.

**۲-۵-۱۵- دهنداوافغانستان ترمنځ اوسني مناسبات :**

د هند او افغانستان ترمنځه دوستانه اړیکې د پخوانیو زمانو راهیسې را رواني دي. ددې عنعنې د دوام په لړ کې ددغه کال یعنې د ۲۰۱۱ز کال په اکتوبر میاشت کې د هند لومړی وزیر ډاکټر منموهن سنګهـ او د افغانستان د ولس مشر ښاغلي حامد کرزي ترمنځه په نوي ډیلي کې یوه لوظنامه لاسلیک شوې ده. دا لوظنامه د دواړو هېوادونو په منځ کې د ستراتیژیک اندیوالۍ په اړه لومړی هڅه ده.

له نورو مهمو خبرو څخه پرته به هند د جنګ ځپلي افغانستان د حفاظتي قواوو د تربیې، دمجهز کولو او د هغوی د ظرفیت او صلاحیت په زیاتونو کې مرسته وکړي. ددواړو هېوادونو ترمنځه دا لوظنامه هم وشوه، چې هند به په افغانستان کې د نفتو او د معدني موادو په انکشاف کې هم ورسره همکاري وکړي.

ډاکټر منموهن سنګهـ وویل: چې هند او افغانستان دواړه دې ته موقف دي، چې په هر صورت او بڼه کې له ترهګرۍ سره مجادله وکړي شي. د افغانستان ولس ډېر کړاونه او مصیبتونه زغملي دي او باید هغوی بې له بهرني مداخلت، جبر او تهدید څخه خپل سرنوشت ټاکلو ته پریښودی شي. په تېرو وختونو کې هند د افغانستان د ملي قواو یو شو منصبداران روزلي دي. لیکن هند هېڅکله د افغانستان په حفاظتي عملیاتو کې برخه نه ده اخېستې.

هند به د افغانستان له خوا د تجارت لپاره د مواد ولپاره په لټولو کې مرسته وکړي دغه هېواد به په افغانستان کې د هایډرو کاربن او د معدنیاتو په لټولو کې هم کومک کوي، ددغې لوظنامې متن په څلورو ژبو اجرا شوی دی او دا ژبې هندي، پښتو ، دري او انګلیسي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړو خواوو دا لوظ کړی دی، چې د تجارت او د پانګې لګولو لپاره به یو داسې چاپېریال منځ ته راولي، چې د محصولونو د تهیه کولو په اړه د کار طریقه اسانه شي.

د تجارت د شیانو د الوتکو په واسطه د وړلو راوړلو عمل به پیل شي او په پور د مال د برابرولو او د بیمې اسانتیاوې هم په ځای کړی شي.

ډاکټر منموهن سنګهه او ښاغلي حامد کرزي دا خبره سپینه کړه، چې دغه تړون به د هیڅ یوه هېواد او د هېواد کومې ډلې په ضد نه وي.

د ستراتیژیک اندیوالۍ تړون به یو داسې بنیادي چوکاټ منځ ته راوړي، چې په سیاسي او حفاظتي ډګرونو کې همکاري تضمین شي، اقتصادي همکاري به لاهم تقویه شي د پوهنې، اقتصاد، ټولنې، کلتور او د ظرفیت په زیاتولو کې به د خلکو په سویه هم تعاون زیات شي.

د هند له خوا دوه زره او څلور سوه افغانانو متعلمینو ته سکالرشیپونه ورکړل شوي دي. یو شمېر زیات افغانان زده کوونکي به اوس د انجینرانو، ډاکټرانو او ښوونکو په حیث سندونه ترلاسه کوي. د ښاغلي کرزي په وینا دا حقیقي ستراتیژیک اندیوالي ده، نه چې د حفاظتي قواو د تربیې او د مجهز کولو په اړه لوظنامه تر ټولو نه مهمه خبره داده، چې هند له افغانستان سره دوو بلیونو ډالرو مرسته کړې ده، چې د بېلا بېلو بنیادي کارونو لپاره به مصرف شي.

دا د حیرانۍ خبره ده، چې د هند او د افغانستان ترمنځه اندیوالۍ پاکستان اندیښمن کړی دی. یوه پاکستاني منصبدار څرګند کړي دي، چې هند خپلو افغان دوستانو ته رقمونه ورکوي او همداسې کار د روسیې او د ایران له خوا هم کېږي.

د خبرونو تر مخې هند د یوه پلان په جوړولو کې بوخت دی، چې په ایران کې د چابهار د بندرګاه او اوږد د اورګاډو یو لاین جوړ کړي. د چابهار بندر د هندي مرستې تر تعمیر لاندې دی دا ځای د پاکستان له ګوادر بندرګاه څخه یوازې ۷۲کیلومتره لرې دی، چې د چین په کومک لګیا دی جوړېږي. کله چې دا پروژه پای ته ورسېږي نو هند او افغانستان به په ستراتیژیکي ډول یو او بل سره ترلاسه کړي او د هغه انحصار به پر پاکستان کم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هندي شرکتونه به په افغانستان کې معدنيات وسپړلی شي، چې ارزښت يې د يوه زر او د درې زرو بليون ډالرو په منځ کې ددې اندازه ده له دې نه هند او افغانستان دواړو ته به ګټه ورسېږي، کله چې د سړک او د اورګاډو او د بندر پروژه مکمله شي نو د هند او افغانستان ترمنځه همکاري منځنۍ اسيا ته د غزيدو امکان هم دی. حاجي ګک چې د باميانو په ايالت کې له کابل څخه ۱۳۰ کيلو متره لرې پروت دی، په افغانستان کې تر ټولو نه زيات د اوسپنې د لرونکو موادو ذخيرې لري ددغو د سپړلو لپاره څوارلس هندي شرکتونه صلاحيت لري، په کومو کې چې د هند ستيل اتهارټي لمېټډ هم شامل دی.

دوه سوه او پنځلس کيلو متره اوږد د ډيلارام او زرنج سړک له مخکې څخه افغانستان ته سپارل شوی دی، چې په جنګ ځپلي هېواد کې د هند د انکشافي کارولو يو با ارزښته سمبول دی. په دې موقع هندي وزير ښاغلي پرنب مکرجي ويلي وو، چې هېڅوک نه شي کولای چې زمونږ دواړو هېوادو په همکارۍ کې کوم خنډ واچوي په همدغه موقع ښاغلي حامد کرزي ويلي وو، چې د ۲۰۰ کروړو روپو په مصرف مکمله شوې پروژه دهغو خلکو دپاره پيغام دی، چې د هند او افغانستان ترمنځه د همکارۍ بندول غواړي. ښاغلي کرزي وويل: چې زموږ تعاون به بيخې قطع نه شي.

طالبان ددې پروژې پر ضد وو او هغوی په تعميري کارګرانو ډېر بريدونه کړي دي. شپږ هنديان او ۱۲۹ افغانان په هغو بريدو کې په حق رسيدلي وو.

د ښاغلي مکرجي په وينا د هند له خوا په افغانستان دننه په ښارونو کې ۵۸ کيلو متره نور سړکونه هم جوړ کړی شوي دي. اوس هند کولای شي، چې افغانستان ته د ايران په لاره مال او سامان ورسوي. ددې اهميت دا دی، چې پاکستان افغانستان ته له هند څخه مال رسولو لپاره اجازه نه ورکوله ښاغلي مکرجي وويل چې د ډيلارام زرنج سړک په جوړولو کې کومو کسانو د شهادت جام وڅښلو، د هغوی د ځانونو قربانۍ بېځايه نه دي تللي د هغو قربانيو په واسطه د هند او افغانستان ترمنځه د دوستۍ بنسټ لا هم ټينګ شوی دی او دا به په راتلونکي کې زموږ د پارلمان ترمنځ د تعاون لپاره يو الهام وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هند له خوا په کابل کې د افغانستان د ماڼۍ د جوړولو کار روان دی او ډېر ژر به تکمیل ته ورسېږي. په هرات کې د سلمه د بند د برېښنا پروژه هم د هند له خوا جوړېږي. هند د افغانستان د پولیسو مامورینو، دیپلوماتو او غیر نظامي کسانو ته هم ښوونه او روزنه ورکړېده. د هند له خوا د صحت، پوهنې، رسنۍ، وسایل، برېښنا او د تیلي مخابراتو په ډګرونو کې یې هم له افغانانو سره مرسته کړې ده. د هند او افغانستان ترمنځه تجارت ورځ تر بلې زیاتېږي. په دې کې شک نشته، چې پاکستان د افغانستان په استهلاکي بازارونو کې له هند سره د سیالۍ لپاره لېواله دی هغه هېواد د هند له خوا د ایران د بندرګاه چابهار استعمال ته هم د ناخوښۍ په احساس ګوري. هغه د چابهار او د خپل بندرګاه ګوادر ترمنځه د رقابت نظریه هم لري، چې د چین په مرسته جوړ شوی دی.

دهند او افغانستان ترمنځه تجارت ورځ تر بلې زیاتیږي. په دې کې شک نشته چې پاکستان دافغانستان په استهلاکي بازارنوکې له هند سره د سیالۍ لپاره لېواله دی. هغه هېواد دهند له خوا دایران دبندرګاه چابهار استعمال ته دناخوښۍ په احساس ګوري. هغه دچابهار او دخپل بندرګاه ګواد چین په مرسته جوړشوی دی.

لیکن هند له دې نظریې سره اتفاق نه لري ځکه چې د هند مقصد یوازې د افغانستان ښېګڼه او خوشحالي ده او دا هم چې اوس له دې هېواد څخه دوست هېواد افغانستان ته د مال د لېږلو کار مقابلتاً اسان شوی دی.

په کابل کې د هند په سفارت خانې باندې دوه زبردستې حملې شوې دي، د کومو لپاره طالباني دهشت ګران او آی ایس ای مسؤل ګرځېدلي دي او هند چې له ډېرې لیوالتیا سره له افغانستان سره اقتصادي او کلتوري مرسته کوي د هغې له مخې نیولو لپاره یې دغه ناوړه کار کړی و. لیکن له یوې خوا هندي کارګران د ترهګرانو فعالیتونه په ځان زغملي او له بلې خوا د هند حکومت او خلک له افغانستان سره له زیات څخه زیات خپلو مناسباتو د ټینګولو لېواله دي او غواړي، چې افغانستان زر تر زره په اقتصادي ډول په ځان ویسا شي او په نړۍ کې یې د مځکې په شان د یوه آزاد، خپلواک او خوشحال هېواد په توګه ژوند وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي حامد کرزي د هند او افغانستان په اقتصادي او فرهنګي اړيکو په اړه د پاکستان اعتراضونه رد کړي دي او ويلي يې دي ،چې افغانستان به له هند سره خپل دوستانه روابط ټينګ ساتي او څوک حق نه لري ،چې د افغانستان په کارونو کې لاس ووهي. ځکه چې افغانستان يو ټولواک هېواد دی او خپل مفاد يې په ښه شان سره پېژني. د ښاغلي کرزي په وينا افغانستان به له هند سره ددې لپاره خپل مناسبات ټينګ ساتي ،چې دا خبره د افغانستان په ګټه ده هند په هر کال کې د يوه زرو نه زياتو متعلمينو ته سکالرشيپونه ورکوي، چې پنځه سوه د ليسانس لرونکو لپاره او پنځه سوه د مسلکي روزنې لپاره دي .په تېرو کلونو کې په زرګونه متعلمين عالمان ګرځېدلي دي او بېرته افغانستان ته په راتلو د ژوند په بېلا بېلو ساحو کې يې ګټور خدمتونه کړي دي.

د اقتصاد ياتو متخصصين وايي ،چې ددې خبرې په برکت چې هند او افغانستان طبيعي ملګري دي، د افغانستان د مصنوعاتو لپاره هند يو ډېر لوی او پراخ بازار دی او دا د افغانستان اقتصادي وده تضمينوي او هند به تل د افغانانو ورونو لپاره به د تخنيکي پوهې او د ټکنالوژي کې يوه لويه وسيله ثابتېږي. تل دې وي د هند او افغانستان ملګرتيا او وروروِلي.

## ۲-۵-۱۲- دهنداوافغانستان مناسبات په يوويشمه پېړۍ کې:

هند او افغانستان له پېړيو پېړيو راهيسې سره ډېر نږدې او خواږه مناسبات لري. دوی په تاريخي ډګر کې د يوه او بل سره ډېر نږديوالی درلود ، په کلتوري او اقتصادي برخو کې يې هم سره ډېره همکاري کړې ده.

ليکن په موجوده عصر کې دغه دواړه هېوادونه له هغو ستونزو سره مخامخ شول، چې په طبيعي او عملي ډول هم دوی ګډه لاره اختيار کړې ده ،چې له ترهګرۍ سره مجادله وکړي له بده مرغه په ۱۹۹۹ز کال کې کله چې د انډين ايرلاينز يوه غير پوځي الوتکه د پاکستان ترهګرانو له خوا د تښتولو په نيت، په قندهار کې کوزه کړی شوې وه، نو هغه وخت د طالبانو د حکومت له امله ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشکلات منځ ته راغلي وو ، لیکن په ۲۰۰۱ ز کال کې کله چې د طالبانو رژیم له منځه لاړو نو د هند او افغانستان ترمنځه د مناسباتو یو تازه او مستریح باد وچلېده او دا وضعیت لا تر اوسه پورې دوام لري د طالبانو د حکومت له منځه تللو څخه پس هند د افغانستان له جمهوري حکومت سره دیپلوماتیکي مناسبات په ځای کړل.

هند د افغانستان د بیاودانۍ په هڅو کې په فعاله توګه شریک شو د هند له خوا د زرنج او ډېلارام ترمنځه یو اوږد سړک جوړ کړی شو ، چې د ۲۰۰۹ز کال په جنوري کې د هند د معاصر خارجه وزیر ښاغلي پرنب مکرجي له لاسه پرانېستل شو.

دا سړک د ایران له سرحد سره افغانستان ته ډېر نږدې دی، ځکه چې پاکستان د هند له خوا د دوست هېواد ته د انساني مرستې د سامان د لېږدلو اجازه نه ورکوي نو دا سړک به زمونږ دواړو هېوادونو ترمنځه د تجارت په ډګر کې تر ډېره حده پورې ګټه ور ثابتېږي.

د هند له خوا په کابل کې د افغانستان د پارلمان د نوې ودانۍ د جوړولو کار په ګړندی توګه روان دی، چې په روان کال کې د دې تکمیل ته د رسېدو لوی امکان دی. دا به د دواړو هېوادونو ترمنځه د دیموکراسۍ په مقدسي لارې د چلېدو یوه نښه وي، چې دواړه هېوادونه پرې اعتقاد لري. هند لګیا دی، چې په هرات کې د سلمه د بند یوه پرژوه جوړه کړي.

د هند له خوا د افغاني ورونو او خویندو د اسانتیاو او د مرستې لپاره په جلال آباد ، قندهار، هرات او مزارشریف کې قونسلګرۍ پرانېستل شوې ،چې پاکستان پرې بېځایه ډول اعتراض کوي.

دا عجیبه ښکاري، چې زمونږ دواړو هېوادونو ګډه ګاونډي هېواد پاکستان زمونږ ملګرتوب او نږدوالی په صمیمي توګه نه زغمي لیکن زمونږ دواړو هېوادونو رهبران د خپلې دوستۍ او د همکارۍ د اړیکو د لا ټېنګولو کار کوي.

له بده مرغه پاکستان لګیا دی، چې افغان طالبانو او پاکستاني طالبانو ته د تروریزم د فعالیتونو لپاره تقویه ورکوي، له دې سره سره د پاکستان عسکرو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

استخباراتو د موسسې آی ایس آی له خوا د القاعده، لشکر طیبه او جیش محمد غوندې ترهګرو موسسو ته هر ډول مرسته او ډاډګېرنه ورکول کېږي. څو ورځې مخکې د پاکستان ابېټ آباد یوه مهم ښار کې د امریکایي جانبازو له خوا د القاعده د ستر مشر اسامه بن لادن وژنه ددې خبرې ثبوت دی، چې پاکستاني مقامات د تروریستي او له تخریب موسسو سره مرسته او پرې نګهباني کوي.

د ۲۰۰۸ز کال جولای کې په کابل کې د هند په سفارت باندې فدایانو یوه قاتلانه برید وکړو، چې په کې د دوو هندي لویو مامورینو په شمول دوه څلوېښت تنه مړه شول او یو نیم سل نور ټپیان شول د افغانستان ستر مشر اعتراف وکړو، چې ددې برید تر شاه د پاکستان د ای ایس آی لاس دی که څه هم پاکستاني مقاماتو د خپل هېواد د استخباراتي ادارې له شمولیت څخه انکار وکړ، لیکن حقیقت هر غیر جانبدار سړي ته څرګند دی. همدا شان په هندیانو باندې دوه نورې حملې وشوې، چې په هغو کې ډېر زیان وشو او افغاني مشرانو له هند سره خواخوږي څرګنده کړه.

پاکستان د هند او افغانستان ترمنځه د خپلوۍ له زیاتېدو څخه ډېر خپه ښکاري پاکستاني مامورینو په شدت سره امریکا او د افغانستان د ملي مشر ښاغلي کرزي ته ویلي دي، چې اسلام اباد دا حس کوي، چې په افغانستان کې د هند شتون به د پاکستان لپاره تهدید وي.

افغانستان او امریکا دواړو د پاکستان دغه دریځ مسترد کړی دی. د طالبانو د رژیم په پای کې د افغانستان په انکشاف کې د هند له خوا کوم رول لوبول شوی دی، ښاغلي کرزي د هغه ستاینه کړې ده او ویلي یې دي، چې هند د افغانستان د ودې لپاره ۱۰۳بلین امریکایي ډالر کوم رقم چې خرځ کړي دي هغه د بېلا بېلو مهمو پروژو لپاره دي. له دغو پروژو څخه پرته هند هر کال افغان متعلمینو ته یو زر سیکالرشیپونه ورکوي. ۵- سکالرشیپونه له لیسانسه څخه باندې د لوړو مطالعاتو لپاره دي او ۵۰۰ مسلکي تربیتي لپاره دي. په دې لحاظ په تېرو یو څو کالو کې د زرګونو په شمېره کې افغان ځلمیان وطن ته په راستنیدو په بېلا بېلو ډګرونو کې په خدمتونو لګیا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان اوس د سارک اتم غړی دی، دا غړیتوب د هند په پېل او کوښښونو په نتیجه کې ورکړل شوي دي. د سارک د آیین له مخې د دې موسسې په غونډو کې دوه اړخیزې مسالې پورته نشي کېدای. که دا نه وای نو افغانستان په خامخا د پاکستان د لاسوهنې معامله به یې د سارک په غونډو کې وړاندې کړآوای. د تروریزم مساله تر ټولو نه مهمه ده او دا بین المللي پام غواړي.

د پاکستان له سیمو څخه تخریب کاران او شرر انګیز عناصر په افغانستان او هند کې د تشدد کارونه کوي. د دې برعکس هند د افغان ملکي مامورینو، دیپلوماتانو او د پولیسو غړیو ته تربیه ورکوي، چې افغانستان په خپل ځان ویسا شي.

هند په افغانستان کې د بریښنا، د نفتو او طبیعي ګازو په انکشاف کې هم مرسته کوي.

د هند او افغانستان ترمنځه د کلیوالي پرمختګ معارف او د دواړو هېوادونو د معیارو د ټاکلو د ادارو قراردادونه لاسلیک کړای شوي دي.

د دواړو هېوادونو د دوه اړخیز کاروبار ته د ودې د ورکولو په اړه هم یوه لوظنامه لاسلیک کړی شوې ده.

په دغه زمان کې د څلور زرو نه زیات هندي کارګران او د سلامیتا غړي په افغانستان کې د راحت او د بیا ودانۍ په بېلا بېلو پروژو کې په کارونو کې بوخت دي. هند د ایران د چابهار د بندرګاه په پروژه کې د پانګې لګولو په اړه دا فکر لري، چې دا هېواد به د خپل ملګري هېواد افغانستان ته د شیانو د صادراتو په معامله کې اسانتیا حاصله کړي دا ځکه، چې پاکستان هند نه پرېږدي، چې خپل حاصلات او د مرستې شیان افغانستان ته صادر کړي.

په نړۍ کې ډېرو منورینو او مفکرینو دا فکر څرګند کړی دی، چې پاکستان، په افغانستان کې د ستراتیژیکي ژوروالي د حاصلولو لېواله دی، چې هغه هېواد د هند په ضد عسکري ګټه ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینو امریکایي منورینو د پاکستان ددې لېوالتیا په صریحو ویناګانو کې تایید کړی دی، ځکه چې پاکستان د افغانستان خاوره د خپلو تنګو آرزوګانو د پوره کولو لپاره استعمال کول غواړي او نښه یې یوازې هند دی.

امریکایي قواوو د پاکستان د مشهور ښار ابېټ آباد کې د ترهګرانو لوی مشر اسامه بن لادن وژلی دی، کېدای شي ،چې پاکستاني استخباراتي اداره ای ،ایس، ای، وسله داري قواوې او نورې مشتددې ادارې د افغانستان له مقاماتو سره د دښمنۍ دریځ اختیار کړي ،ځکه چې امریکایي هیلیکوپټرې په جلال آباد کې کوزې او له کوم ځای څخه چې هغو ابېټ آباد ته پرواز کړی و.

اوس ددې تخمین لګول ډېر مشکل دي، چې ایا د امریکا حکومت او ناټو به د جولای په میاشت کې خپلې قواوې د افغانستان خاورې ته بیا ور وغواړي که دغو قواو د افغانستان له خاورې څخه په وتلو پېل وکړ، نو په هند باندې به له افغانستان سره د مرستې مسولیت یا وظیفه پریوځي .لیکن هند به دا بیخي غوره ونه ګڼي، چې په دغه مهمه سیمه کې به په نظامي توګه خپل ځان اخته کړي.

هند غواړي ،چې له افغانستان سره سره پاکستان هم پرمختګ وکړي او د خپلو خلکو د ناداری او داقتصادي مشکلاتو د کلونو یاد لرې کولو لپاره بډې ووهي .لیکن ددې لپاره ضروري ده، چې پاکستاني عسکري قواوې په دې سیمه کې امن او سولې ته ضررونه رسوي، چې تشدد مخه ونیسي او د خپلو ګاونډیانو ته د سولې په اساس خپل کار کولو ته پرېږدي او د بې ګناه خلکو د وینو له تویولو څخه لاس واخلي حقیقي امن به په هغه صورت کې ممکن وي.

## ۲-۵-۱۷- په هندکې دافغانانوتاریخي آثار:

په هند کې د افغانانو تاریخي آثار د هند د کلتوري میراث یوه با ارزښته او شتمنه برخه ده. په ډیلي کې مشهور قطب مینار د پاچا قطب الدین له خوا جوړ کړی شوی و. له ده څخه مخکې محمد غوري د ډیلي په مهرولي کې قوة الاسلام نومي جومات ودان کړی و. دا دواړه قیمتي آثار نن هم د نړیوالو خلکو لپاره زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رابښکونکي دي. د سلطان شمس الدين الشمش په وفات هغه په قوة الاسلام جومات کې ښخ کړی شو. دده په حکومتي دوره کې د حوض خاص، حوض شمسي او د نورو ځايونو ګرد چاپېره لوی لوی باغونه او تفريح ځايونه جوړ کړی شول. کله چې له سلطان ناصر الدين څخه وروسته غياث الدين بلبن پر تخت کېښناست، هغه د بستي نظام الدين تر څنګه په کلا کې يو سور محل جوړ کړ، چې خلکو به دا ځای د غياث پور په نامه يادا وه.

د غلجايي کورنۍ پاچا سلطان علاوالدين غلجي د سيري په نامه يو لوی ښار ودان کړ، چې ددغه ښار د ورانو او نړېدلو کنډرونو آثار اوس هم ليدل کېږي. له هغه سره نږدې اوس د کلتوري پروګرامونو لپاره يو لوی تالار جوړ کړ، چې سيري يې د پام وړ او لافاني ګرځولی دي.

دغه پاچا د مسجد قوة الاسلام علايي دروازه هم جوړه کړه. دده د جومات په لمر پربواته خوا کې خپل محل هم ودان کړ. حوض خاص ددغه پاچا تاريخي يادګار دی، چې اوس يې د تورستانو لپاره د يوه ډېر په زړه پورې ځای په حيث وده موندلې ده او هلته ډېر پر مختګونه کېږي.

د جهان پناه په نامه ښار پاچا محمد تخلق ودان کړی و او چراغ ډيلي، مسجد بېګم پور او نورې ودانۍ هم د هغه ډيلي تاريخي يادګارونه دي.

د فيروز شاه تخلق له خوا د فيروز آباد په نامه يو ښار ودان کړی شو، چې په تاريخ کې پنځم ډيلي ګڼل کېږي. دا ښار د زاړه ډيلي له باړه هندو راو څخه تر نوي ډيلي پورې غزيدلی دی.د باړه هندو راو په قدم شريف کې د فيروز شاه تخلق د زوی شهزاده فتح خان مقبره هم پرته ده.

د افغانانو له خوا ودان شوي ښارونه او د هغو آثار زموږ د واړو هېوادونو نږدې مناسباتو عکاسي کوي. د قطب مينار په لومړي منزل د قران کريم آيتونه کښل شوي دي.سلطان بهلول لودي دا مينار ترميم کړه ددې په هر منزل ډول ډول نقشونه جوړ کړی شوي دي.

له مهرولي سره نږدې د سلطان ناصر الدين محمود بن شمس الدين الشمش قبر دی. د سلطان غياث الدين شانداره مقبره چې اوس ويرانه شوې ده، له مهرولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره نږدې ده.د زمرد پور په کلي کې چې اوس د نوي ډيلي برخه ګرځېدلې ده. له ډېرو او چونې څخه جوړ پنځه برجونه دي. دا د غوري پښتنو د عصر دي او په دغو برجونو کې ډېر قبرونه هم شته.

دزمرد پور په څنګ کې د لنګر خان پښتون مقبره ده او دا هم د غوري پښتنو يادګار دی.له تخلق کلا څخه نږدې هزارستون نومې ودانۍ پرته ده، چې سلطان محمد تخلق جوړه کړې وه .د شاعر بدر چهاچهي په وينا دا يو ډېر ښکلي او نفيس عمارت و.

د حضرت نظام الدين اوليا مقبره سلطان محمد تخلق ودانه کړې وه، چې په افغاني طرز جوړه شوې ده.

د شيخ نصير الدين محمود روشن چراغ دهلوي په زيارت باندې د سلطان فيروز شاه تخلق ډېره عقيده وه. ده د دغه يادګار ګنبد هم ودان کړ.د ډيلي د پير روشن له زيارت سره نږدې ست پلی نومې يو ځای دی، چې په اصل کې د فيروز شاه تخلق د ښکار ځای و.

ست پلي ته نږدې له کړکۍ جومات دی. په پخوانيو ختونو کې دلته د کړکۍ په نامه يو کلی و، چې نن هم موجود دی. په دې اساس دغه جومات د دغه کلي په نوم مشهور شوی دی دريو اړخونو ته يې درې دروازې دي، په دې جومات کې په نهو ځايونو نهه برجونه جوړ شوي دي او د هر برج لاندې څلور څلور ستنې لګول شوي دي. په دې جومات کې نورې ډېرې ستنې هم شته. په ۱۸۵۷ز کال کې د انګليسي امپراتوريانو په ضد د هند د آزادۍ په لومړي جنګ کې ډېر خلک په دې جومات کې راټول شوي وو. تر ډېرو ختونو پورې دلته خلکو به اورونه بلول او پخلي به يې په کې کول.

دفيروز آباد په ښارکې فيروز شاه د مسافرو د هستوګنې لپاره يو سل وشل سرايونه ودان کړي وو ،دغه پاچا ۲۹ کاله پاچاهي وکړه دادې ښار جامي جومات او دهغه مينار ډېر شهرت درلود.

فيروز شاه تخلق د اشوکا مينار له کوم ځای څخه راوړو او د فيروز آباد په کلا کې يې ښخ کړو او د مينار زرين نوم يې ورباندې کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په باړه هندو راو کې د شهزاده فتح خان په قبر باندې یوه ډبره پرته ده، چې ورباندې د رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) د مبارک قدم نخښه ده.
دا ډبره د بغداد د خلیفې له خوا سلطان فیروز شاه ته د سوغات په توګه لېږل شوې وه په دې زیارت کې د هند د قومي شاعر حضرت شیخ محمد ابراهیم ذوق زیارت هم دی.
د فیروز شاه وزیر فیروز خان جهان د ترکمان دروازې او د سیتارام بازار په منځ کې یو عظیم الشان جومات جوړ کړی دی. د دې ښکلي جومات په اړه نظر دی، چې د زلزلې او برق او تالندي غوندې افات هم دې ودانۍ ته زیان نه شي رسولی د وزیر خان جهان له خوا ډېر نور جوماتونه لکه: څنګه چې د کالو سرای مسجد بېګم پور مسجد، د چوبرجي مسجد او نور هم ودان کړی شوي دي.
د لودي پښتنو آثار او هم په ښه صورت کې موجود دي، د سلطان سکندر لودي مقبره ډېره شانداره ده. د دې مقبرې تر څنګه د لودي کهول نور نامتو اشخاص هم ښخ دي.
دا ځای د نوي ډیلي د لودي باغ په حیث یادېږي او ډېر خلک هلته د ورځني سیل لپاره ځي. د شېر شاه سوري د مغل پاچا همایون له خوا شروع کړی شوه کلا سرته ورسېده دې کلا ته خلک زړه کلا وایي د دې کلا فصیلونه سلیم شاه سوري په چونه پاخه جوړ کړل په دې کلا کې شېر شاه سوري بې ساري ودانۍ جوړې کړې.
وروسته له دې د کلا په صحن کې یوه ځاه وکېندلی شوه له زړې کلا څخه یو میل لرې، د عیسی خان سوري کلی دی، چې هلته د عیسي خان سوري زیارت او جوماتونه دی.
د شېر شاه سوري د پنځو کلونو په حکومت کې دده د پاخه او باشعوره تدبیر او عدالت په برکت داسې کارونه سرته ورسول شول، چې په تاریخ کې یې مثال نه موندل کېږي. دده سیاسي شعور او اداري صلاحیت بې ساری دی.
شېر شاه سوري د اسیا له ډېرو پوهو پاچاهانو څخه ګڼل کېږي. دده د پښتونوالۍ خویونه او د انسانیت لوړ خصلتونه د ډېرې ستاینې وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شېر شاه د عدالت او انتظام نښې نښانې لا تر اوسه په دې خاوره کې موندل کېږي .هغه يو ډېر عادل، مدبر او منتظم پاچا و. هغه د بزګرانو د حالت ښه کولو ته ډېره توجه لرله هغه نهايت متين او منصف پاچا و ، شېر شاه له بنګاله تر اباسيند پورې لوی سړک وويست د سړک په غاړو يې هر ځای مسافرخانې جوړې کړې د پوستې او ډاک انتظام يې برابر کړو باغونه، شفاخانې او مکتوبونه يې جوړ کړل.

د شېر شاه سوري تر وفات وروسته هغه د بهار د ايالت په ساسرام کې دده د پلار قبر ته نږدې خاورو ته وسپارل شو او هلته يو ه ښکلې مقبره جوړه کړای شوه.

دده د قبر ګنبدې يو ډول مخصوص عظمت لري دده د مرګ وروسته دده کشر زوی جلال خان پر تخت کېښناست او د سليم شاه لقب يې غوره کړ. هغه اته کاله حکومت وکړو د ډيلي سليم ګړه کلا دده له يادګارونو څخه ده. له مړينې وروسته هغه هم په ساسرام کې ښخ کړای شو.

په هند کې د افغانانو له خوا جوړ کړی شوي ډېر زيات جوماتونه، کلاګانې، زيارتونه، مقبرې، باغونه، سړکونه، څاه ګانې او سرايونه موجود دي.

داد هند فرهنګ اوکلتور ته د افغانانو پايدار سوغاتونه او يادګارونه دي په هره يوه مانۍ د افغانانو د فن او هنر چاپ پروت دی.هغو د ګډ ميراث په بڼه ای کولو کې شتمنه برخه اچولې ده. په تاريخي ډول دا دوه قومونه له يوه او بل سره ډېر نږدې شوي دي.

له دې څخه په واضح ډول معلومېږي، چې د دومره نږدو اړيکو او روابطو په برکت د هنديانو او افغانانو ترمنځه ډېره راکړه ورکړه وشوه او د يوه او بل په ثقافت او ژوند انه باندې ژورې اغېزې وشوې.

هنديان او افغانان ډېر انسان دوست او سوله خوښوونکي خلک دي. دوی د چا په کارونو کې لاس نه وهي او په خپلو چارو کې د چا مداخلت نه مني له دې کبله دا دواړه ملتونه له يوه او بل سره دومره نږدې دي، چې د هند حکومت او خلک په دې هېواد کې د افغانانو د آثارو په دقت سره ساتنه کوي د دواړو ملتونو ترمنځه به د ملګرتيا احساسات تل ژوندي وي.(۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادښاغلي بتره هغه ليکنې وې ،چې چاپ شوي نه وې اوما په دې څپرکي کې ذکر کړې.لکه څرنګه چې دالیکنې سیاسي، کلتوري،تاريخي اوادبي وي ،نوله دې لیکنوڅخه دا سې ښکاري، چې دا شخص په هره برخه کې پوره معلومات لري اوپوازینی خبره چې په کې جوته شوه دا ده ،چې دا ليکوال له افغانستان پښتو او پښتوژبې سره ډېره مينه لري او هره ليکنه يې دافغانستان پښتنو په اړه ده اوپه افغانستان باندې يومين سړی دی اوددې همدامينه اوليوالتياده، چې پښتوژبه يې زده کړې ده اوکاريې وربانداې کړی دی اونورهم غواړي چې په دې برخه کې ليکنې اوڅېړنې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳- دليكوال كلتوري څېړه

ښاغلی منوهر سنګهـ بتره يو كلتوري، سياسي، فرهنګي ،اجتماعي او ادبي شخصيت دي. نوموړی شخصيت هغه څوک دی، چې په هره برخه کې يې کارکړی دی اوله دې سره سره ژورناليستي کارونه يې هم کړي دي.

ددې ټولو کارونو تر څنګ يې د زده کړې په خاطر نورو هېوادونو ته يې سفرونه هم کړي دي .دنوموړي د سفرنو يوازينی علت دا دی، چې دی خپل معلومات ډېرکړي او په تاريخي اوفرهنګي برخوکې څېړنه وکړي ترڅوو کولی شي په دې برخه کې ګټوراودعلم اوپوهې نه ډک آثاروليکي اوټولنې ته يې وړاندې کړي.

نو ددې خبرو پر اساس او تاکيد د ښاغلي بتره ځينو کارونو او سفرونو ته سر ور څرګندوو، چې په دې برخه يې کړې دي.

### ۳-۱- بتره په افغانستان کې :

ښاغلي منوهر سنګهـ بتره څو ځلې افغانستان ته راغلی دی او علمي سفرونه يې کړي دي.بتره نه يوازې دا چې د پښتو زده کړې لپاره افغانستان ته راغلی دی او پښتو ژبه يې دلته زده کړې ده، بلکې په کنفرانسونو، سيمينارونو اونورو علمي بحثونو کې يې هم ګډون کړی دی.

ښاغلی بتره په ۱۹۲۳زکال کې کابل ته راغی اود ادبياتو په پوهنځی کې يې د پښتو ژبې په زده کړه پيل هم وکړ. د يوه کال زده کړې او هستوګنې وروسته بېرته ډيلي ته وګرځېد او د آل انډيا راډيو د پښتو څانګې د مشر په حيث يې وظيفه اشغال کړه.

ښاغلی بتره دخپلې هستوګنې په وخت کې د افغانستان بېلا بېلو تاريخي ځايونو ته تللی او نږدې نه يې هغه کتلې دي.( ۱۲:۴۴-۴۵ )

په همدې ډول تل افغانستان ته رابلل شوی دی او يا په خپله راغلی دی ځکه چې دی له افغانستان سره ډېره مينه لري اوتل غواړي، چې په علمي او کلتوري مجلسونو کې ګډون وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بتره په ۱۹۹۰ز کال په مارچ کې کابل ته راغلی او د خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي په سیمینار کې ګډون وکړو.(۱۹: ۲۰۷)

نوموړي په همدې ډول زیاترو کنفرانسونو او غونډو کې ګډون کړی دی او مقالې یې هم په کې لوستلې دي. دغه تکړه لیکوال او ژباړن په دېرې لیوالتیا سره په هر سیمینار کې ونډه اخېستې ده او په ډېرې لیوالتیا سره یې خپلې لیکنې په کې لوستې دي. د قدرور شخصیت د پښتو ملي مبارز او د سویلي پښتونخوا د پښتنو د ستر مشر اروابناد خان عبدالصمد خان اڅکزي د زوکړې اتیایمه کلیزه د ۱۳۲۸ل کال د حوت (کب) د میاشتې په وروستیو شپو ورځو کې د یوه بین المللي سیمینار په ترڅ کې ونمانځل شوه.

په دې سیمینار کې د هېواد د بېلا بېلو فرهنګي موسسو پوهانو، لیکوالو او فرهنګي شخصیتونو ګډون کړی و. له دې سربېره د هندوستان، پاکستان او پښتو او پښتونخوا ځینې پوهان او سیاسي ملي شخصیتونه هم دې سیمینار ته راغلي وو.

په دې علمي سیمینار کې ښاغلي بترا هم ونډه اخېستې وه او یوه علمي مقاله یې په کې ولوستله.

په همدې ډول د اروابناد خان عبدالصمد خان اڅکزي په دوو نورو سیمینارونو کې یې هم برخه اخېستې ده، چې یو په ۱۳۸۶ل یا ۲۰۰۷ز کال کې او بل په ۱۳۹۰ز کال کې جوړ شوي وو. په دې سیمینارونو کې ښاغلي منوهرسنګهـ بتره هم ګډون کړی و او دغه درې واړه سیمینارونه د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز له خوا جوړ شوي وو او بتره صیب په ځانګړي ډول راغوښتل شوی و.

نو په دې ډول بتره دوروستي ځل لپاره په ۱۳۹۰ز کال کې راغلی و او په دې علمي سیمینار کې یې په ډېره مینه برخه اخېستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۳-۲- بتره په آل انډیا راډیو کې :

لکه څرنګه چې په تېرو موضوعاتو او سرلیکونو کې وویل شول، چې ښاغلی منوهر سنګهـ بتره د هند په آل انډیا راډیو کې کار کړی او هلته د مشر په حیث تېر شوی دی.

نوموړي شخصیت په دې راډیو کې د پښتو ژبې او پښتنو لپاره ډېر کار په کې کړی دی او تل یې هڅه کړې ده، چې نوي نوي علمي، ښوونیزاو تفریحي پروګرامونه په پښتو ژبه جوړ کړي ترڅو د دې لارې پښتو ژبه پیاوړې شي او په نړیواله کچه خپل شهرت ترلاسه کړي.

نو په دې اساس او س دې ته راځو، چې د غه لوړ شخصیت په دې راډیو کې کومې کومې چارې کړې دي او په دې راډیو کې څومره پر مختګ په پښتو ژبه او ادبیاتو کې راغلی دی. پرته له دې، چې ښاغلی بتره په آل انډیا راډیو کې نطاق و بلکې ژباړه یې هم کړې دي.

بتره له ۱۹۵۰ز کال وروسته د آل انډیا راډیو ډیلي په څانګو کې د مامور په حیث وګومارل شو. په ۱۹۶۳ز کال کابل ته د پښتو د زده کړې لپاره راغی، په یوه کال کې یې دلته پښتو ژبه زده کړه او تر دې حده یې زده کړه، چې په کابل کې یې د خپل لومړني یو کلن اقامت په دوران کې له انګریزي او هندي ژبو له آثارو څخه په پښتو ژبه ترجمې کولې او پښتو آثار یې په انګریزي ژباړل.

کله چې بتره ډیلي ته ورغی، خپلو هڅو ته یې د پښتو ژبې او ادب په برخه کې دوام ورکړ. په دې ترڅ کې دې آل انډیا راډیو ډیلي کې د پښتو څانګې مشر شو.

پښتو څانګې دده د مشرۍ په دوران کې ډېره ترقي وکړه او ډېر اوریدونکي یې پیدا کړل او ښه مطالب په کې ایجاد شول.

بتره د دې څانګې لپاره هم د ځینو پښتنو شاعرانو او د افغان او هند د روابطو په خصوص د قدر وړ مقالې وکښلې، چې اوس هم د راډیو په ارشیف کې دده به خط موجودې دي.

بتره د پښتو څانګې له سوپروایزرۍ، د راډیو سټیشن دایرکټرۍ او د راډیو مرستیالۍ ته هم ورسېد او بیا متقاعد شو(۱۹:۲۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو په دې ډول د راډيو له خوا يې هم پښتو ژبې ته خدمت کړی دی او خپله مينه يې ښودلې ده او د همدې راډيو له خوا يې د هندوستان خلکو ته پښتو اورولې ده او د خلکو پام يې پښتو ژبې ته اړولی دی.
که چيرته فکرو کړو نو دده په شان به ډېر نور خبرونکي او ليکونکي هم پيدا شي ،چې دې قيمتي ژبې ته يې کار کړی وي او په بېلا بېلو لارو يې پراختيا ورښلې وي.

**۳-۳- بتره، پښتو او پښتانه** :

منوهر سنگهـ بتره چې په پښتو مين سړی دی، له ځوانۍ نه نيولې تر نن ورځې پورې يې پښتو ته خدمت کړی دی او کوي يې او **تل** غواړي ،چې پښتوژبې ته نوي څېړنې وکړي او نوي اختراعات په کې راولي او ملا يې ټينگه ورته تړلې ده.
نو موړي پښتو ژبې ته ډېر کار کړی دی او خپلې اړيکې يې ورسره ساتلې دي.
کله چې بتره په ۱۹۹۰ز کال کې کابل ته د خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزي سيمينار ته راغلی و نو ده په يوه مصاحبه کې د پښتو ژبې په اړه يې داسې څه ويلي وو، چې په لاندې ډول دي:
پښتو ډېره غني ژبه ده، مونږ ځکه ورته شتمنه وايو، چې پاخه متلونه، قوي متنونه او د يوه پاخه کلتوري ټولنې ښېگڼې او زيات مميزات په دې ژبه کې ځای لري.
د خپلې همدې عقيدې له مخې ده خپل ژوند د پښتو او پښتنو معرفي ته وقف کړی دی؛ په پښتو ژبه خواږه اشعار وايي، چې په اشعارو کې يې يو خاص توحيد او د سکهـ په مذهب روحاني پلوشې خپلې وزرې غوړوي.
دی آزاد او مقيد پښتو اشعار وايي خپل پښتو خواږه اشعار يې اورولي دي او نثر يې هم خوږ او کله ناکله د شعر درشل ته هم قدمونه ږدي.
دده د يو شعر دوه بيتونه دا دي:

زه هم رباب يم زه هم شهباز يم
شرنگی مې وا وره قصه پرداز يم
څوک په نړۍ کې زما منتظر دي
زه په خلا کې د درد آواز يم (۱۸: **۵-۲**)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې برخه کې زه د ښاغلي زړور د هغې لیکنې څو کرښې را اخلم، چې له منوهر سنګهـ بتره سره یې مخامخ کتلي او خبرې یې کړې دي. بتره صیب پښتو ډېره ستایلي او له خبرو څخه یې څرګند ېږي، چې له پښتو ژبې سره ډېره مینه لري، نو له هغه ځایه یې پیلوم چې زړور خونې ته ورځي او ورسره مخامخ کېږي او خبرې پېلوي.

ور مې خلاص کړ او ور ننوتلم ګورم، چې دی ناست دی او د خوشحال خان خټک د رباعیاتو کتاب یې په لاس کې دی. ځان مې ورته ور وپېژانده ډېر خوشحاله شوم. ما د واره ترې پوښتنه وکړه، چې بتره صیب لکه چې د خوشحال خان خټک بابا له اشعارو سره ډېره مینه لري که څنګه ؟

دی په فکر کې شو، چې څنګه ترې ما دومره ژر داسې په زړه پورې پوښتنه وکړه نو ویې ویل، چې هو ! زه د خوشحال خان خټک بابا له اشعارو سره ډېره مینه لرم او تل یې لولم او لوستلو نه یې خوند اخلم ده وویل: چې ما د خوشحال خان خټک ځینې اشعار په انګلیسي ژبه اړولې دي.

له ښاغلي بتره نه ما وغوښتل، چې د خوشحال خان د رباعیاتو نه کومه خوښه کړې رباعي ولولي ، ده د کتاب پاڼې واړولې را رواړولې او دا ښکلې رباعي یې خوښه کړه او ویې لوسته.

فکر مې وکړ ،چې دا انسانان دي
ځینې فرښتې دي ځینې شیطانان دي
ځینې سړي دي په خوی خصلت کې
ځینې بې شکه لکه دران دي

یوه بله رباعي یې هم خوښه کړه او ویې لوسته:

که عقل ورک شي له دې جهانه
هېڅ پاتې نشي زما جانه
هېڅ څوک به نه وایي چې نادان یم
هر یو به ښه ګڼي ځان له لقمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ښاغلي بتره سره زماله خبرو اترو څخه دا څرګنده شوه، چې دی په رښتیا سره د پښتو ژبې او ادب سره خورا مینه او علاقه لري، ده پښتو ژبه د ځان لپاره د یوه خارجي ژبې په حیث زده کړې ده.

ښاغلي بتره په پښتو ژبه ځینې اشعار لیکلي دي او د ژوند شګوار او رنګین اړخونه ډېر خوښوي او په خصوصي ډول د پښتنو دوستي، مینه او مېلمه پالنه ستایي.

ښاغلی بتره پخواني شاعران خوشحال بابا، رحمان بابا او حمید بابا ډېر خوښوي او له نورو شاعرانو سره هم ډېره مینه لري، که څوک ورته د پښتو کوم شاعریا لیکونکی وروپېژني نو دی پرې ډېر خوشحاله کېږي.( ۱۳: ۶۹-۷۰)

دمنوهر سنګهـ بتره له دې خبرو او مرکو څخه دا سې څرګند یږي، چې نوموړی هغه هندوستانی دی ،چې بې له شک او تردید څخه له پښتو ژبې او پښتنو سره خورا ډېره مینه لري او تل غواړي چې له پښتنو او پښتو ژبې سره اړیکه ولري او له دې کبله افغانستان ته هروخت علمي او تحقیقي سفرونه لري .دا په خپله یو غټ ثبوت دی د بتره د مینې له پښتو او پښتنو سره.نو له دې څخه ښکاري چې د هندوستان ټول خلک له افغانستان سره ډېره مینه لري او غواړي چې ښه مناسبات ورسره ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

دغه اثر چې (د منوهر سنگهـ بتره فرهنگي څېره) تر نامه لاندې ليکل شوی دی د ماستري تيزس دی او په دريو (۳) څپرکو کې بشپړ شوی دی.

ددې تيزس په لومړي څپرکي کې په هندوستان کې د پښتو ادبياتو په معاصره دوره باندې بحث شوی دی، يعنې په دې دوره کې پښتو ته څومره کار شوی او څومره پرمختگ يې کړی دی.

بل داچې په مطبوعاتو، رسنيو، آثارو، ديپارتمنتونو کې څومره پښتو شتون لري او کوم آثار په پښتو ژبه ليکل شوي او ژباړل شوي دي. دا ټول موضوعات په دې څپرکي کې راغلې دي.

له دې څخه چې تېر شو بله موضوع د بتره ژوند دی په دې کې راغلې دي، چې بترا په ۱۹۲۷ز کال کې په راولپنډۍ کې زيږيدلی دی او په ۱۹۴۷ز کال کې د هند د نيمې وچې قارې د وېش پرمهال هندوستان ته تللی دی او نومونړي په ۱۹۲۳ز کال کې په کابل پوهنتون کې د پښتو ژبې زده کړه پيل کړه او وروسته له هغې يې په پښتو ژبه آثار، ليکنې او ژباړې وليکلې او چاپ ته يې هم وړاندې کړې او په همدې څپرکي کې مې دده چاپ شوي او ناچاپ ليکنې راوړي دي.

دده ځينې چاپ شوي مقالې چې ما راوړي دادي: (خان عبدالصمد خان اڅکزی، د خان عبدالصمد خان اڅکزي د وفات د څلويښتم تلين په مناسبت، دامير کروړ ويارنه د اباسين سپيدې او داسې نور) آثار شته چې چاپ شوي دي.

په همدې ډول ناچاپ آثار هم لري لکه: (د هند آزادۍ په جدوجهد کې د پښتنو او بلوڅانو برخه، د شلمې پېړۍ د پښتو عظيم شاعر گل پاچا الفت، د هند او افغانستان ترمنځه لرغونې مناسبت) او داسې نور ناچاپ آثار او ليکنې لري.

په بل څپرکي کې دده د هغو کارونو ياد آوري شوې ده، چې افغانستان کې يې کړي دي، په آل انډيا راډيو کې يې دندې او مشري کړې ده.

پښتنو ته يې څومره کار کړی دی، دا ټول هغه موضوعات دي، چې په دې اثر يا تيزس کې راغلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې تيزس دليکلو او څېړلو په وخت کې مې د ډېرې نورې موندنې په فکر کې راغلې.

= پرته له منوهرسنګهـ بتره څخه مې د هندوستان د ځينو نورو ليکوالانو نومونه هم واورېدل ،چې پښتوژبې ته يې خدمت کړی او بايد دهغوی پرژوند هم څېړنې اوليکنې وشي.

= داهم جوته شوه ،چې منوهرسنګهـ بتره نه يوازې په پښتوژبه ليکنې کړي دي ،بلکې په هندي ،پنجابي، انګليسي او هسپانوي ژبويې هم ډېرڅه ليکلي دي.

= دمنوهرسنګهـ بتره له ژوند څخه پرته دده له دندو ،کارونو ،له چاپ اوناچاپو آثاروسره يې آشنا شوو.

= داهم څرګنده شوه ،چې بتره پرته له تاريخي ليکنوڅخه سياسي ،فرهنګي اوادبي ليکنې هم لري اودده ي ترڅنګ يې ژباړې هم کړې دي.

= دده له ليکنوڅخه داهم ښکاره شوه ،چې سره ډېره پردې چې دليکنوژبه يې ډېره ښه او سوچه ده ،بلکې ځينې نيمګړتياوې هم لري ،چې دانګليسي او اردوژبې تراغېزې لاندې ده.

= نه يوازې داچې نوموړي په رسمي سيمينارونو اوکنفرانسونوکې ګډون کړی دی ،بلکې په نوروراډيويي اوتلويزيوني خپرونواومرکويې هم ګډون کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مناقشه

په دې برخه کې هڅه کوو، ټولوهغوانګېرنواوپوښتنوته لنډځواب ووايو، چې دتيزس ددفاع پرمهال دناستوغړوپه ذهنونوکې پيدا کيږي.ښايي دبرودوستانوته دا پوښتنه پيدا شي، چې پـه خپلـه افغانسـتان کـې دېرپيـاوړي اوتکړه ليکوالان، څېړونکي اوپوهان شته اوبيا په هندوستان کې هم نورداسې پوهان موجود دي، چې پښتوژبې لپاره يې دېرکارونه اوليکنې کړي دي.نوولې يوازې په منوهرسنګه بتـره بانـدې دا اثرليکـل شـوی دی اوددې اثرارزښـت پـه څـه کـې دی؟څـه لامـل شول، چې نومـوړي پـه پښـتوژبه آثاراوليکنې وليکلې.دااثرکومې نيمګړتيـاوې اوښيګڼې لري اودژبې په لحاظ څه ډول دی؟

۱ – په هندوستان کې ډېرونامتوهندوستانيانوپښـتوژبې تـه کـارکړی دی.نو ولې يوازې دمنوهرسنګه بترهپه ژونداوآثارودااثرولیکل شو؟

ځواب: لکه څرنګه چې ټولوافغانانواوهنديانوته دا څرګنده ده، چې افغانستان اوهندوسـتان پـه تـاريخي لحـاظ ډېرلرغـونی اوپخـوانی تـاريخ لـري.دادواړه هېوادونـه دهنـد دنيمـې وچـې تـرويش اوهغـې نـه وروسـته تـرنن ورځـې پـورې ډېرکوچېدلي دي اوديوه اوبل په هېوادونوکې سره ميشت شوي دي اولـه همدې امله ډېروڅېړونکوپه پښتوژبه کارکړی دی اوليکنې يې کړي دي، چې په دې برخه کې ښاغلي هېوادمل صيب هم ډېرڅه کړي او اروابښاد پوهاند عبدالشکوررشاد او داسې نوروپوهانونومونـه اخېسـتلی شـو.داپه کـاردي، چـې دهرناپښـتانه هندوستاني پرژوندباندې، چې پښتوته يې کارکړی دی څېړنه وشي.

ددې اثرارزښت هم پـه دې کـې دی، چې ټول پوهانـد اونورپښـتانه پـه دې پـوه شـي، چې پرته له افغانانوڅخه بهرنيانوهم پښتوژبې ته خدمت کـړی، مقـالې اوآثـاريې ليکلي دي اوټولنې تـه وړانـدې کـړي دي.زه داوايم، چې بايـد پـه ټولوبهرنيانوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هندوستاني دي او که د بل کوم هېواد دي، چې پښتو ژبې ته يې کار کړی وي بايد څېړنه ورباندې وشي او د دوی پر ژوند باندې آثار وليکل شي.

۲ - د دې اثر د ليکلو موخه او ارزښت په څه کې دی او ولې دا اثر په يوه بهرني باندې ليکل شوی دی؟

ځواب: موخه او ارزښت يې دا دی، چې يو خوله بهرنيو پوهانو سره آشنا کېږو او له دې خبرېږو، چې پښتو ژبه دا سې يوه پر مختللې او پياوړې ژبه ده، چې پر ته له افغانانو څخه هنديان او نور بهرنيان هم مينه ورسره لري او هڅه کوي، چې زده يې کړي، آثار ورباندې وليکي او نور ژورناليستي کارونه ورباندې وکړي، تر څو پر مختللې شي او د نړيوالو ژبو په قطار کې و دريږي.

بل اړين ارزښت يې دا دی، چې هنديان او افغانان د ځينو تاريخي، فرهنګي او سياسي عواملو له امله يوه او بل هېواد ته کډه شوي دي. په همدې کډه شويو کورنيو کې شاعران، ليکوالان او څېړونکي تير شوي دي او هريوه اشعار، ليکنې او څېړنې کړي دي نو ځکه مو دا اثر وليکلو تر څو د دغه ليکوال له ژوند او آثارو څخه خبر شو او ويې پېژنو، چې نو موړی څو مره آثار لري.

پښتانه بايد په دې خبروي، چې د نړۍ په کوم ځای کې د پښتو ژبې کوم خواخوږی ليکوال د پښتو ژبې لپاره خدمت کوي. د هغوی د ژوند، آثار او ادبي هڅو په اړه بايد معلومات ولري. د دغو ليکوالو د هڅو، ادبي خدمتونو درناوی او احترام بايد وشي او بهرميشتي نا افغاني پښتو ليکوالان و هڅېږي او د دې ژبې ته د خدمت نورې آسانتياوې او چانسونه برابر شي او د همدې ارزښتونو پر بنسټ دا تيزس د منوهر سنګهـ بتره فرهنګي څېړه باندې بشپړ شوی دی.

۳ - ولې منوهر سنګهـ بتره ادبي، فرهنګي او هنري ليکنې کړي دي؟

ځواب: د دې تر ټولو علت دا دی، چې نو موړي کله چې پښتو ژبه په کابل پوهنتون کې زده کړه او وروسته له هغې يې په آل انديا راډيو کې دنده پيدا کړه نو همدې دندې له کبله دده مينه له پښتو ژبې سره زياته شوه او ورو ورو يې په پښتو ژبه ليکنې او ژباړې پيل کړې او په هره برخه کې ده ليکنې کړي دي او خوراډېر معلومات يې لاسته راوړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴ – منوهرسنګهـ بتره په کوموبرخوکې آثاراوليکنې کړې دي ؟**

ځواب: منوهرسنګهـ بتره په ادبي ،فرهنګي ،سياسي اوتاريخي برخوکې ليکنې اوآثارليسکلي دي او پرته له دې په انګليسي،هسپانوي ،عربي اواردوژبوهم ليکنې لري.همدارنګه نومورې له پښتونه انګليسي ته هم ژباړې کړي دي،لکه:داباسين سپېدې کتاب چې دښاغلي سليمان لايق اثردی اوبتره په انګليسي ژباړلی دی.بل داميرکروړوياړنه ده،چې په انګليسي ژبه يې ژباړلې ده اودپښتونومي مجله کې چاپ شوې ده.په همدې ډول نورې ډېرې ليکنې لري ،چې ټولې په همدې اثرکې ذکرشوې دي.

**۵ – دمنوهرسنګهـ بتره آثاردژبې له پلوه څه ښيګڼې اوڅه نيمګړتياوې لري؟**

ځواب: دمنوهرسنګهـ بتره دليکنواوآثاروارزښت اوښيګڼه په دې کې ده،چې له يوې خوا دپښتوژبې ادبي پانګه ده بايد خوندي وساتل شي.بل داچې ديوه هندي له خوا ليکل شوی اثردی،چې داپه خپله داجوتوي،چې پښتوژبه له هېوادڅخه بهرهم ډېرمينه وال لري اوداپه خپله دپښتوژبې لوی پرمختګ دی.

بل دا چې هغه موضوعات په کې څېړل شوي دي ،چې دهند اوافغانستان په اړه وي اوزياتره يې هغه ليکنې دي ،چې ددوی په اړيکوراڅرخيږي اودافغانستان ليکوالان اوشاعران په کې يادشوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نتیجه ګیري

«دمنوهرسنګهـ بتـره فرهنګـي څېـره»ترنامـه لانـدې هغـه اثردی، چـې دبتـره پرژوند ،دندو ،آثاروا وليکنوباندې بشپړ شوی دی. دااثرچې دماسترۍ دکورس تيزس دی په درو ۳ څپرکوکې ليکل شوی دی په دې اثرکې دمنوهرسنګهـ بتره ټول ژوندزده کړې اوآثارپه کې څرګندشوي دي.دهرڅپرکي په سرکې داصلي موضوع پـه اړه يولنډغونډې معلومـات وړانـدې شـوي دي اووروسـته بيـا اصـلي موضـوع راغلې ده.

= دموضوع په شاليد (پسمنظر)کې دهغوآثاروپيژندنه راغلې ده ،چې پـه دې اثرکې دموضوع پـه اړه ګټـه تـرې اخېستل شـوې ده. دڅيړنـې پـه پايلـه کـې داجوتـه شـوه، چې مخکـې لـه دې پـه دې نـوم کـوم بـل بشـپړاثرنه دی ليکـل شـوی، چې دمنوهرسنګهـ بتره ټول ژوند اوآثارپه کې راغلي وي،داد نوموړي پـه اړه يومکمـل اثردی. په علمي منظمه اواکاډيميکه توګه ليکل شوی دی.

= دمنوهرسنګهـ بتره دپيژندنې په ترڅ کې داښکاره شوه، چې بتره پـه اصل کـې دراولپنډۍ دی ،خودهنددنيمې وچې دويش په وخت کې هند ته تللی دی.
ترلسانس پورې په اسلام آباد کې و ،ليکن نورتحصيل يې په هندوستان کې بشپړ کړي دي.همدارنګه پـه آل انډيا راډيـوکې هم دمشرپه حيث يې دنده ترسره کړې اواوس مهال په جواهرلال نهروپوهنتون کې هم درس ورکوي.

= منوهرسنګهـ بتره دآثاروپه برخه کې داڅرګنده شوه، چې بتره چاپ اوناچاپ آثـارلري اوپرتـه لـه پښـتوپه نوروژبو ،لکـه:اردو ،انګليسي،هسـپانوي اوعربـي ژبوهم ليکنې لري.دبيلګې پـه توګـه ،لکـه:داباسين سپيدې ،تش،پـه افغانسـتان کـې کرکيچ،بزکشـي،پـه سـويلي آسـياکې دافغانسـتان نوعيت، پــه هنـدکې دافغانانوتاريخي آثاراوداسې نورونومونه اخيستی شو.

= دمنوهرسنګهـ بتـره دادبـي اوهنـري ليکنـودڅېړنې پـه برخـه کـې داجوتـه شوه، چې ددې ليکنوترڅنګ تحقيقي ليکنې اوژباړې هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

= د منوهر سنګهـ بتره د لیکنود کره کتنې په ترڅ کې دا څرګندہ شوه، چې د نوموړي آثار د پښتو ژبې له معیاري لیکدود سره لږ تو پیر لري، چې ځینې کلمې نا سمې لیکل شوي ، یعنې په معیاري لیکدود نه دي لیکل شوي.

= دا تیزس په پښتو ادب کې د موضوع په اړه له پخوانیو ترسره شویو آثارو سره بشپړ تو پیر لري، یعنې په بشپړ ډول نوښت اونوی والی لري.

د منوهر سنګهـ بتره ژوند ،ادبي او تاریخي هڅې یې په منظم ډول دیوه اثر په توګه له نورو معتبرو مأخذونو څخه اخیستي دي او دیوې علمي او څېړنیزو اصولو په پام کې نیولو سره یې څېړنې بشپړ کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړاندیزونه

«د منو هر سنګهـ بتـره فرهنګـي څیـره »ترنامـه لانـدې د دې تیـزس د لیکلـو او بشپړولو په بهیر کې زه له ډیرو پیښو ،فکرونو او ستونزو سره مخامخ شوم او ډېرې ستونزې مې د دې تیزس په څیړنو کې ولیدې نـو اوس زه غـواړم ،چې یو څـو دانې لـه تاسو سره شریکې کړم.

۱- بایـد د ټولو بهرنیو هېوادونو لیکوالان او پوهـان چـې پښـتوژبې تـه یـې کارکړی او آثاریې لیکلي دي.زموږ د لیکوالانو او څیړنکو له خوا راټول او د یوه اثرپـه توګه چاپ شي.

۲- هر څیړونکـی چـې د دې ډول پوهانو پرژونـد او آثارو لیکنې کوي.پرتـه لـه دې، چې دا اثرپه توګه چاپ کیږي باید په انترنیټي سایټونو کې هم واچول شي، ځکه ځینې داسې کسان شته ،چې کتاب ته لاس رسی نه لري نو هغـوی کـولی شي، چې دانټرنیټ له خوا یې لاسته راوړي او یا ځینې دي ،چې د کتـاب لـه لوري یې لاسـته راوړی شي.

۳- زما بله هیله داده، چې د غه تیزس که چیرته غـواړی، چې ټولو مینـه والو تـه ورسیږي نو که چیرته د علوموا کاډمی له خوا چاپ شي.ډېربه ښه وي ځکه ټولو مینه والو ته به ورسیږي.

۴- بل دا چې بایـد د ښاغلي منو هرسنګهـ بتـره پـه اړه د علمـي موسسـو لـه خـوا یو ځانګړی سیمینار جوړ کړی شي .ځکه نوموړي شـخص پـه پښـتوژبه پـه هـره برخـه کې لکه: سیاسي ،فرهنګي ،تاریخي او ادبي کې کارکړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اخځلیکونه

۱- بتره-منوهرسنګهـ .(۱۳۸۷ل).دننګ اوفرهنګ اتل،کابل،دافغانستان دعلوموااکاډمی ، دسیمه ییزومطالعاتومرکز،اسددانش مطبعه.

۲-بتره-منوهرسنګهـ.(۱۳۹۱ل).دپوهې اوخپلواکۍ لاروی،دافغانستان دعلوموااکاډمی، دسیمه ییزومطالعاتومرکز،اسددانش مطبعه .

۳-بتره-منوهرسنګهـ.(۱۳۷۰ل).خان شهیدیاد ، کابل، دسرحداتو چارو وزارت دنشراتواوفرهنګي چارورياست،دولتي مطبعه.

۴-بتره –منوهرسنګهـ.(۲۰۰۹ ز ).په افغانستان کې کړکیچ،هندوستان ،پنجابي ټربیيون ورځپاڼه .

۵-بتره- منوهرسنګهـ .(۱۹۹۲ز). له کافرستان څخه ترنورستان پورې،هندوستان،لوی زمانه ورځپاڼه.

۶- بتره،منوهرسنګهـ يادښتونه.

۷-بتره-منوهر سنګهـ،ناچاپ آثار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- بینوا-عبدالروف.(۱۹۲۳ز). یویتیم ماشوم،ژباړن- منوهرسنګهـ بتره، هندوستان، LMES ورځپاڼه.

۹- حبیبي-عبدالحی.(۱۹۲۴ز). Amir Kror،ژباړن- منوهرسنګهـ بتره، کابل، افغانستان مجله،لومړۍ ګڼه، دولتي مطبعه.

۱۰- دآل انډیاراډیوبهرنۍ څانګه.

۱۱- دبتره رالیږل شوی ایمېل ماته.

۱۲- رحیم-عبدالرحیم.(۱۳۵۳ل). په خارج کښې پښتوخپرونکي، کابل، پښتو ټولنه.

۱۳-زړور.(۱۳۵۲ل).منوهرسنګهـ بتره، کابل«مجله»،دویمه ګڼه، کابل، دافغانستان علوموااکاډمي، دولتي مطبعه.

۱۴- ظهورالدین-ډاکټر.(۱۳۴۳ل).پیرروښان بایزیدانصاري،ژباړن- منوهرسنګهـ بتره، کابل مجله، پرله پسې ګڼې۱-۲، کابل- پښتوټولنه.

۱۵- نامعلوم اثر.

۱۶- نامعلوم اثر.

۱۷- نیازی-رفیع الله.(۱۳۹۱ل). پښتوژبې ته دروشن لال ملهوتره خدمتونه،(دماستری تیزس)،ناچاپ اثر.

۱۸-هند لید- مجله-(۲۰۱۲م).نوی ډیلي- پنځه ویشتمه دوره-۱۲ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹-هېوادمـــــل-زلمـــــی.(۱۳۷۳ل). پـــــه هنـــــد کې د پښـــــتوژبې اوادبیاتودایجاداوودې پړاوونه،دویم چاپ،لاهور-شرکت پرنټینګ پریس.

۲۰- Manohar Sing Batra, The Dawn over Abasin,Printedby by.M\S.Printograph,Karol Bagh, New Delhi-۲۰۱۱,۱۴۹ peg]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیلیزه

زه د ماستری د کورس په لومړي ټولګي کې وم، چې د تیزس د موضوع په فکر کې شوم او غوښتل مې ،چې یوه نوې ،څېړنیزه او ګټوره موضوع باندې څېړنه وکړم. نو همدا وه، چې د څو خوښې کړو موضوعګانو وروسته زلمي هېواد مل همدا موضوع ( د منوهر سنګهـ بتره فرهنګي څېره ) راته خوښه کړه.

کله مې چې ددې موضوع سرلیک ولید ،نو ډېر مې خوښ شو ،ځکه چې هم څېړنیزو ، هم نوی او تر اوسه پورې چا ور باندې کار هم نه وکړی.نو همدا وه، چې ما ژر ژر ددې موضوع سرلیک او لړ لیک د کابل پوهنتون علمي بورډ ته واستول.

څرنګه، چې دا موضوع نوې او څېړنیزه وه اوهم بل چا ورباندې کارنه وکړی.د غونډې وروسته د بورډ غړیو ،استازو او استادانو له خوا ومنل شوه.ځکه دوی ته هم ډېره په زړه پورې اونوې وه.

وروسته له منلو څخه مې د ځینو ستونزو اودموادودکمبودله امله مې ونشو کولی، چې دا موضوع ژر پوره کړم ،نو داده اوس مې د خدای په فضل او د هېواد مل په ملتیا او د نورو همکارانو او استادانو په مرسته وشول کولی ،چې دا موضوع بشپړه کړم.

ددې تیزس په بشپړېدو کې هېواد مل، عبدالغفورلېوال، رفیع الله نیازي او نورو ډېرو استادانو اودوستانو مرسته راسره کړې ده. همدا رنګه په خپله دبتره مرسته هم نه هیرېدونکې ده اوله نومورې سره په اړیکه کې هم ماخپل معلومات

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسته راوړي دي. همدارازددې موضوع دڅېړلوپه وخت کې ډېروکتابخانوته هم تللې یم.

که څه هم زه بایدددې موضوع دموادواوڅېړنې لپاره یوځل دهندوستان هېواد ته تللې وای اوپه خپله مې له بتره سره لیدنه کتنه کړې وای اوهغه مهم تاریخي ځایونه چې دبتره په لیکنوکې یادشوي دي لیدلې وای؛لیکن دنه امکان له مخې مې ونشوکولی،چې هندوستان ته سفروکړم.خوبیا مې هم ددوستانوله برکته وشوکولی ،چې له هندوستان هېوادڅخه خپل موادترلاسه کړم اوتیزس مې بشپړ کړم.

نو زه له دغو قدرو ړښاغلو،دوستانو اواستادانوڅخه ډېره ډېره زیاته مننه کوم ،چې په دې برخه کې یې له خپل وسه پورې له دې بنده سره مرسته کړې ده اود وی له برکته مې خپل تیزس ته دپای ټکی اېښی دی اوهیله لرم ،چې تاسولوستونکوته دلوستلوړوې اوګټه ترې واخلی.

په درنښت

مینا مسعوده (نیکیار)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډيز

«د منوهر سنګهـ بتره فرهنګي ځيره» ترنامه لاندې د تيزس دا اثر، چې يو تولنيز، تاريخي او څېړنيز اثر دی. په درو ۳ څپرکو يا فصلونو کې بشپړ شوی دی.دا اثر له يوې اوږدې څېړنې څخه وروسته مکمل شوا و هر څپرکی يې بيله موضوع لري.

په لومړي سرکې پيليزه ده، په پيليزه کې راغلې دي ، چې د ماسترۍ د کورس په پيل کې هرزده کوونکی بايد تيزس وليکي.دا موضوع د لارښود استاد په مرسته ليکل کيږي او د پوهنتون د بورډ د ډلې له خوا منل کيږي.

نو د دې خبرې پر بنسټ ما هم دا موضوع د زلمي هېوادمل په مرسته او همکاری بشپړه کړه او د موادو په راټولولو مې پيل وکړ.د دې اثر زيا تره مواد په خپله هېوادمل او رفيع اله نيازي په مرسته مې لاسته رواړي دي.

وروسته له دې مې په اصلي موضوع پيل کړی دی او ورپسې د موضوع شاليد دی، په شاليد کې هغه کتابونه او ليکنې چې د منوهر سنګهـ بتره د ژوند په اړه معلومات په کې راغلې دي، معرفي شوي دي، لکه: په هند کې د پښتو ژبې او ادبيا تو د ايجاد او ودې پړاوونه، د اباسين سپيدې، منوهر سنګهـ بتره او د اسې نور و نو مونه اخېستلی شو.

منوهر سنګهـ بتره د هند د نوي ډيلي او سېدونکی دی او په اصل کې په ۱۹۲۷ز کال کې په راولپنډۍ کې زېږېدلی دی او په ۱۹۴۷ ز کال کې د نيمې وچې قارې دويش په وخت کې له پاکستان څخه هند ته ولاړ او ترنن ورځې پورې په نوي ډيلي کې ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترلسانسه پورې په راولپنډۍ کې او ماستري يې له پنجاب څخه اخېستې ده.ښاغلي بتره په ۱۹۲۳ زکال کې کابل ته راغی او د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځۍ کې د پښتوژبې زده کړه يې پيل کړه.د يوه کال د زده کړې نه وروسته بېرته ډيلي ته لاړ او هلته د آل انډيا راډيو د مشر په توګه مقررشو.

نوموړی له (جي،ان ناندا )سره په ګډه د Resurgent Wide ترنامه لاندې يو کتاب ليکلی دی او همدارنګه(انګليسي ته د پښتو شعرونو ژباړه ) به يې د پرژرد کتاب په بڼه راووځي.د دې کتابونو ترڅنګ نورې ليکنې هم لري ،لکه: پيرروښان بايزيد انصاري ، د امير کرور وياړنه، بزکشي، تش، د هنديانو او د پښتنو ترمنځه يووالی ،دفخرافغان خان عبدالغفارخان په ياد او وياړ کې،دهند او فن او کلتور په ارتقا کې د پښتنو برخه،دهند د آزادۍ په جد او جهد کې د پښتنو او د بلوڅانو برخه او د اسې نورچاپ او ناچاپ آثارلري.

د منوهرسنګهـ بتره په ليکنو کې ادبي،تاريخي،فرهنګي ،سياسي او ژباړې موجودې دي او د ژبنې اړخ له مخې هم ځينې نيمګړتياوې لري خو ډېرې نه دي.

داچې منوهرسنګهـ بتره له ټولو پښتنو ليکوالانو او څېړونکو سره مينه درلوده او غوښتل يې ،چې ټولې ادبي څېرې په ټولو معنا وسره وپيژني،ده خپله څېړنه او تحقيق پرېښبودل او تل يې هڅه کړې ده ،چې ددوی په اړه خپل معلومات بشپړ او پوره کړي.مقالې او آثارورباندې وليکي او ټولنې ته يې وړاندې کړي .ترڅو وګړي يوه ګټوره استفاده ترې واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (عرب شاه چمتو ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوالې او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د (منوهر سنګ بتره) فرهنګي څېره



مینا مسعوده نېکیار

۱۳۹۴ لمریز کال

د افغانستان ملي تحریک

www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۷۳

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**